د افغان هوتکي پاڅون د درېیمې سوومې کلیزې جشن
۱۷۰۵_۲۰۰۵
د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

# میرویس نیکه



PDFBOOKSFREE.PK

لیکوال
عبدالروف بېنوا

سریزه او لمنلیکونه
محمد معصوم هوتک

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

# میرویس نیکه

لیکوال

عبدالروف بېنوا

سریزه او لمن لیکونه

محمد معصوم هوتک

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## د کتاب ځانګړني:


د کتاب نوم :: **میرویس نیکه**

لیکوال :: عبدالروف بېنوا

سریزه او لمنلیکونه:: محمد معصوم هوتك

خپروونی :: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

لومړی چاپ :: ۱۳۲۵ لمریز (پښتو ټولنه ـ کابل)

دويم چاپ :: ۱۳۸۴ لمریز (۲۰۰۵ ع)

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

د خپرونو لړ :: (۷۴)

کمپوز :: ذبیح الله شفق

چاپ او کمپيوټر ځی

د دانش خپرندویې ټولنې تخنيکي څانګه ـ پېښور


Tel:+92-91-2564513/Email:danish2k2000@yahoo.com

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

# د خپرندويې ټولنې يادښت

د اروانښاد استاد عبدالروف بېنوا دغه تاريخي اثر، چې ډېر کلونه وړاندې د "ميرويس نيکه" په نوم په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپور شوی دی، نه يوازې په هغو کلونو کې د افغانستان د تاريخ د يوې نوې او مهمې پاڼې په راسپړلو کې مهم و، دا دی له دغو اوږدو کلونو وروسته هم د وطن د تاريخ د ځوان نسل مينه والو لپاره هم د پوره علاقې او استفادې وړ دی.

سږ کال، چې په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه په يو وخت په جرمني او کندهار کې د هوتکي-افغاني پاڅون د پيلامې د درې سومې کاليزې لمانځنې ته چمتو کېږي، د خوښۍ ځای دی، چې د اروانښاد استاد بېنوا دغه مهم اثر يو ځل بيا د چاپ پر ګاڼه سمبالېږي، ځکه چې دغه کتاب اوس زموږ لپاره د نادرو چاپي کتابونو په لړ کې خپل ځانګړې ارزښت لري.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

نوميالي افغان څېړونکي او ليکوال ښاغلي محمد معصوم هوتك د "ميرويس نيکه" په نوم پر دغه اثر ارزښتناکه سريزه کښلې او دغه راز يې ځينې نښلونې هم ورپورې نښلولې دي، چې ټولنه ترې په ځانګړې توګه مننه کوي. ښاغلي هوتك په عمومي توګه ددغې کاليزې د لمانځنې په کار کې وخت په وخت د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې ته ګټورې مشورې ورکړې دي.

افغان هوتکي پاڅون، د افغانستان د نوي تاريخ د پيلامې د وياړ يو ځپرکی دی، په دغه برخه کې هرې څېړنې. هرې هڅې ته د قدر په سترګه کتل په کار دي. اروابناد استاد بېنوا هماغه وخت لا داسې د قدر وړ يو ملي ګام پورته کړی دی او لکه چې هغه په خپله سريزه کې هم اشاره ورته کړې ده، دا يې يو نه هېرېدونکي "ملي خدمت" دی، چې اوږده کلونه وروسته يې هم افغانان په درنښت سره يادوي او په دې توګه ورسره د هغه اروابناد يادونه هم تلپاتې کېږي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

مارچ ۲۰۰۵ (وری ۱۳۸۴ل)

جرمني، د کولن ښار

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# د سریزې پرځای

د سږ کال د جنورۍ میاشتې په سر کې مې د ټیلفون پر لیکه له ښاغلي زرین انځور سره د هغه سیمینار د کار په باب خبرې کولې، چې ټاکل سوې ده د روان کال په اوړدو کې به د هوتکي غورځنګ د پیلامې د درې سومې کالیزې په ویاړ په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې په نوښت او همت جوړ سي. د موضوعاتو د ټاکلو او د یو شمېر کتابو د چاپولو په برخه کې مو ښې اوږدې خبرې وکړې. ښاغلي انځور د اروابښاد استاد بېنوا (۱۲۹۳_۱۳۶۳ش) د "میرویس نیکه" د کتاب د بیا چاپولو خبره رامنځ ته کړه او ددغه اثر د بیا کتنې کار یې زما پر اوږه راواچاوه. وسره "ښه" مې کړه.

د "میرویس نیکه" کتاب اروابښاد استاد بېنوا له نن څخه دوه کم شپېته کاله وړاندې کښلی دی او دا داسې وخت دی، چې په افغانستان کې د هوتکي غورځنګ په باب پښتو آثار

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



یا د پښتنو په قلم لیکل سوي آثار تقریباً د (هېخ) په شمېر کې راتلل. تر دغه اثر وړاندې مونږ د خوشال خان ختټك (۱۰۲۲_۱۱۰۰هـ ق) د دانشمند او متعهد لمسي افضل خان ختټك (۱۱۵۳هـ ق مړ) په تاریخ مرصع کې موجز معلومات لرو. افضل خان ختټك د میرویس نیکه معاصر مورخ دی. ده په تاریخ مرصع کې د "ذکر میرویس غلجي" تر سرلیك لاندې د هوتکو، چې دی یې (اوتك) بولي، دغه راز د کندهار په شاوخوا کې د مېشتو پښتنو قومونو لکه اودل، غلجي او ترین په باب بیان لري او وریسې د اودلو پښتنو او د ایران او هند له پاچهیو سره د هغو پر اړیکو لنډه تبصره کوي. وروسته بیا د میرویس او د کندهار د (صوبه دار)، چې مراد یې ګرګین دی، د اړیکو پر وړانېدو، د ایران پادشاه ته د میرویس په باب د صوبه دار د شکایت او اصفهان ته د میرویس د تګ، بیت الله شریف ته د میرویس د تلو او بېرته خپل هېواد ته د راستنېدو، په کندهار کې د شاهنواز خان ګرجي د ظلم او تعدي، د میرویس په مشرۍ د پښتنو په لاس د شاهنواز خان او درېو زرو ګرجیو د وژلو، د مال و خزانې د ترلاسه کولو، د اورنګزېب د زوی بهادر شاه دربار ته د میرویس نیکه د وراره د استولو، د هغه له خوا میرویس ته "د اسم دپاره" د پنجهزاري منصب ورکولو او د کندهار د حواله کولو او په پای کې پر میرویس باندې د دوه درې ځله د "ایران عظیم فوځونو"، چې "دېرش دېرش، ځلوېښت ځلوېښت زره سواره وو" د راتللو او هغو ته د ماتې ورکولو لنډ شانته بیان راغلی دی او په پای

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کې وايي "تر دا تاریخ چې سنه زر سل شل څلور دی په قندهار ناست خپل حکومت او سرداري کا ، توفیق يې رفیق شه! ښه پښتون دی". (۱)

تر تاریخ مرصع وروسته نو بیا موږ د امیر شېر علیخان د پاچهۍ په حدودو کې د هوتکي دورې په باب د علامه سید جمال الدین افغاني "تتمة البیان فی تاریخ الافغان، تواریخ خورشید جهان او په تعقیب يې د سلطان محمد خان خالص تاریخ سلطاني لرو.

په تتمه البیان فی تاریخ افغان کې په کندهار کې د ګرګین د مظالمو او د میرویس نیکه د مجادلو، په اصفهان کې د شاه محمود هوتك او شاه اشرف هوتك پاچهۍ او د افشار نادر په لاس د کندهار د سقوط تر وخته پورې حالات ښه پوره څیرل سوي دي. ماته داسې ښکاري چې د علامه سید مآخذ به پر داخلي روایاتو سربېره اروپایي او ایراني منابع هم وي. تتمه البیان فی تاریخ الافغان په دري او پښتو ژبو ترجمه سوی دی. دري ترجمه يې اروابناد مولوي محمد امین خوګیاڼي سرته رسولې او په ۱۳۱۸ ش چاپ سوې ده(۲). پښتو ژباړه د محمد یوسف منصور په قلم سوې او په ۱۹۷۹ع کال د بلوچستان له پښتو اکېډیمي کوټې څخه خپره سوې ده.

تواریخ خورشید جهان د پښتانه مؤلف شیر محمد خان ګنډاپور لیکنه ده، چې د هوتکو د نسبي رېښې او دغه راز د هوتکو د پاچهۍ په باب نسبتاً مفصل بیان لري. تواریخ خورشید جهان په ۱۸۹۴ع کال له چاپه راوتلی دی. مولف يې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



وايي چې تر دغه کتاب وړاندې ده د ګلشن افغاني په نامه د پښتنو د اصل و نسب او تاريخ په باب يوه رساله کښلې وه. دا رساله د هندوستان د انګرېزي ګورنمنټ مير منشي پنډت من پهول صاحب د کتلو لپاره ځنې وغوښته. چې وروسته بيا د مسټر ګريفن صاحب بهادر لاس ته ورغله او د هغه په توسط د بنو د سيمې اکسټرا اسيسټينټ کميشنر محمد حيات خان ته ورسېده او هغه يخپل کتاب حيات افغاني کې مدغم او چاپ کړه[۳]. حيات افغاني د پښتنو او افغانستان په باب د کيفيت او کميت په لحاظ يو غټ کتاب دی، چې د ليکلو وخت يې په افغانستان کې د امير شېر عليخان د سلطنت له دوهم کال سره برابر دی (وګورئ: ددغه کتاب د پښتو ژباړې الف مخ). دا کتاب ښاغلو محقق فرهاد ظريفي او محقق عبداللطيف طالبي له اردو څخه (غالباً) په پښتو ژباړلی او په ۱۳۷۰ ش کال د افغانستان د سرحدونو چارو وزارت د نشراتو او فرنګي چارو رياست له خوا په درو ټوکو کې خپور سوی دی. سريزه، تحشيه او تعليقات يې اروا ښاد علامه اکاډمېسين عبدالشکور رشاد (۱۳۰۰_۱۳۸۳ ش) کښلي دي. په حيات افغاني کې له ميرويس نيکه څخه تر شاه حسين هوتکه پورې د ټول تاريخي دوران په باب څه دپاسه پنځوس کرښې (د پښتو ژباړې په حساب) اومه او نيمګړې روايتونه ليکل سوي دي.

تواريخ خورشيد جهان د ګرګين پرخلاف د ميرويس نيکه د مبارزو، له صفوي تسلط څخه د کندهار د آزادۍ او وريسې د پارس له لښکرو سره د ميرويس نيکه د جګړو او دغه راز د

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



میرویس نیکه تر وفات وروسته د میر عبدالعزیز او وروسته د شاه محمود هوتك د پاچا کېدو او د هغه په لاس د اصفهان د فتحه کولو جریانات د شاه اشرف هوتك د پاچهی تر پایه پورې نسبتاً تفصیلي خبرې لري (له ۱۳۲ مخ څخه تر ۱۳۶ مخ پورې) خو د شاه حسین هوتك یادونه د افشار نادر په لاس د کندهار د نیولو په برخه کې راوړي (۱۵۸_۱۵۹ مخونه) د تواریخ خورشید جهان مولف د میرویس نیکه د وخت د حالاتو د بیانولو په ترڅ کې لیکي:"... سلطان اویس تا مدت هشت سال چنانچه شرح وقایع عهدش در تاریخ عربی سلطان اویس شرح وار مرقوم است در قندهار و متعلقات آن حکمران مانده..."(۴). له امکانه لیرې نه ده چې ددغه عربي تاریخ څخه به مراد د سید جمال الدین افغان د تتمة البیان فی تاریخ الافغان کومه خطي نسخه وي.

تاریخ سلطاني د بارکزي سلطان محمد خان خالص لیکنه ده چې په کندهار کې د میوند د زمري غازي محمد ایوب خان د واکمنی پر وخت (۱۲۸۱هـ ق) لیکل سوی دی. په دغه تاریخ کې د هوتکو دوره ښه مفصله تشریح سوې ده. تاریخ سلطاني په ۱۲۹۸ هـ ق کال په بمبیې کې چاپ سوی دی.

په دې لړ کې د کلونل مالیسن Colonel Malleson په لاس لیکل سوی "تاریخ افغانستان" هم په یادولو ارزي. دا کتاب که څه هم نوموړي انګریز په انګلیسي ژبه کښلی، خو د پېښور منشي احمد جان په پښتو ژباړلی او په ۱۹۳۰ع کال په لاهور کې چاپ سوی دی. ددغه تاریخ د شپږم باب وروستي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پنځه ویشت مخه او اووم باب تول اته د پرش مخه د (غلزو پادشاهي) تر سرلیك لاندې د هوتکو دورې ته بېل سوي دي. په دې تاریخ کې نه پوهېږم ولې د میرویس نیکه نوم د (میر واعظ) په شکل لیکل سوی دی؟.

تر دې آثارو راوروسته نو د پټې خزانې د خپرېدو له لارې مور ته د هوتکو غورځنګ زیاتې برخې روښانه سوي دي.

د اروانباد استاد بېنوا (میرویس نیکه) د هوتکي خوځښت په باب لومړنی پښتو اثر دی، چې د هغه وخت د موجودو او مېسرو کورنیو او بهرنیو مدارکو پر بنسټ لیکل سوی دی. په دې کتاب کې له درو دېرشو معتبرو افغاني، ایراني، هندي او اروپايي منابعو څخه استفاده سوې ده. حوالې یې له یوه مورد پرته نورې ټولې مستندې او ثقه دي. دغه مورد د هغه کتاب دی، چې اروانباد استاد یې کله د (افغان اوفارس جګړه)، کله (د فارس او افغان جنګ) او کله بیا (د افغان اوفارس جنګ) بولي او انګرېزي ژباړونکی یې د (جارج نیون هام فورډ اسحاق) په نامه راپېژني.

اروانباد بېنوا لیکي، چې نوموړي جارج دا کتاب "...له لاتیني څخه په انګلیسي ترجمه کړی او لاتیني بیا د ترکیې څخه ترجمه کړی، چې ترکي مولف د میرویس نیکه په وخت کې د اصفهان په دربار کې و او اوس یې ښاغلی سید مسعود خان په پارسي ترجمه کوي او څو مخه خپله ترجمه یې ماته راکړې وه. ډېر تشکر ځنې کوم[٥]. د ترکي ترجمې نوم یې د جلا ماخذ په توګه هم اخلي او (افغان تاریخي) یې بولي او زیاتوي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چې دغه کتاب "په ترکي ژبه دی چې په لاتیني ژبه ترجمه شوی دی او د هغه څخه بیا د (افغان او پارس جګړه) ترجمه شوی دی، چې د فاضل محمد صالح خان په کتبخانه اړه لري"[۶].

زما د څېړنې له مخې دا کتاب، چې ارواښاد بېنوا یې موږ ته د افغان او پارس د جګړې په نامه راښیي، هماغه مشهور تاریخي یاداښتونه دي چې په اصفهان کې د استوګن پولینډي مسیحي مبلغ کروسینسکي له خوا لیکل سوي او په افغاني نشراتو کې یې د (تاریخ سیاح مسیحي) په نامه پېژنو. د هوتکو د دورې ټول کورني او بهرني څېړونکي په دې پوهېږي، چې ددغه مسیحي مبلغ یاداښتونه، چې په اصفهان کې یې د صفوي دورې د وروستي پاچا سلطان حسین صفوي او افغاني شهنشاه محمود هوتکي د واکمنۍ په وخت کې راغونډ کړي دي، ددغې دورې د ټولو وروستیو لیکنو لپاره د اساسي ماخذ حیثیت لري، خو په دې څوك لږ خبر دي، چې دا یاداښتونه د ارواښاد بېنوا د "میرویس نیکه" د کتاب لپاره هم یو اساسي ریفرنس و. محقق فقیر محمد خیر خواه، چې د کروسینسکي د تاریخ پارسي ژباړه بصیرتنامه یا عبرتنامه یې له مقدمې، تصحیح، تحشیې او تعلیق سره بیا چاپ کړې ده، لیکي:"چنانچه محترم استاد بېنوا باوجود سعی زیاد نتوانستند در نوشتن کتاب (هوتکی ها) ازین اثر ارزښتمند استفاده نمایند. پس مجبور اثر خود را باهمان منابع دست داشته بچاپ رسانیدند"[۷]. بناغلي لوستونکي به د "میرویس نیکه" په دانوي چاپ کې وګوري، چې ارواښاد بېنوا د

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



"هوتکي ها" تر لیکلو لس کاله وړاندې، بې له دې چې د کروسینسکي د نامه یادونه دې یې کړې وي، له همدې (اثر ارزشمند) یعنې د کروسینسکي له تاریخ څخه استفاده کړې وه.

د اروابناد بېنوا دا خبره، چې "د ترکي مولف د میرویس نیکه په وخت کې د اصفهان په دربار کې و" ماته د تامل وړ ده او فکر کوم ددغو یادابنتو لیکونکی کروسینسکي د هغو له ترکي ژباړونکي سره مغالطه سوی دی. ددې خبرې د سپیناوي لپاره به بده نه وي، چې د کروسینسکي او یادابنتو په باب یې یو څه روښا واچوله سي.

تادوزیوداکروسینسکي (۱۶۷۵_۱۷۵۶ع) پولینډي اصله مسیحي مبلغ و چې له ۱۷۰۷ع کال څخه تر ۱۷۲۵ع کال پورې پوره اتلس کاله په اصفهان کې د مسیحیت په تبلیغ تېر کړي دي. نوموړي پر ختیځو ژبو پوره تسلط درلود او دې کمال په صفوي دربار کې دده اعتبار ډېر لوړ کړی و او د همدې اعتبار له امله بیا دده یادابنتو ته هم په ډېره بنه سترګه کتل سوي دي. کروسینسکي په ۱۷۲۶ع کال له پارسه ترکیې ته ولاړ او له هغه ځایه رودستوف ته ستون سو. څو کاله یې هورې تېر کړل او په دې کلونو کې یې په پارس کې خپل خاطرات او سفرنامه په لاتیني ژبه وکښه. ویل کېږي، چې همدغه سفرنامه په روم کې خپره سوه(۱۷۲۷ع). ددغه چاپ نسخه اوس په لاس کې نسته، خو خپرونکي د هغه له نامه سره ددغه کتاب د فرانسوي ژباړې د لوستلو له لارې اشنا سوي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



دي. دغه فرانسوي ژباړه د خپرېدو په هماغه کال په انګليسي ژبه ژباړل سوې او تر هغه وروسته په نورو اروپايي ژبو (هالينډي، جرمني، توركي او پارسي) ترجمه سوې ده. توركي ترجمه يې بيا په لايپزيك كې په لاتيني ژبه ژباړل سوې ده او له همدې لاتيني ژباړې څخه بيا جورج نيونهام ميتفورډ (George Newnham Mitford) په انګليسي ژباړلې ده، چې كاپي يې زما سره سته. ددغې ژباړې نوم يې داسې دی:

The Chronicles of A Traveller
Or
A History of the Afghan Wars with Persia
In The Beginning of the Last Century
From Their Commencements to the Association of Sultan Ashruff

ارواښاد استاد بېنوا چې د افغان و پارس د جګړې د كتاب كومه يادونه او حوالې لري، مقصد يې همدغه انګليسي ژباړه ده [۸]. ارواښاد بېنوا ددغه ماخذ د حوالو په ترڅ كې د هغه د مخونو د نمرې ځای تش پرې ايښی دی او دا څكه چې اصل ماخذ يې په لاس كې نه و، بلكې د سيد مسعود خان د پارسي ترجمې څو پاڼې يې په واك كې وې. په حاضر متن كې د مخونو نمرې ما (هوتك) پر زياتې كړې دي.

د ارواښاد استاد بېنوا "ميرويس نيكه" نومي كتاب په ۱۳۲۵ش كال د كابل پښتو ټولنې له - عمومي مطبعه كې د يو زر ټوكو په تيراژ خپور سوی دی او په تعقيب يې د "هوتكي ها" په نامه د هوتكو د دورې نسبتاً بشپړ تاريخ په دري ژبه د افغانستان د تاريخ انجمن له خوا خپور سوی دی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



دا کتاب د یونس مراد له خوا په پښتو ژباړل سوی او په ۱۳۴۵ش کې د تاریخ د همدې ټولنې له خوا خپور سوی دی او د صحاف نشراتي موسسې له خوا بیا د دوهم ځل لپاره له ځینو سمونو سره په ۱۳۸۰ش کال له چاپه راوتلی دی.
"میرویس نیکه" او "هوتکي ها" دواړه د هوتکو د دورې په باب د ټولو وروستیو لیکنو لپاره معتبر ماخذونه ګرځېدلي دي.
زما د معلوماتو له مخې د اروابناد الحاج امان الله هوتک "د خپلواکۍ لمر څرک" نومي کتاب پرته چې په هغه کې پر کتبي مدارکو باندې محلي معلومات او خانداني روایتونه ورزیات سوي دي او ددغې دورې یو خوندور او ثقه تاریخ ځنې جوړ سوی دی. نورې معاصرې لیکنې د میرویس نیکه د کتاب تر محتویاتو زیات څه په لاس نه راکوي. ما د (میرویس نیکه) کتاب له سره تر پایه وکوت، حوالې مې تر ممکنې اندازې له اصلي ماخذو سره تطبیق کړې. کمبودۍ مې ورپوره کړې. د کتاب چاپي تېروتنې مې ورسمې کړې او د اړتیا په صورت کې مې ځینې لمنلیکونه هم پر ورزیات کړل او دا دی له دې لنډې سریزې سره مې د دوهم چاپ لپاره تیار کړ. په پردېسۍ او بېوسۍ کې زما همدا په وس پوره وه. هیله ده درانه لوستونکي زما "نه څه" پر "څه" وشمېري.

**محمد معصوم هوتک**

اوکویل ـ کاناډا

۲۰ فبروري ۲۰۰۵ ع

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## لمنلیکونه:


۱_ د علامه پوهاند حبیبي، شل مقالې، ټولونکی، مطیع الله روهیال، لومړۍ برخه، ۲۲۰_۲۲۵ مخونه، ۱۳۸۳ش

۲_ علامه سید جمال الدین افغان در آئینهء مطبوعات، ۴۰ مخ، ۱۳۵۵ ش، کابل پوهنتون

۳_تواریخ خورشید جهان، ۲مخ، ۱۸۹۴ع لاهور.

۴_تواریخ خورشید جهان، ۱۳۲مخ

۵_ بېنوا، عبدالروف، میرویس نیکه، ۳_۴ مخونه

۶_ هماغه اثر، ۴ مخ

۷_ تاریخ سیاح مسیحی، مقدمه، تصیحیح، تحشیه او تعلیق د محقق فقیر محمد خیر خواه، د مقدمې ۶مخ، ۱۳۶۳ش، کابل

۸_ د کروسینسکي د ژوند او آثارو په باب ما (هوتک) بیله نیکنه کړې ده، چې لوستونکي به یې بنایي ددغه سیمینار د مقالو په مجموعه کې ولولي.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د لوی خدای په نامه

# پیل

هغه وخت چې زه لا کوچنی او ووړ ماشوم وم. ما به د خپلې مور د خولې د حاجي میر خان نیکه نوم (چې د میرویس نیکه پښتني نوم دی) اورېدی او کله چې به ناروغه شوم، نو زه به یې د میرویس نیکه زیارت ته بیولم او راته ویل به یې چې حاجي میر خان نیکه د برګ ندی او لوی سړی دی بیا چې زلمیتوب ته ورسېدم. هم به مې د پښتنو په مجلسو کې د سپین ږیرو له خولې ددې نیکه نوم اورېدی او دا وخت دومره پوهېدم، چې حاجي میر خان نیکه د پښتنو یو ملي مشر و. نو کم وخت چې بیا د کتاب سره اشنا شوم. ما ته هغه له جوشه ډك احساسات راپیدا شول. چې هر زلمي ته په دغسې وخت کې پیدا کېږي. مینه مې درلوده چې د خپلو تېرو نیکه ګانو کارنامې ولولم. خصوصاً د هغو نیکه ګانو چې ما لا په زانګو کې د دوی نومونه اورېدلي وو او د وړکتوب څخه ورسره اشنا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



وم. که څه هم په زانګو کې زه په ښه او بد نه پوهېدم، مګر کوم وخت چې مې د زانګو څخه د مور غېږې ته سفر وکړ او پر خبرو راغلم، ماته به د شپې خپلې مور ددې لپاره چې ما بیده کړي د تېرو نیکه ګانو ډېرې افسانې ویلې.

ښه مې په یاد دي، یوه شپه چې مې مور د پرنګي د غزا نکل راته کاوه او ویل یې چې "سپین سرو ښتنو مېرمنو به د اوبو ډك ژي اخیستي وو او غازیانو ته به یې په سنګر کې اوبه ورلې او د اکثرو غازیانو څخه توري وې" په دې وخت کې زما مشرې خور له تلتکه سر راوېوست، زما مور ته یې وویل:

"د غازیانو توري همداسې وې لکه هغه د نیکه توره؟"

زما مورې هم د هغې تورې خواته چې دې به مور ته ویل "دا ستاسې د نیکه توره ده، چې ستاسې پلار ته او له پلاره تاسې ته پاته شوې ده". په ډېر تاثر وکاته، نور خو نه پوهېدم چې ددې څه په یاد راغله، خو سترګې بې له اوښکو ډکې شوې، ویې ویل:

"هو زویه! بیده شه، شپه ډېره تېره شوې ده.!"

دا هغه توره وه چې ما او خور به د هغې په مخ کې سره سره تکي لیدل نو یو بل ته به مو ویل: "دا د پرنګي په وینو ده!"

همدا شان به اکثره شپې ما داسې افسانې اورېدلې او په دماغ کې به مې یوه افسانوي دنیا تشکیلېدله. په دې افسانو کې ما ډېر ځله د حاجي میر خان نیکه نوم اورېدلی و، نو چې لوی شوم دده د ژوند سره مې علاقه مېندلې وه او په کوم کتاب کې چې به مې دده نوم ولید، خوشالېدم به.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



مګر متاسفانه سره ددې چې دا نابغه نیکه هر پښتون پېژني او ده ته د نیکه خطاب ورکوي بیا هم دده د ژوند په باب کې چا یوه رساله هم نه ده لیکلې او نژدې نژدې دی چې دده مشهورې کارنامې هم ورکې شي. ددې فکر په اثر ما یو کال دمخه عزم وکړ، چې زه د خپله وسه سره سم تر کومه ځایه چې موجوده ماخذونه کومک کولای شي، یو وړکوټی کتاب ولیکم، نو په ځینو یادداشتونو مې شروع وکړه. په دې وخت کې چې کوم شی زما عزم ښه راټینګ کړ، زما د فاضل ملګري ښاغلي حبیبي تشویق و.

څو دا دی تر یو کال وروسته موفق شوم چې ددې ملي نابغه په نامه دا کوچنی کتاب پای ته ورسوم، شاید تر ما وروسته زلمیان به یې لا ښه بشپړ کړي.

په دې کتاب کې ما ډېر زیار ایستلی دی چې بې سنده قول رانه وړه شي او هر مطلب ښکاره ماخذ ولري او په همهغه مخ کې مې د ماخذ صفحه هم ورښوولې ده.

خدا دې وکي چې زما دا زیار یو وړکوټی ملي خدمت وباله شي او له خدایه غواړم چې نور ژوند مې هم په داسې ملي خدمتونو کې تېر شي.

(بېنوا)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## ددې کتاب ماخذونه:

په دې کتاب کې چې هر مهم مطلب اخیستل شوی، په همغه صفحه کې یې ماخذ ته سره د صفحې د نهاکلو اشاره شوې ده او کوم ماخذونه چې ددې اثر په لیکلو کې استفاده ځنې شوې ده، دا دي:


۱ـ روابط ادبي ایران و هند ، اثر علي اکبر شهامي.

۲ـ ترجمهء تاریخ مختصر ایران، اثر سرپرسی سایکس.

۳ـ دائره المعارف بستانی، ۳ ج

۴ـ د تتمه البیان پارسی ترجمه، د سید جمال الدین افغانی.

۵ـ تاریخ روابط ایران و اروپا در دورهء صفویه.

۶ـ داستان ترکتازان هند ، ښلورم کاخ

۷ـ منتخب اللباب، ۲ ج

۸ـ د فراهي قلمي جونګ، چې ښاغلي فاضل ګویا ماته د استفادې لپاره راکړی و.

۹ـ حیات افغانی، د حیات خان.

۱۰ـ خورشید جهان، د شیر محمد خان.

۱۱ـ پټه خزانه، د محمد هوتك.

۱۲ـ تاریخ سلطانی، د سلطان محمد.

۱۳ـ جغرافیای تاریخی ایران، د بارتولد اثر

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



۱۴_ فرهنګ اوستا
۱۵_ قاموس انګلیسی و هندی
۱۶_ تاریخ افغانستان، د میلیسون اثر د منشی احمد جان پښتو ترجمه.
۱۷_ تاریخ ایران، د سرجان مالکم اثر، (پارسی ترجمه)
۱۸_ د افغان او پارس جګړه، دا کتاب "جارج نیون هام فورد اسحاق" له لاتیني ځخه په انګلیسي ترجمه کړی او لاتیني بیا د ترکي ځخه ترجمه کړې، چې د ترکي مؤلف د میرویس نیکه په وخت کې د اصفهان په دربار کې و او اوس یې ښاغلی سید مسعود خان په پارسي ترجمه کوي او ځو مخه خپله ترجمه یې ماته راکړې وه، ډېر تشکر ځنې کوم.
۱۹_ زندګاني نادر شاه پسر شمشیر، د لارودی اثر.
۲۰_ روضه الصفای ناصری، اتم جلد.
۲۱_ مجلهء کاوه، ۲ کال، ۱۲ ګڼه
۲۲_ افغان تاریخی، په ترکي ژبه دی چې په لاتیني ژبه ترجمه شوی دی او د هغه ځخه بیا "د افغان او پارس جګړه" ترجمه شوی دی، چې د فاضل محمد صالح خان په کتبخانه اړه لري.
۲۳_ جهانکشای نادری، محمد مهدی.
۲۴_ ماثر الامراء، ۳ ج
۲۵_ درهء نادره.
۲۶_ تاریخ ادبیات ایران، اثر برون ترجمهء یاسمی ۴ جلد
۲۷_ تاریخ علی قلی مرزا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



۲۸_ سیرالمتاخرین

۲۹_ نادر نامه، قلمی په ښاغلی حبیبی پورې اړه لري او د استفادې لپاره یې راکړې وه.

۳۰_ تاریخ افاغنه، اردو، د سید ظهور الحسن موسوی تالیف.

۳۱_ تاریخ نظامی ایران، لومړی جلد.

۳۲_ آئین اکبری، ابوالفضل.

۳۳_ د پټې خزانې تعلیقات د ښاغلي فاضل حبیبي لیکنه.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# تر ميرويس دمخه

غـواړم دمخـه تـر هغـه چـې د ملـي قاېـد ميـرويس نيکـه د ژونـدون، فتوحـاتو او قيـادت حـالات ولـيکم، پـه ډېـر مختصـر ډول پـر دمخنيـو اوضـاعو هـم لـږ رونـا واچـوم، ځکـه چـې تېـر شـوي واقعـات د راتلونکـو پيښـو باعـث يـا زيـږونکي بلـل کېـږي. لـه دې کبلـه نـو کـه وغـواړو چـې د ملـي قاېـد ميـرويس نيکـه ملـي نهضـت يـا پـه بـل عبـارت د هوتکـو د شهنشـاهۍ د مؤسـس حـالات څرګنـد کـړو، بايـد تـر هغـه دمخـه د افغانسـتان (خصوصـاً قنـدهار) او پـارس او هنـد د مخنـي وضـعيت هـم پـه لنډ طـور سـره بيـان کـړو او پـه دې تـرڅ کـې بـه دا هـم ښکـاره شـي، چـې د کومـو کومـو عواملـو پـه اثـر د هوتـك شهنشـاهي يـا د پښتنـو يـو ملـي نهضـت موجـود شو.

څنګـه چـې پـه هغـه وخـت کـې د افغانسـتان پـه تېـره بيـا د قنـدهار پـر وضـعيت او د حـالاتو پـر اوښتلـو د ګاونـډيو مملکتـو اوضـاع ډېـره اغېـزه درلـوده، نـو لومـړی بـه ګـران لوسـتونکي د ګاونـډيو مملکتـو پـارس، هنـد د وضـعيت خـوا تـه ملتفـت کـړم او بيا به د افغانستان په اور شوکي سره ورغېږو.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## ۱_ د پارس وضعیت:۰

کم وخت چې د پښتو ملي قاېد میرویس نیکه د خپل ټبر او اولس د آزادۍ او خپلواکۍ د جنډې د پورته کولو لپاره ملا تړله، په پارس کې د صفوي شاهانو حکومت و، چې شاه اسمعیل صفوي تاسیس کړی و. شاه اسمعیل په ۹۰۵هـ کال د دېرلسو کالو په عمر د خپل پلار "سلطان حیدر" د مرگ د انتقام اخیستلو په عزم میدان ته راووت او د شیروان حاکم "فرخ یسار" یې چې دده پلار یې وژلی و، له منځه ویوست.[۱]

گویا له همدې وخته ددې حکومت خښته کښېښوله شوه او تر دوو پېړیو ډېر یې (۹۰۶_۱۱۳۴) پر پارس حکومت وکړ[۲].
دا دوره له ډېرو جهتو څخه د پارس لپاره یوه روښانه او ځلېدونکې دوره وه او تر ډېرو دورو یو خاص اهمیت او امتیاز لري. په دې دوره کې کوم مهم شی، چې منځ ته راغی، د پارس "ملي وحدت" دی، ددې وحدت اساس شاه اسمعیل د صفویانو لومړي پاچا ټینګ کړ او په دې وحدت کې معنوي قدرت او نفوذ ډېر موثر و، ځکه چې دا دوره له سره پر معنوي بنسټ یعنې تصوف او شیخوخیت راولاړه شوې وه او د شاه اسعیل پلار او نیکه ټول مرشدان تیر شوي وو او دده نسب په شپږمه واسطه مشهور شیخ صفي الدین اردبیلي ته او په ۱۶

---

[1] روابط ادبی ایران و هند، ۶۶ مخ د علي اکبر شهامي اثر، د تهران طبع.
[2] روابط ادبی ایران و هند، ۶۸ مخ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



واسطه اووم امام حضرت موسی کاظم ته رسیدی[1] او له دې لارې یې په پارس کې ډېر نفوذ او قدرت او په لکو مریدان مونډلي وو، نو له دې څخه علاوه پر "ملي وحدت" دا هم څرګندېږي، چې په صفوي دوره کې مذهبي چارو ښه ترقي کړې وه او په دې دوره کې علماو او صوفیانو خورا ډېر قدر درلود او د شاهانو مخصوصه توجه د مدرسو خوا ته وه او برسېره پردې په صفوي دوره کې د پارس مختلفو صنايعو ته هم ډېره توجه وشوه او د هغه ځای صنايعو لکه نساجۍ، معمارۍ، کاشي کارۍ او نورو مختلفو صنعتونو ښه ترقي وکړه، چې له دې حيثه هم دا دوره مهمه او روښانه دوره ښکارېږي، مګر دا هم بايد وويل شي چې په دې دوره کې ځينې پاچهان پيدا شوه، چې ددې دورې پر روښايي تاريکي واچوله لکه شاه عباس چې د خپلو زامنو د وژلو نسبت ورته شوی او يا شاه صفي (د ۱۶۲۹ع څخه تر ۱۶۴۲ع) ډېر صفوي شهزادګان يې ووژل او له همدې ځايه د صفوي دورې انقراض شروع شو، چې پېنځه کاله وروسته "ايروان" او "تبريز" د ترکانو په لاس ورغلل او په ۱۶۲۸ کال بغداد هم د پارسيانو له لاسه ووت.(۲)

څو چې ددې دورې وروستنی پاچا سلطان حسين د اکتوبر په ۲۳ په ۱۷۲۲ع ـ ۱۱۳۵هـ ق کال(۳) مجبور شو چې د پارس

---

[1] روابط ادبی ایران و هند، ۷۷ مخ

[2] تاریخ مختصر ایران، د سرپرسي سايکس د تاليف فارسي ترجمه ۶۴ مخ.

دائرة المعارف بستانی دريم جلد، ۲۴ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



شهنشاهي تاج د ميرويس نيكه د لومړني زلمي زوی شاه محمود پر سر پخپل لاس كښېښود او خپله لور يې هم دې پښتون زلمي شهنشاه ته په همدغه ورځ ور په نكاح كړه([1]) چې په همدې ورځ د صفوي دورې كمبله ټوله شوه.

## ۲: د هند وضعيت:

په همدې وخت كې چې د صفوي دورې وروستنيو شاهانو په ايران كې حكومت كاوه، په هند كې د مغولو پاچهي وه. ددې سلسلې د سلطنت مؤسس ظهير الدين محمد بابر پاچا و، چې د محرمې په شپږمه په ۸۸۸هـ كال زېږېدلی دی([2]) او د دېرلسو كالو په عمر په ۹۸۱هـ كال په اندجان كې د پاچهي پر تخت كښېناست.([3]) بابر پاچا څو كاله وروسته د خپل لوی سلطنت مركز ډهلي وټاكه او د هند پر اكثرو ښارو يې غلبه وموندله. تر ده وروسته دده زوی همايون او نور ډېر تيموري مغولي شاهانو په هند كې تر درو پېړيو لا زيات سلطنت وكاوه او د ۸ ميلادي قرن تر آواخرو پورې يې په هندوستان كې خپلواك او مستقل حكومت درلود. د ۱۹ قرن په اوايلو كې د انګليسانو تجارتي او سياسي نفوذ قدم كښېښود او ورو ورو يې لمن ارته شوه.

---

[1] د تتمة البيان ترجمه، د علامه سيد جمال الدين افغانی تاليف ۹۳_۹۴ مخونه د كابل طبع.

[2] حسامي دا لاندنی بيت دده د تولد په تاريخ كې ويلی دی:

اندرشش محرم زاد آن شه مكرم    تاريخ مولدش هم آمد "شش محرم"

[3] روابط ادبی ايران و هند، ۳۰ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ددې نفوذ مقدمه که څه هم د ۱۵۷۹ میلادي = ۹۸۷هـ څخه چې "تماش استی و نس" یوه انګلیسي زلمي هند ته سفر وکړ او په تېره بیا په ۱۵۸۳ میلادي =۱۹۹۱هـ کال چې څلور تنه انګلیسي سیاحت کوونکو د شرقي ممالکو د تجارتي او اقتصادي اوضاع د کتنې لپاره مامور شوه، شروع شوې وه. مګر په ۱۶۰۰ میلادي د دسامبر په ۳۱ (د دریمې خور په ۲۴_۹ ۱۰۰هـ) چې د ملکه الیزابت په امر د شرقي هندي شرکت (د لندن د تجارانو شرکت، چې د شرقي هند سره تجارت کوي) په نامه تاسیس شو(۱) د انګلیسانو د سیاسي او تجارتي نفوذ اساس کښېښود شو.

د نورالدین محمد جهانګیر ګورګاني پاچا په وختو کې په ۱۶۰۸م او ۱۰۱۷هـ کال دې پورتني شرکت خپله لومړۍ بېړۍ د "ویلیام هاوکین" نامي په مشرتوب د سورت بندر ته، چې د هند له غربي بندرو څخه دی راواستوله، دې سړي د انګلستان د پاچا "لومړي جیمز" له خوا یوه سفارشنامه هم درلوده او تر یوه ځایه پخپل مقصد کامیاب شو. بیا په ۱۶۱۲ کال هم درې انګلیسي بېړۍ د "توماس بست" په مشرتوب هندوستان ته ورسېدلې او دې سړي وکولای شوه چې د سورت له محلي بندر سره تجارتي معاهدې وتړي او څه موده وروسته هلته یوه تجارت خانه هم تاسیس کړي او د اوولسم د نیمې قرن رادې خوا ته ددې شرکت د تجارتي چارو سره سیاست هم ګډ شو. په

(۱) تاریخ روابط ایران وار و پادر دوره‌ء صفویه ۱۲۸ مخ، فرشته ۱۹۲ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



۱۱۰۱هـ (۱۶۸۸م) کال چې انګلیسانو د بمبۍ جزیره چې پرتګالیانو پرېښې وه، هم دې شرکت ته په لږ اجاره ورکړه. ددې شرکت مرکز د سورت له بندره بمبۍ ته رانقل شو او دا وخت لږ لږ د مستملکاتو په چورت ولوېده او په هند کې یې استعماري سیاست شروع کړ، مګر دا کار یې په انګلستان کې د نورو تجارانو د حسد او رقابت باعث وګرځېدلو او په ۱۱۱۰هـ (۱۶۹۸م) کال یوې ډلې تجارانو یو لوی شرکت (د شرقي هند د عمومي تجارت د شرکت) په نامه تاسیس کړ او د انګلستان له پارلمنټه څخه یې د شرق د تجارت انحصاري امتیاز هم واخیست. دا هم د تجارانو د رقابت د هجوم مورد واقع شو، څو په پای کې په (۱۷۰۸م) کال ټولو پخوانیو شرکتو لاس سره ورته کړ او یو مهم او ډېر لوی شرکت یې د (انګلیسي تجارو شرکت د شرقي هند د تجارت لپاره) په نامه تاسیس کړ او ضمناً د انګلستان پاچا د شرکت مشرانو ته د هندوستان د پاچهانو په دربارو کې رسمي سفارتونه او قونسلګرۍ وروسپارلې([1]) نو په دې سبب ددې شرکت اساس یا په بل عبارت د انګلیسانو دسیاست بنسټ په هند کې ښه ټینګ شو او نفوذ یې یو په دوه شو او ورو رورو د انګلیسانو نفوذ پسې ډېرېده، څو چې په ۱۲۱۷هـ (۱۸۰۳ میلادي) کال یې ډهلي ونیو او د میاشتې یې یو لك روپۍ شاه عالم (چې ددې سلسلې وروستنی مستقل او مهم پاچا او په سترګو ړوند

---

[1] تاریخ روابط ایران و اروپا، ۱۵۷_۱۵۸ مخونه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



و) وتاکلی چې هغه هم په ۱۲۲۱هـ کال مړ شو([1]) تر ده وروسته ددې سلسلې څو نور شاهان هم په هند کې وه، چې څه نه څه نوم يې درلود، مګر په ۱۲۷۹=۱۸۶۲میلادي کې چې ددې کورنۍ وروستنی پاچا بهادر شاه، چې ښه شاعر او موسیقي دان هم و، د ځینو اثراتو په اثر د انګلیسانو له خوا د خپلې مېرمنې "زينت محل" سره "برما" ته تبعيد او هلته مړ شو، د تيموري سلطنت کمبله بالکل ټوله شوه.

د خافي خان د لیکنې څخه چې تر ۱۱۳۵هـ کاله پورې يې د محمد شاه د وخت حوادث لیکلي دي، څرګندېږي چې د ګرګين د مرګ په کال په هند کې محمد اعظم بهادر شاه مشرتوب درلود، ځکه چې دی وايي چې په ۱۱۱۹ هـ ق کال د ګرګين د وژلو خبر چې ملي قايد میرویس نیکه مړ کړ، په هند کې د محمد اعظم بهادر شاه دربار ته راورسيد.([2])

ګويا کم وخت چې ملي زعيم میرویس نیکه د پښتنو په ويښولو پيل کاوه، په هند کې محمد اعظم بهادر شاه، چې دمخه ذکر شو مشر و او ورو ورو د مغلو د حکومت کمبله ټولېدله، مګر بيا هم په دغه وخت کې بېخي کمزوري نه وه، بلکې ښه اقتدار يې په لاس کې و.

## ۳: په افغانستان کې د کندهار وضعيت:

تر اسلام دمخه د افغانستان وضعيت خو غربي او شرقي

[1] ترکتازان هند، ځلورم کاځ، ۴۶۳_۴۶۹ مخونه.
[2] منتخب اللباب، ۲ ج، ۶۴۳ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



موؤرخینو په وار وارو، په تکرار سره لیکلي دي او جغرافیوي حدود یې تر نننۍ ورځې ډېر پراخه او ارت وو، په تېره بیا هغه وخت چې آریایي قبایل لا د خپل اصلي ټاټوبي (بلخ) څخه د پارس او هند خواو ته کوچېدلي نه و، د افغانستان خاوره د آریایي تمدن مرکز بالله کېده، چې ددې خبرې څېړل ددې کتاب له دغه مبحث څخه وتلي شمېرل کېږي او جلا کتابونه لري.

خو تر اسلام وروسته هم افغانستان د خورا لویو لویو شهنشاهیو لکه د سوریانو شهنشاهي، د صفاریانو، د سامانیانو، د غوریانو او د غزنویانو د شهنشاهۍ مرکز و او هر لور ته د دوی د بري بېرغونه رپېدل او غلیمان ورته سر ټیټي وو او دا هره دوره د افغانستان په تاریخ کې خورا لوړ موقعیت لري او هره یوه یې ډېره ځلانده او باشکوهه دوره ده. مګر تر دې دورو وروسته خصوصاً له هغه وخته څخه چې د مغلو دوره شرق ته راغله، که څه هم په افغانستان کې د پورتنیو دورو په شان یوه لویه شهنشاهي، چې د افغانستان ټوله خاوره تر اداري لاندې ونیسي، د هوتکو تر دوري پورې موجوده نه وه، خو بیا هم د افغانستان هره برخه د افغانسان د هغې برخې د اوسېدونکو په لاس اداره کېدله او د هرې برخې اوسېدونکي په هر وخت کې د متجاوزینو په مقابل کې ولاړ وو او دفاع یې کوله، چې په افغانستان کې ددې حکومتو مهم مراکز هرات، بلخ، کابل، زابل بلل کېدل.

څنګه چې د غزنویانو د دورې تر وقفې وروسته په

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



افغانستان کې د هوتکو دورې بیا لویه شهنشاهي قایمه کړې ده او هم د هوتکو نهضت له کندهاره شروع شوی دی، نو دلته هم په دې کتاب کې زموږ د موضوع سره مناسبه دا ده، چې د کندهار وضعیت تر خېړنې لاندې ونیسو، چې دمخه تر هوتکو یې څه وضعیت درلود او هغه داسې دی:

د کندهار وضعیت له هغه وخته چې د هوتکو او توخو او ابدالیانو ملي ریاستونه له منځه ولاړه، په ډېر تزلزل اخته شو، کله به د هند د مغولي حکومتو هجوم باندې راغی او کله به پارسیانو سترګې ورته سرې کړې، د کندهار خپل موجودیت نژدې و، چې ورك شي، فقط د ګاونډیو مملکتو په سترګو کې یې د یوې مڼې مثال درلود، چې هر یوه غوښته یو له بله یې حمله کړي، خو خبر نه وه چې دوی ته به مرغونې شي او د هضم قوه به یې ونلري، بلکې په پښتني اصطلاح د مور شیدې به په وګرزوي.

د پارس او هند حکومتونو به تل پخپل منځ کې پر کندهار سترګې سره سرې وې او چې یوه به موقع وموندله بل ته به یې پلمه جوړوله او خپل ځان به یې د کندهار په تصرف او تجاوز کې حقدار ګاڼه او یا به یې د امنیت قایمولو په نامه خپل اقدام روا باله، چې دلته د هغو پېښو څخه دوه مثالونه رانقلوو:

۱ـ لومړی په **۱۰۰۵**هـ کال چې اکبر پاچا د کندهار د تسخیر خیال وکړ، نو یو اوږد او مفصل مکتوب یې شاه عباس ته ولیکه او خپل دې تجاوز ته یې یوه پلمه وتراشله، خو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



څنګه چې دا مکتوب ډېر اوږد دی، نو څو جملې یې راوړو:

"...لیکن چون قندهار در میانه بود و میرزایان قندهار در لوازم معاونت و معاضدت آن دودمان عالیمکان تکاهل می نمودند و در مواقع حوادث و مکاره که محل استطلاع عیار جوهر وفاقست قطعاً آثار یك جهتی و یگانگی بظهور نیاورده اند و نیز بمامن ارفع که متوطن صاحبان ناز و نعم است توصل شایسته نمی رسانند مخطور حواشی باطن بود که اولاً قندهار را بکسان خود بسپارم...(۱)"

۲ـ کم وخت چې شاه عباس صفوي پر کندهار لاس ومونند او د جهانګیر پاچا څخه یې ونیوه، نو همدا شان یې یو مفصل مکتوب جهانګیر ته په دې باره کې ولیکه، چې مضمون یې دا دی:

نسائیم دعواتیکه از نفحات اجابت آن غنچهء مراد شگفته نگهت قرانی مشام یگانگی باشد و لوامع مدحاتی که از لمعات خلوصش انجمن اتحاد منور گشته ظلمت زاوی غالیهء بیگانگی گردد. عطر بزم خلت و ولای اعلیحضرت و ظل اللهی و شمع جمع صدق و صفا آن نور پرورد آگهی گردانیده مشهود راه انور و مکشوف ضمیر منیر ضیا گستر میگرداند که: بر دل دانش پسند و خاطر آسمان پیوند آن برادر بجان برابر که آئینه چهرهء دانش و بینش و مرآ جمال حقائق آفرینش

[1] د فزاهي قلمي جونګك، چې ښاغلي ګویاته پروسږ کال، چې د افغانستان په دوره تللی و، په فراه کې چا ورکړی دی او نور ښه ښه منتخب اشعار هم پکښې شته.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



است عکس پذیر خواهد بود که بعد از سنوح قضیه ناگزیر نواب شاه جنت مکانی علیین آشیانی انارالله برهانه چه قسم قضا یا در ایران روی داده بعض ممالك از تصرف منسوبان این دودمان ولایت مکان بیرون رفته بود چون این نیازمند در گاه بی نیاز مقلد امور سلطنت شد همین توفیقات ربانی و حسن توجهه دوستان جانی انتزاع جمیع ممالك موروثی که در تصرف مخالفان بود نموده، چون فندهار که در تصرف گماشتگان آن والا دودمانی بود ایشان را از خود میدانست متعرض آن نشده از عالم اتحاد و برادری مترصد بودیم که ایشان نیز بطریق ابا و اجداد عظام جنت مقام خود در تفویض آن مبذول فرمایند چون بتغافل ابا گزرانیدند مکرر بنا مه و پیام و کنایه و صریح طلب آن نمودیم که شاید در نظر ایشان این ملك محقر قابل مضائقه نبوده مقرر نمایند که بتصرف اولیای این خاندان داده رفع طعن دشمنان و بدگویان و قطع زبان درازی حاسدان و عیب جویان گردد. چون مدتی این امر را درر عقدهء تعویق انداختند و حقیقت اینمقدمه در میان دولت دشمن اشتهار یافت و از آنجانب جواب این مشعر برد و قبول آن نرسید بخاطر عاطر گذشت که طرح سیر و شکار قندهار اندازیم که شاید بدین وسیله گماشتگان آن برادر نامدار کامگار از زوی روابط الفت و خصوصیتیکۀ مسلوکست مؤکب اقبال را استقبال نموده بخدمت اشرف فائز گردند و مجدداً بر عالمیان رسوخ قواعد یگانگی طرفین ظاهر شده باعث زبان کوتهی حاسدان و بدگویان شود بدین

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



عظمت پی یراق قلعه گیری متوجه شده چون بلکاء فراه رسیدیم منشور عاطفت مبنی بر اظهار ارادهء سیر و شکار قندهار بحاکم آنجا فرستادیم که مهمان پذیر باشد و عزت آثار خواجه باقی قزاق را طلب فرموده بحاکم و امرای که در قلعه بودند پیغام دادیم که در میان اعلیحضرت پادشاه ظل اللهی و نواب همایون ماجدائی میسر نیست و الکائی که هست از همدیگر میدانیم و ما بطریق سیر متوجه این صوبیم نوعی نشود که کلفت خاطری بهم رسد ایشان بمضمون حکم و پیغام مصلحت انجام را بگوش حقیقت نیوش نشنیده و مراسم الفت و اتحاد جانبین منظور نداشته اظهار تمرد و عصیان نمودند و تا بحوالی قلعه رسیده و باز عزت آثار مشار الیه مکرر طلب فرمودیم و آنچه لازمهء صحت بود با و گفته فرستادیم و تا ده روز دگر عساکر منصوره قدغن فرمودیم که پیرامون قلعه و حصار نگردند نصائح سودمند نیامد در مخالفت اصرار نمودند چون بیش ازین مسامحه گنجایش نداشت و لشکر قزلباش باوجود عدم اسباب قلعه گیری و تسخیر قلعه مشغول شدند ودر اندك روزی برج و باره را با زمین یکسان ساختند کار بر اهل قلعه مشکل شد، امان خواستند ما نیز همان را بطهء را که از قدیم الایام فی مابین این دو سلسلهء رفیعیه مسلوك بوده و طریقهء برادری که مجدداً از زمان میرزائی آن اورنگ نشین بارگاه جلالت و نواب همایون مابنوع استقرار یافته که رشك فرمائی سلاطین روی زمین است منظور داشته بمقراض مروت جبلی تقصیرات

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



و ذات ایشـــان را بعفــو مقــرون فرمــوده مشــمول عواطــف و عنایــات ســالماً و غانمــاً بانفــاق رفعــت پنــاه نظامــا حیــد بیکاســی* یــو زباشــی کــه از صــوفیان صــادق اینخانــدان اســت روانــهء در گــاه معلــی گردانیــدیم حقــا کــه بنیــاد و داد و اتحــاد مــوروثی مکســتبی از جانــب ایــن دلاجــوئی نــه بمرتبــهء میشــد و مســتحکم اســت کــه بجهــت ضــرور بعضــی امــور کــه بحســب تقــدیر از ممکــن امکــان بمنصــهء ظهــور آمــده باشــد خلــل پــذیر گردد ، میــان مــا و تــو رســم جفــا نخواهــد بــود ، بجــز طریقــهء مهــر و وفــا نخواهــد بــود مرجــو آنکــه از انجانــب نیــز همــین شــیوهء مرضــیه مســلوك بــوده بعــض امــور جزئیــه را انظــار خجســته آثــار نفرمــوده اگــر خدشــهء بــر عــارض الفــت ظــاهر شــده باشــد بحســن عطوفــت ذاتــی و محبــت ازلــی در آزالــهء آن کشــیده و گلشــن همیشــه بهــار یکــدل و یگــانگی را ســر ســبز و خــرم داشــته همگــی همتگــردون اســاس بتاکیــد مبــانی و پــاك و تصــفیهء مســائل اشــفاق کــه نظــام بخــش انفــس و آفــاق اســت مصــروف فرماینــد و کلــی ملــك محروســهء مــارا بخــود متعلــق داشــته بهــرکس خواهنــد شــفقت فرمــوده اعــلام بخشــند کــه بــلا توقــف و مضــایقه بــا و ســپرده مــی شــود و ایــن جزویــات را خــود چــه قــدر و اعتبــار باشــد. امــر او حکامیکــه در قلعــه بودنــد اگرچــه مرتکــب امــرای چنــد کــه منــافی مراسم دوســتی بــود شــدند ، امــا آنچــه واقــع شــده از جانــب مــا بــوده ایشــان آنچــه لازمــهء نــوکری و شــرط جــان ســپاری بــود بتقــدیم

* دغه نوم ناسم راته ایسي. (م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



رسانیدند. یقین که آنحضرت نیز بشفقت پادشاهانه و مرحمت شاهانه شامل حال ایشان فرموده مارا از ایشان شرمنده نخواهند ساخت، زیاده اطناب نرفت، همواره ها لوای آسمان فرسای هم آغوش تائیدات غیبی باد عاقبت جمیع بخیر باد برب العباد.(۱)

دا یو دوه مثاله د هند او پارس د حکومتونو د یو بل غولولو او د کندهار په مقابل کې د دوی د افکارو نمایندګي کولای شي، چې دې دوو حکومتونو هر وخت فرصت لټاوه، چې کندهار تر لاس لاندې کړي، مګر څنګه چې زه د میرویس نیکه حالات لیکم، نو زه باید د کندهار وضعیت ته د هوتکو له نقطهٔ نظره وګورم او څه چې له دې لارې ومومم هغه څرګند کړم، څکه په همدې هرج و مرج کې یا تر دې دمخه هوتکو او توخیو او ابدالیو پر کندهار مستقل حکومتونه کړي دي، په دې صورت کې نو لومړی دا لازمېږي، چې پخپله د هوتکو قبیله وپېژنو او بیا د دوی د ریاست بیان تر میرویس دمخه څرګند کړم، چې له دې لارې هم د کندهار د مخني وضعیت څرګندېږي او هم د هوتکو عشیره، چې زموږ ملي قاید میرویس له همدې عشیرې څخه میدان ته راوتلی دی، معرفي کېږي، نو دا دی په دې مقصد پیل کوو:

۱ دا مکتوب له یوه قلمي جونګ څخه رانقل شوی دی، چې د "فراهي" په نامه او د بناغلي فاضل ګویا څخه دی.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## د هوتکو ټبر:

په پښتنو کې د هوتکو ټبر ډېر شهرت لري، دا ځکه چې دا ټبر د پښتنو په ملي نهضتو کښې لویه برخه لري او پخپله پلا یې مهم رول لوبولی دی.

هوتك ټبر د غلځیو یوه پښه ده او لکه د انسابو لیکونکی، چې لیکي ددې ټبر لومړی پلار هوتك نومېده، چې ټبر یې هم د همدې پلار په نامه یاد شو او هوتك بابا د بارو زوی او د تولر یا توران لسمی او د بابا غلځی کړوسی دی.(1)

مګر دا چې هوتك بابا په کومه زمانه کې اوسېدی، پوره څرګنده نه ده. که څه هم د پټې خزانې مؤلف د "هوتك بابا" په نامه د هوتکو یو پلار لیکلی او معرفي کړی دی، چې وایي په ۶۶۱هـ کال د اتغر په علاقه کې زېږېدلی او په ۷۴۰هـ کال وفات شوی دی، مګر د څو دلایلو په نسبت ددې خبرې منل دقت غواړي: یو خو پخپله د پټې خزانې څو جملې دي، چې په یوه ځای کې وایي:"او هغه وقت چې لوی سونوئې کا د خدای عبادات او په اتغر او سوري کې د قوم سردار او بادار و"(2) بل ځای وایي:"بابا هوتك خپل قومونه راټول کړل او د سره غره

---

[1] حیات افغانی (په دې کتاب کې چې د حیات افغاني کومې حوالې ورکړه سوې دي، مطلب به یې غالباً اردو چاپ وي. د هوتکو شجره د پښتو حیات افغاني په دویم ټوك، ۳۲ مخ کې راغلې ده. م. هوتك) خورشید جهان، ۲۱۰، پټه خزانه، ۷ مخ، (د ۱۳۲۳ ش کال چاپ. په متن کې د پټې خزانې ټولې حوالې د همدې چاپ دي. م. هوتك).

[2] پټه خزانه، ۸۰۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



سره یې پر مغلو شخړه بوتله"([1]) نو که دا سړی د هوتکو لومړی پلار فرض کړو، نو بیا دده قوم یا اقوام له کومه شوه؟ ځکه چې تر ده دمخه د هوتکو یو سړی هم نشته او توخی هم یو سړی دده ورور دی* او په درې پښتنه بابا غلځي ته رسېږي، چې ټول پنځه شپږ تنه کېږي، نو به څنګه دا ومنل شي چې دا "هوتك بابا" هم هغه هوتك بابا دی، چې د بارو زوی، د تولر لمسی او د غلځی کړوسی دی؟

بله دا چې که دا خبره ومنله شي باید "بابا غلځی" هم په ۴۰۰هـ یا لږ دمخه یا لږ وروسته وبولو. حال دا چې پرخلاف د ارباب انساب د لیکنو څخه موږ د غلځیو د ټبر د نامه ریښه تر هغه وخت ډېر پخوا حتی که څوك په قهر نشي تر اسلام دمخه هم موندلای شو، بلکې تقریباً ثابته ده. ارباب انساب لیکي، چې د بیټ نیکه د "بي بي متو" نامې لور د نسه یو زوی پیدا شو، چې د هغه نوم یې "غلزی" یا "غلجی" کښېښود([2]). مګر څه به وشي که موږ دا نوم "غرزی" وګڼو، ځکه چې په زاړه او اوسنۍ پښتو کې د "غر" ریښه خصوصاً په نومونو کې ډېره غښتلې او قوي ده، حتی د ځینو محققینو په

---

[1] پته خزانه، ۸۰۷ مخ.

* "د خپلواکۍ لمر څرك" لیکوال، توخی د هوتك اکا بولي. دی زیاتوي چې هوتك او ناصر سره وروڼه او دوی دواړه بیا د درخي نیکه زامن وو. درخی او توخی سره وروڼه وه. وګورئ: د خپلواکۍ لمر څرك، ۱۹ مخ (م. هوتك).

[2] خورشید جهان، ۲۰۹ مخ، حیات افغانی، ۲۵۶مخ، (پښتو چاپ، دویم ټوك، ۲۸ مخ م. هـ) ، تاریخ سلطانی، ۷۰ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



عقیده د غور، غرج، غلج، خلج، غر چې د نومو ربښه هم له غره څخه ولاړه شوې ده او په منځنۍ اسیا کې د آریایي ځایو او قبیلو په مورد کې استعمال شوی دی([1]) همدارنګه د غورك او غرجستان یا غرڅه او غرڅنۍ نومونه په پښتو کې شاید دا ادعا ثابته کړي.

توسماچك یو غربي مدقق هم د ګر Gar یعني غره کلمه د باکتري په زړه پارسي کې مستعمله بللې ده او وایي، چې غر چې د آمو پورته خوا ته د یوه غرني ولایت نوم دی، چې آریایان یکې اوسېدل([2])او علاوه پردې په اوېستا کې دا کلمه د "ګیري" په شکل په همدې معنی راغلې ده([3]) او په سنسکریت کې د Giri په شکل لیدل کېږي([4]) د پورته قرینو په نسبت، نسبت دې ته چې دا نوم "غل زی، ګلزای، قلزه ی، غلیجائی، غلجائی" او نورو نومونو چې مؤرخینو راز راز راوړي دي یاد کړو، ښه به دا وي چې آریایي اصل ته رجعت ورکړو او د نورو ډېرو نومونو په شان چې له "غره" څخه اخیستل شوي دي، دا هم له دې کلمې څخه واخلو او "غرزی" یې وبولو. که دا نظریه ومنله شي، نو د غرزي "مشهور په غلځي" د ټبر نوم به تر هغه ډېر پخوانی شي، چې ځینو مؤرخینو لیکلي دي او هم بېټ، سړبن او غرغښت نومونه هم چې د پښتنو پخواني نیکونه بالله

[1] جغرافیای تاریخی ایران، د بارتولد اثر، ۸۸ مخ.
[2] زبان پامیر.
[3] د اوېستا فرهنګ، ۲۷۲ مخ.
[4] د هند او انګلیسي قاموس، ۶۱۱ مخ، د ۱۸۰۷ چاپ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



شوي او نومونه يې هم له مابعدالاسلام سره نه لګېږي، د اسلام دمخه وبولو. په دې صورت چې مو "غلځی" "غلزی" کړ او غرزي ته مو تر اسلام دمخه يا د اسلام سر ته نژدې تاريخ وټاکه، نو اوس کولای شو چې د همدې تاريخ په تناسب د هوتکو لومړی سړی هم وټاکو او د دوی د ژوند تاريخ هم تخمين کړو.

په هر صورت، دا زما شخصي رايه وه*، دلته زه نور نه غواړم دا خبره وځېړم فقط زما مقصد د هوتکو د اصل په شاوخوا کې يوه رڼا غورځول وه، خو کمه مثبته نتيجه چې په لاس راغله، هغه دا ده چې هوتك د غلځيو يا غرزيو يوه پښه ده، چې د پښتنو د ملت ملي نهضتونه له ۱۱۱۹هـ څخه تر ۱۱۴۹هـ پورې د دوی د همت او غيرت ګټه او د توري چوڼ دی.

<u>*چېرې اوسېدل؟*</u> د هوتکو اصلي ټاټوبی د "اتغر" سيمه ده، چې د کلات جنوب شرق ته پروت او د هوتکو او توخو د حکومت مرکز دی، تر هغه وروسته چې هوتك بابا د دوی يو لوی نيکه د ټبر مشر شو، د سيوري خلکو هم دی، په مشرتوب او سرداری ومانه(۱). د مغلو د هجوم په وخت کې د

---

* د ارواښاد بېنوا له دې نظريې سره اوس د پښتنو څېړونکي زياتره په يوه خوله متفق دي او د پښتني قومونو په باب دوديز روايتونه نن ورځ په اکاډميکو محافلو کې د منلو وړ نه دي. (م. هوتك)

۱ د سيوري علاقه د کلات جنوبي خوا ته پرته ده، پټه خزانه، ۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کلات د ارغنداو تر غاړو او اولان([1]) او سور غر([2]) پورې هم د دوی په لاس کې وه او دوی اداره کول، څو چې یې په مېړانه له همدې ځایو څخه دفاع وکړه او مغول یې وشړل([3])

دا تصرف او مشرتوب تر هغه وخته و، چې په ۱۱۰۰ هـ کې خارجي دښمنانو وغوښته، د همېشه په شان د پښتنو په منځ کې د غلځي او ابدالي په نامه د نفاق اور بل کړي. "لکه تل چې یې همدا کار کړی دی او هم یې کوي" مګرله ښه مرغه دا پلا پښتانه ونه غولېدل او د دوی پوه مشران، چې د ابدالیانو له خوا سلطان خودکي او د غلځیانو له خوا سلطان ملخي توخي و، ددې نفاق اندازۍ د دفاع لپاره یې ددې دوو ټبرو په منځ کې لکه سلطان محمد چې صریحاً لیکي:"یو موقتي حد وټاکه، یعنې د دوی د ټاټوبو او د اوسېدلو د ځمکو ترمنځ یې یو وېش تعیین کړ او دا یې سره وویل چې د کلات د جلدك "ګرماو" دي ددې دوو ټبرو ترمنځ حد او وېش وي. یعنې د هغه لمر ختیزه خوا دې د غلځیانو په ټبر اړه ولري او لمر لوېدیزه خوا دې د ابدالیانو د ټبر وي او دا وېش تر دې نږدو کلو پورې مراعا ت کېده، حتی اوس هم پاته دي.) ([4])

ددې وېش تر تثبیت وروسته سلطان ملخی، چې د توخو او

---

[1] اولان ـ د شاه جوی شمالي خوا ته یو ځای دی، چې د زړو ودانیو آثار هلته شته.

[2] سور غر، هغه غر دی، چې د اولان او شاه جوی شمالي پلو ته نژدې پروت دی.، پټه خزانه، ۸ مخ.

[3] پټه خزانه، ۷ مخ.

[4] تاریخ سلطانی، ۶۰ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



هوتکو مشر و، د اورنګزېب له خوا هم په رسمیت وپېژندل شو او دده په نامه فرمان صادر کړ(۱) سلطان محمد د تاریخ سلطاني مؤلف، چې څه وخت په کلات کې حاکم و، دا فرمان پخپلو سترګو د اورنګزېب په لاس لیك د سلطان ملخي د اولادې څخه لیدلی دی(۲) او هم لیکي، چې په هغه وخت کې د غلځیانو د ټبر مشرتوب او سرداري په دې اړه درلوده(۳).

ځکه نو تر پورتني وېش او تقسیم وروسته د هوتکو او توخو د ټاټوبي لمن د جلدك د "ګرماو" څخه تر غزني پورې اوږده شوه او څنګه چې د پټې خزانې مؤلف لیکي، په همدې حدودو کې یې مستقل حکومت درلود.(۴)

## د هوتکو ښاغلي تر میرویس دمخه:

زموږ تر ملي قاید میرویس دمخه هم د هوتکو په ټبر کې ښاغلي او پیاوړي پښتانه و، چې د قوم او اولس مشرتوب یې کاوه او خپل د پښتانه اولس یې پر سمه لاره بیوه او د خپلې خاورې د ودانۍ لپاره یې ډېر زحمتونه کښل، د پردیو له هجوم څخه یې خپل هېواد او وطن ساته او د وطن د ساتلو لپاره یې د خپلو ښو زلمیانو وینې تویولې. دوی هر یوه د لارښوونکي او رهنما او پیشوا حیثیت لاره، د خپل اولس په درد او خوږو خبر و، په غم او ښادۍ کې ورسره شریك و، دوی

---

[1] حیات افغاني، ۲۶۱ مخ. (پښتو چاپ، دویم ټوك، ۳۲_۳۳ مخونه. م. هوتك)

[2] تاري سلطاني، ۶۰ مخ.

[3] تاریخ سلطاني، ۶۰ مخ.

[4] پټه خزانه، ۱۷۵ مخ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ځانونه له ملته جلا نه بلل او نه یې ترې کرکه کوله او نه یې د خپلو شخصي اغراضو او مقاصدو لپاره استعمالول. دوی پښتانه مشران و او پښتنو هم دی ته د احترام سر ټیټ کړی و، هر څه چې به دوی ویل، پښتنو کول، حتی روحي عقیده یې ورته درلوده او خپل هر مشر یې یو روحاني مشر هم ګاڼه، ځکه اوس لا هم یې له نوم سره "نیکه" یادوي. ا په زور چا دوی ته تلقین نه و کړی او نه دا خبره په زور په یوه ملت منله کېږي، فقط دوی خپل ځان همدا شان ملت ته معرفي کړي و او خپل اعمال یې هم څنګه چې د یوه صحیح مقتدا سره وړ دي، هغسې ګرزولي و او نه یې دا خیال و، چې د مهذبو او متدین نماو غلو په شان د پسو په پوستو کې د لېوانو کارونه وکړي او د دوی د سمون په پلمه د دوی غوښې وشکوي او پخپله یې وخوري.

که څه هم تر میرویس دمخه د هوتکو په دوره کې به دا ډول اشخاص ډېر نه وي، خو بیا هم څه چې شته په هغو کې مشهور او معروف اشخاص دا درې تنه دي:

## ۱_ بابا هوتک:

بابا هوتك (چې نوم یې دمخه ذکر شو) د بعضو مؤرخینو په عقیده بلکې د ټولو پښتنو ارباب انسابو په نظریه دا سړی د هوتك تبر لوی نیکه دی، ځکه چې دوی "غلځی بابا" ته درې زامن قائلېږي: توران یا تولر، ابراهیم، بولر او توران ته دوه زامن تاکي یو "بارو" بل "بابو" چې د بارو بیا دوه زامن زېږي،

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د يوه نوم يې "هوتك" او د بل يې "توخي" كښېښود(١) دا هوتك نو د هوتكيانو لومړى پلار بللى شوى دى، مګر آيا دا چې دا "بابا هوتك" چې موږ يې لاندې حالات ليكو، هغه لومړنى بابا هوتك دى كه نه؟ او يا يې د ژوند په تاريخ كې تغير راغلى دى كه يه؟ دا خبرې دمخه څېړلي شوي دي، د نورې څېړنې حاجت نه لري. احتمال لري، چې دا به دوهم هوتك نامى وي، چې د لوى نيكه په نامه به ياد شوى وي او يا به د دوى دواړو په نومونو كې كمه اشتباه پېښه شوې وي او يا به دا هغه لومړنى بابا هوتك وي، مګر د ژوند تاريخ به يې نژدې ټاكلى شوى وي يا نور څه... * خو په هر صورت څكه چې په دې نامه تر ميرويس نيكه دمخه د هوتكو يو مشهور نيكه تېر شوى دى، نو كه لومړى پلار وي كه نه، بايد د ژوند حالات يې وليكل شي او هغه پټه خزانه داسې راوړي:

"هوتك بابا په اتغر كې زېږېدلى و، په سنه هجري ۶۶۱ كښې او هغه وقت چې لوى سو نو ئې كا د خداى عبادت او په اتغر او سوري كښې د قوم سردار او بادار و.

نقل دى: چې په هغه وخت كښې په هر ځل مغولو د ارغنداو پر غاړو لوټ كاوه او اولان او كلات به ئې تالاكول،

---

(١) خورشيد جهان، ۲۱۰ مخ، تاريخ سلطاني ۷۰ مخ(د مخ شمېره ما زياته كړه، په اصل كې نشته. م. ه )،حيات افغاني، (پښتو چاپ، دويم ټوك، ۳۲ مخ. م ه)، پټه خزانه، ۷ مخ.

* اوسني څېړونكي دا شخص دوهم هوتك نامى ګڼي او له هغه "هوتك" څخه يې بېلوي، چې د هوتكو قوم ورته منسوب دى. (م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



بابا هوتک خپل قومونه راټول کړل او د سره غره سره ئې پر مغلو شخړه بوتله، په دې جګړه کښې مغول تالاسول او د پښتنو ګرندیو ډېر ووژل، ماته خپل پلار داود خان داسې نقل وکا، چې سور غر د مغلو په وینو داسې لجند سو چې پلوشو د لمر په برېښانده کا، په دې شخړه کښې چې پښتانه لړ او بې ځواکه وو چې د سرو مغلو پېښه راغله او اخیسته ئې وکا، یو ځو غښتلي د بابا هوتک خپلوان ومړل، بابا هوتک په لوړ ږغ دا سندره لوله او په غشیو ئې د مغلو ټټرونه څیرل." (١)

## د بابا هوتک ترانه:

پر سور غر بل راته نن اور دی
وګړیه جوړ راته پېغور دی
پر کلي کور باندې مغول راغئ
هم په غزني هم په کابل راغئ

* * *

غښتلیو ننګ کړئ دا مو وار دی
مغول راغلی په تلوار دی
په پښتونخوا کښې ئې ناتار دی
پر کلي کور باندې مغول راغئ

* * *

آه، د مرغې غښتلیو راسئ
پر ننګ ولاړ د پښتونخوا سئ
توري تېرې، غشي تر ملا سئ
پر کلي کور باندې مغول راغئ.

[1] پټه خزانه، ۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



❋ ❋ ❋

زلمـــو پـــه غشـــیو کـــړئ وارونـــه
د تېـــرو تـــورو ګزارونـــه
ورورانـــدی کـــړئ خپـــل ټټرونـــه
پـر کلـي کـور بانـدې مغـول راغـئ

❋ ❋ ❋

زمـــا د زلمـــو ويـــنې بهېـــږي
مځکـــه او غرونـــه پـــه سره کېـــږي
میرڅـــی زغلـــي او ترهېـــږي
پـر کلـي کـور بانـدې مغـول راغـئ.

❋ ❋ ❋

پښتنـــو هلـــئ پـــر غـــره جـــنګ دی
ســور غــر پــه وينــو د دوی رنـګ دی
مهـــال د تـــورې دی د نـــنګ دی
پـر کلـي کـور بانـدې مغـول راغـئ.

❋ ❋ ❋

زلمـــو پـــر نـــنګ ځانونـــه مـــړه کـــړئ
دښمـــن پـــه غشـــیو مـــو پېیـــه کـــړئ
د پښتونخـــوا مځکـــې ســـاته کـــړی
پـر کلـي کـور بانـدې مغـل راغـئ.

غښتلـو مېـړو چـې دا سـندره اورېدلـه، پـه جګـړه تودېدلـه، ترخـو چـې سـورغر يـې م مغولـو پـه وينـو ولاړه او ټـول يـې پېنـا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کړل[1]

وايي چې بابا هوتك د مغلو سره ډېر جنګونه وکړل او د ارغندا پورې خوا ته ئې وشړل او هر کله به د اتغر او مرغې غښتليو پر دوی يرغلونه کړل او په غرونو به مغول ننوتل، بابا هوتك چې سپين ږيری شو، عمر ئې نه اويا کالو ته ورسېد، نو په سنه ۷۴۰ه وفات سو[2]

## ۲_ ملکيار:

په هوتکو کې چې تر ميرويس نيکه دمخه بل سړی مشهور دی او د اولس مشرتوب يې کړی دی، ملکيار نومېږي. دا ملکيار د هوتك بابا زوی دی، چې تر پلار وروسته يې په پنځوېښت کلنۍ د اولس د مشرتوب پګړۍ په سر کړله، چې په دي حساب نو دده د زېږېدو کال ۷۱۵هـ کېږي. پټه خزانه ليکي، چې: "ملکيار ډېر غښتلی او قوتمند سړی و، په جنګو کې به له لسو تنو سره بډ و"[3] کوم وخت چې ملکيار مشر شو، نو تر هرڅه دمخه يې زراعت او کرنې ته توجه وکړه، شاړې او ورانې مځکې به يې ودانولې. د سيوري په لتو کې يې ډېر خپلوان راټول کړل او هلته يې کارېزونه وکښل او خپل زلمي يې په کښت او کرنه وګومارل، په دې وخت کې مغول له دې ودانيو څخه غوږن شول او څنګه چې يې د پښتنو د ملك

[1] پټه خزانه، ۱۳، ۱۱، ۷ مخونه.
[2] پټه خزانه، ۷، ۱۱ او ۱۳ مخونه
[3] پټه خزانه، ۷. ۱۱ او ۱۳ مخونه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ودانېدل پر خوانه هوارېدل، نو يې پر سيوري يرغل وکړ او ملکيار ډېر سخت جنګونه ورسره وکړه، په دغو جنګو کې لومړی وار د پښتنو مېښې ورانې شوې او څېنې لا ږوب او مرغې ته ولاړل او څېنې هم وازې خوا ته، خو دوهم وار بيا ملکيار پښتانه زلميان سره راغونډ کړل او پر مغولو يې سخت يرغل يووړ، مغول يې وشړل او سيوری يې بيا ودان کړ.([1])

ملکيار د مشرتوب سره روحاني جنبه هم درلوده او ښه متدين او خدای غوښتونکی سړی و، د پښتنو اولس پر ده باندې عقيده درلودله او دده وينا يې خير محض بلله، لکه چې وايي:" يوه ورځ د خپل اکا "توخي" کور ته ورغئ، د خپل اکا زوی "نور بابا" ئې وليد، چې غشي تېره کوي، پوښتنه ئې څېنې وکړه: څه کوې؟ هغه وويل: د مغولو په جګړو کښې ستا ملاتړ يم! ملکيار بابا دعا وکړه، چې :" تربوره! تل سوب من اوسې!" او وايي چې د همدې دعا برکت و، چې نور بابا په هر ميدان کې بريالی او فاتح و او دده ماته د هېچا ياده نه ده.

وايي چې يوه ورځ د مغولو تاړاك پر سيوري راغی او هغه وخت د ملکيار بابا په کلا کې پرته له ښځمنو بل څوك نه و، نور بابا په خبر شو، زر يې ځان هغه کوټ ته ورساوه او په يوه تن يې مغول وشړل او ډېر يې مړه کړل، دا ټول د ملکيار بابا د دعا برکت و.([2])

---

[1] پټه خزانه، ۷، ۱۱، ۱۳ مخونه.

[2] پټه خزانه، ۱۵ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



علاوه پردې ملکيار يو ملي شاعر هم و او په پښتو کې ښه سوځونکي او له تاثيره ډك اشعار لري، دده اشعار پر ملي وزن او مليْ روح دي، چې دلته به يې د نمونې په توګه يوه سندره راوړو:

وايي چې په ۷۴۹ هجري کې د پسرلي په موسم د ترنك رود ډېر ډك راغى او سخت نېزونه پکښې راتوى شول، يوه مياشت يې چړ او ګودر ونه موند او غاړې غاړې بهېدى، ملکيار بابا چې د ترنك څنډو ته راغئ دا سندره ئې وبولله:

ترنك بهېږي ترنك بهېږي غاړې تر غاړې
زما زړګى خو خپل لالى غواړي

***

که روده روده! د ترنك روده! خاوند
دې وچ کا
چې زړګى مومي زما، خپله سوده

***

که نېزدې نېزدى نېز د بېلتون دى زړه نېزه
وړې
په وير ژړلي په غم زبون دى

***

که اور دى اور دى په زړه مې اور دى دا اور به وچ کا
د وير نېزونه بل ډېر په زور دى

***

نمنځنه يوسه سپيني سپوږميه ورته ووايه
چې ترنك تال کړم ستا له خولګيه.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



***

که خړو خړو! ، اوبو سوان کړئ بېل "ملکیار" دی
پاته له یار دی سوب يې جانان کړئ.

***

## ۳ـ ښالم خان:

دریم سړی چې تر میرویس دمخه د ټبر او اولس د مشر او خان په حیث پېژندل شوی، ښالم خان د میرویس نیکه پلار دی، چې د خپل زوی تر قیادت دمخه د هوتکو له نومیالیو مشرانو څخه و. حتی د هوتکو یوه ښنه دده په نامه "ښالم خېل" یادېږي. ښنتانه د هوتکو دې ښنې ته په درنه سترګه ګوري، تر داسې حده پورې، چې که کوم ښتون غواړي ځانته امتیاز وټاکي، په ځواب کې ورته ویل کېږي: "ته نو کم ښالم خېل یې!" یعنې که ښالم خېل وای، نو د امتیاز حق دې درلود. هغه وخت چې ښالم خان د سلطان ملخي د لور مېرمن "نازو" سره ازدواج وکړ، نو د هوتکو او توخو خپلوي تر پخوا ټینګه او محکمه شوه.

ښالم خان ته د مېرمن نازو له نسه (چې د کندهار یوه پوه او خورا زبردسته شاعره او عالمه ښځه وه، چې وروسته به یې مفصل شرح حال راوړه شي) ځلور زامن خدای ورکړه، چې تر ټولو مشر زموږ ملي زعیم میرویس خان (مشهور په میرخان) و او درې نور زامن یې یې داوه: عبدالعزیز خان، یحیی خان،

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



عبدالقادر خان[1]. ددې درو له منځه عبدالعزیز خان د میرویس تر مرګ وروسته پر تخت هم کښېناستلی دی.

دا و د هوتکو حال تر میرویس دمخه. د دوی حال چې ولیکل شو نو تر ملي نهضت دمخه څه نه څه د کندهار وضعیت هم ځینې څرګند شو یعنې دا ځینې ښکاره شوه، چې کندهار که څه هم د دوو طماعو ګاونډ یو ترمنځ واقع و، خو بیا یې هم نسبتاً استقلال او خپلواکي وه، بلکې پخپل منځ کې یې مستقل او ځانتنی حکومت درلود، چې د هېڅیا تر اثر لاندې نه و. دا تر هغه وخته چې د اصفهان د دربار څخه "ګرګین خان" د پښتنو د پایمالولو لپاره ټاکل کېده او د یوه خورا لوی او مسلح لښکر سره د کندهار د حاکم او بیګلر کې په نامه کندهار ته راته. د ده د رارسېدو سره د پښتنو ډېرې مېنې ورانې شولې او ډېر ښاغلي پښتانه یې تر خپلو شخصي اغراضو قربان کړه، چې وروسته به مفصل راشي، مګر د ګرګین د اګرګوالي ډېر پاته نشو او نه پښتنو دده ظلمونه وزغملای شوه، ټول پښتانه د خپل وخت ملي مشر میرویس نیکه ته راغله او میرویس نیکه هم د ملي ننګ پرځای کولو لپاره ولاړ شو ملا یې وتړله، وخوځېد او ده له خوځېدو سره د اصفهان تخت په خوځېدو راغی. ګرګین یې له مېنځه ویوست او بیا یې د پښتنو ملي حکومت په افغانستان کې تاسیس

---

[1] پټه خزانه، ۱۷۷ مخ. حیات افغانی، ۲۵۷ مخ، (پښتو چاپ، دویم ټوک، ۳۲ مخ، شجره. م. هوتك)، خورشید جهان، ۲۱۰ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کړ، چې وروسته به مفصل راشي. اوس چې تر میرویس دمخه د پارس، هند او کندهار وضعیت څرګند شو، نو به د ملي زعیم میرویس نیکه په پېژند ګلوۍ ګوتې پورې کړو او دده هغه لوړ او قیمتدار خدمتونه، چې هېڅکله به یې پښتون ملت هېر نه کړي، تر کمه ځایه چې ماخذونه په لاس راغلي، ولیکو که خدای کول!

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# ميرويس څوک و؟ او څه يې وکړه؟

## دده د نسب سلسله:

د ميرويس نيکه د نسب په سلسله کې او دا چې دی په څو واسطو بابا هوتك او بابا غلځي ته رسېږي، د مؤرخينو اختلاف دی. نتيجه يې بېرته هغه د پښتنو جمله ده، چې بايد وويل شي: دا سلسله "نه پر څه ده، نه بې څه ده!" مثلاً حيات خان او شېر محمد دده سلسله داسې رانقلوي:"حاجي مير خان ولد ښالم خان ولد کرم ولد مندولد عمر ولد جلال الدين ولد قطب ولد اسحق ولد حسين ولد ملکيار ولد هوتك بن بارو بن توران بن غلځی([1])" مګر سلطان محمد کندهاری بيا دا سلسله ډېره لنډه ضبطوي او پورتنی حسين نامي د ميرويس

[1] حيات افغانی، ۲۵۶_۲۵۷ مخونه، پښتو حيات افغانی، دوهم ټوك، ۳۲ مخ (م. هوتك)، خورشيد جهان، ۲۱۰ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



خان پلار ګڼي([1]) له اوو تنو څخه سترګې پټوي او صرف نظر کوي، نو په همدې دلیل لومړی سلسله هم کاملاً د اعتبار او ویسا وړ نه ده، خو څنګه چې لږ و ډېر د ملي عنعنو او روایاتو سره سر خوري، نو ټوله سرتر پایه غلطه هم نشو بللای.

په هر صورت موږ صرف نظر له دې څخه، چې دی په څومه سلسله بابا هوتک ته رسیږي، میرویس د یوه پښتانه مشر او ملي قاید او مفکر زعیم په حیث او بیا د یو غښتلي عسکر په نامه پېژنو، نو څه دي که یې د ټولو نیکونو، نومونه تر بابا هوتک پورې یاد نه کړو، ځکه چې ده د خپلې سلسلې په اعتبار هغومره کار نه دی کړی، لکه چې د خپل مستقل شخصیت څخه یې کار اخیستی دی. میرویس بالذات لوړ شخصیت، فکور دماغ او حساس ماغزه درلوده، چې بیا یې د پښتنو د ملیت روغ د وطن په غرو رغو کې پورته کړ او خپل قوم یې د پردیو له حکمه خلاص کړ او په افغانستان کې یې د ملي حکومت اساس کېښود.

## د میرویس کور:

تقریباً درې سوه کاله پخوا د کلات او کندهار په منځ کې

---

[1] تاریخ سلطاني، ۷۱ مخ، د بمبی طبع. (د تاریخ سلطاني مولف په دې برخه کې تېروتلی دی. د میرویس نیکه په کورنۍ کې ساتله شوې شجره په حیات افغاني او خورشید جهان کې راغلې شجرې ته ډېره نږدې ده. دومره توپیر سره لري چې په کورنۍ شجرې کې د حسین او اسحق ترمنځ د سفر په نامه یو بل تن هم شته. وګورئ: د خپلواکۍ لمر څرک، ۸ مخ. (م. هوتک)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



یوه جگه او باشکوهه کلا لیدل کېدله، چې د تازي([1]) د رباط جنوب ته د سلطان ملخي توخي له خوا، چې د پښتنو ملي مشر و، جوړه شوې وه او ددې کلا څښتن ته د غزني څخه تر جلدکه پورې ټولو قومونو د اطاعت سر ټیټ کړی و او ده مستقله حکمراني درلودله.

په ۱۰۶۱ هجري کال په همدې کلا کې یوه ښکلې نجلۍ دنیا ته راغله، چې ددې مشر د کورنۍ مسرت او خوشي یې یو په دوه کړه، څوك څه پوهېده چې دا پښتنه نجلۍ به د خپل قوم په سرنوشت کې څه رول ولوبوي؟ پردې نجلۍ یې "نازو" نوم کښېښود، څو چې د وړکتوب څخه نجلیتوب ته او له نجلیتوب څخه پېغلتوب ته ورسېدله.

پلار یې د خپلې لور په علمي روزنه کې ډېره توجه درلوده، له فاضلو مېرمنو او سپین ږیرو علماو څخه یې لیکل او لوستل زده کړل، دا زده کړه تر هغه وخته جاري وه، چې ددې پلار "سلطان ملخی" سره غره ته نژدې په یوه جنگ کې وفات شو. هغه وخت نو د کورنۍ چارو اداره او د اولس مشرتوب ددې پرغاړه ولوېده، خصوصاً له هغه وخته څخه چې "حاجي عادل" د نازو ورو هم له دې جلا شو او د خپل پلار د انتقام اخیستلو په نیت جنگ ته ولاړ، د کلي او کور ساتنه هم نازو ته پاته شوه او دې هم د یوه پښتانه زلمي په څېر توره تر ملا کړه او د څو ننگیالیو تربرو سره یې خپل ټاټوبی د پردیو له هجومه

[1] د کلات د شمال شرق خوا ته دوهم رباط دی، چې د کابل پر لار واقع دی.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



وساته.([1])

مېرمن نازو هم د نورو پښتنو مېرمنو په شان مېلمه پالونکې او مېلمه ساتونکې وه، د مېلمنو په ډوډۍ ورکولو او د مسافرانو په ساتلو ډېره مشهوره وه، تل به د ژمي په موسم ډلې ډلې مسافران راتله او ډېرې د پردېسانو قافلې به د مېرمن نازو د کلا مخ ته پنډې وې. په سلګونو تنو پردېسانو ته به يې ډوډۍ او کالي ورکول، څو چې ددې مېرمنې د سخا نوم له خيبره تر کوسانه خپور شو([2]). په دې وخت کې نو د "ښالم خان" هوتك په نکاح شوه او لوی خدای څلور زامن ورکړه، چې نومونه يې دمخه ذکر شول او تر ټولو مشر نوميالی پښتون ميرويس و، چې ددې زمری پښتنې په غېږ کې وپالل شو او يو زمری پښتون يې پښتانه ملت ته وړاندې کړ.

علاوه پردې ټولو مېرمن نازو يا د ميرويس نيکه مور يوه عابده، صالحه او نيك عمله ښځه وه، تر داسې حده چې د پټې خزانې مؤلف وايي خپل اولاد ته يې هېڅ وخت بې اوداسه او بې طهارته شيدې نه دي ورکړي. کم وخت چې يې سن پوخوالي ته ورسېد او پخه ښځه شوه، نو برسېره پر پورتنيو ښېګڼو د ادب او علم سره يې تينګه علاقه وموندله او په لږه موده کې نوموړې شاعره شوه، دا يوه رباعي يې تر موږه پورې رارسېدلې ده، چې وايي:

---

1. پټه خزانه، ۱۷۵ مخ.
2. پټه خزانه، ۱۷۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



سحرګه وه د نرګس لېمه لاتده
څاڅکي څاڅکي يې له سترګو څڅېده
ما ويل: څه دي، کښلي ګله ولې ژاړې؟
ده ويل: ژوند مې دی يوه خوله خندېده.

همدا پورتنی فکر دی، چې د اوسني عصر مشهور فيلسوف او شاعر "اقبال" په خوږو الفاظو کې ادا کړی دی او وايي:

شبی زار نالیدا بر بهار
که این زندگی گریهء پیهم است
در خشید برق سبک سیر و گفت
خطا کردهء خندهء یک دم است
ندانم بگلشن کی برد این خبر
سخنها میان گل و شبنم است.

## د مېرمن نازو خوب ليدل:

چې ميرويس نيکه وزېږېده، مور يې په هم هغه لومړۍ شپه خوب وليد، چې حضرت بيټ نيکه دې ته وايي:"زما لورې! دا زوی ښه تربيه کړه، کم وخت چې ستا دا زوی لوی شي لوی کارونه به انجام کړي، حج ته به ولاړ شي...

زما لورې! دده په روزنه او تربيت کې غفلت ونکړې، دده له نسله به نيک شاهان پيدا شي، چې دين ته به رهنايي ورکړي.
دده په تربيه کې ښه زيار باسه او دقت کوه، دده پر اوږه د لويو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



لویو کارو انجام پروت دی"[1]

مېرمن نازو ددې خوب په اثر برسېره پر مورني عطوفت یوه بله مخصوصه علاقه هم له خپل دې زویه سره پخپل ځان کې حس کوله. د میرویس په روزنه کې به یې ډېر دقت کاوه، څو چې میرویس ددې له زمري روزنکي غېږ څخه پاڅېد، زلمیتوب ته ورسېد. څنګه چې یې مور پخپله عالمه او پوه مېرمن وه، د زوی د شېږ کلنۍ څخه یې دده په تعلیم شروع وکړه او په یوه کال کې یې د دین ټول فرایض په زده کړه او تل به یې ورته ویل:" زویه! د بیټ نیکه له خولې، تاته ډېر لوی لوی کارونه ګوري، چې باید انجام یې کړې، چې لوی شې د لوی خدای عبادت او د خدای د خلکو خدمت کوه..."

زویکه! ته خدای ددې دپاره پیدا کړې، چې لوی لوی کارونه سرته ورسوې او ستا خپل قوم او اولس ستا تر سیوري لاندې ستا د خدمت او زحمت په اثر آرام واوسي!".

چې میرویس زلمی شو، تل به یې په هر مجلس کې د خپلې مور پورتنی وصیت یاداوه او ویل به یې:"زما مور ماته د لویو کارو د انجامولو وصیت کړی دی، زه باید زیار وباسم چې د مور وصیت پرځای کړم او له خدایه توفیق غواړم!".

## د میرویس د زېږېدو نېټه:

په یقیني او قطعي توګه څرګنده نه ده، چې میرویس نیکه په کوم تاریخ او نېټه زېږېدلی دی، مګر که دده د مور او دده د

---

[1] پته خزانه، ۷۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



لومړي زوی د زېږېدو د تاریخ له رویه تخمیني تاریخ وټاکو، نو دده د زېږېدو کال ۱۰۸۴ هـ ټاکلای شو او یقین ته نژدې دی.

ځکه چې دده مور مېرمن نازو په ۱۰۶۱هـ کال زېږېدلې ده او څنګه چې په پښتنو کې معمول ده، د مشرانو او خانانو لوڼې د پلرو پر کور ډېرې کښېني، د شل او پنځه ویشتو کلو په عمر کې یې مېړو ته ورکوي، نو ځکه به د مېرمن نازو مړوښې چې د ښالم خان په نکاح شوه، په ۲۲ کلنی توب وبولو او یو کال وروسته به هم د میرویس زېږېده فرض کړو، چې پوره په ۱۰۸۴هـ کال واقع کېږي او دا تخمین د مؤرخینو له دې قول سره چې وایي شاه محمود د میرویس لومړی زوی د میرویس د وفات په کال اتلس کلن و[1]، هم تناقض نه لري، ځکه چې د میرویس وفات په ۱۱۲۷هـ کال و، نو د شاه محمود زېږېده په ۱۱۱۰هـ کال یعني یو کال تر واده وروسته طبیعي دی.

## د مېرویس ازدواج:

دمخه مو وویل چې سلطان ملخی توخی د غلځیانو د ټبر مشر او سلطان خداداد (مشهور په سلطان خودکی سره) د ابدالیو مشر د نفاق او نزاع د دفاع او جلوګیری لپاره د ابدالیو او غلځیو د مځکو ترمنځ یې حد وټاکه.

[1] تاریخ افغانستان د مېلسیون اثر د منشي احمد جان ترجمه، ۲۱۷ مخ. ترکتازان هند، ۴ جلد، ۱۴۷ مخ. سرجان مالکم ۱۹۹ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



دې د حد تـاکلو که څه هم په ظاهره د دوی په منځ کې بېلتون اچاوه، مګر معنا ډېر ګټور او مفید ثابت شو، ځکه چې له یوې خوا یې د پردیو کرغېړن او له فساده ډك لاسونه پرې نه ښودل، چې دوی پخپل منځ کې سره واچوي او له بلې خواهرې قبیلې په ډېر جدیت سره د خپلې برخې په ودانولو لاس پورې کړ او ډېر زیار یې یوست، دا رویه د سلطان ملخي تر مرګ وروسته دده د ورور حاجي عادل یا حاجي ابدال له خوا هم تعقیب شوه، خو کم وخت چې دولت خان سدوزی د ابدالیانو مشر شو، پر غلځیانو یې لښکر وکړ او هغه یې ډېر ژوبل کړ او د میرویس پلار یې ښار صفا ته راووست، دا هغه وخت دی چې میرویس لومړی ځل د زلمیتوب ګلونه بویوي او یو ښکلی قوي زلمی ځینې جوړېږي، چې د پښتنو په اصطلاح خور پر مینه کېدله. اتفاقاً په همدې ځای کې یوه پېغله نجلۍ وه، چې "خانزاده" نومېدله*. دې نجلۍ یوه مور درلوده، چې نوم یې "درخو" وه، پلار یې جعفر خان نومېده، چې د سدوزو مشهور خان او په سدوزو کې "کامران خېل" و[1] او څو موده دمخه وفات شوی و، بل وارث یې نه درلود او ډېر جاېداد یې هم پاته شوی و، څوك یې نه درلوده، چې کورنۍ او د باندنۍ چارې یې اداره کړي، هغه و، چې د نجلۍ مور میرویس خپل زوم والي ته راوباله، میرویس هم دا یوه غیبي فتح او الهي

* ددې نوم په ځینو کتابو کې "خانزادۍ" بلل سوی دی.(م. هوتك)

[1] کامران خان د اعلیحضرت احمد شاه بابا له نیکه ګانو څخه و.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



فیض وګانه، دا نجلۍ یې په نکاح کړه([1]) کم شي چې دې ازدواج میرویس ته ګټه ورسوله، علاوه پردې چې د جعفرخان مشرتوب، خاني او جهانداري دده لاس ته ورغله، د سدوزي ټبر صمیمي خپل او محرم هم شو، څو چې وروو ورو ددې ازدواج په اثر د سدوزیانو په زړو کې یې هم د غلځیانو په شان ښه ځای او لوړ مقام ونیو او میرویس یې په اولسي معاملو کې خپل لوی مشاور وګاڼه.

## د میرویس کسب:

دمخه تر هغه، چې آزادۍ غوښتونکي او سیاسي او قومي لوړ افکار د میرویس په ککره کې ځای ونیسي او یا وروسته تر هغه، چې د جعفر خان دولت د میرویس پلارنۍ بدائي ډېره کړي، میرویس د تاجر په نامه مشهور او پېژندل کېده او دلویو لویو کاروانو په ذریعه به یې د هند خوا ته تجارت کاوه([2])

که څه هم دده د تجارت څخه بېله د "افغان او پارس جنګ"

---

[1] تاریخ سلطاني، ۷۰_۷۱ مخ.

[2] د افغان او فارس جنګ، د جارج نیون هام فورد اسحاق ترجمه له لاتیني څخه په انګلیسي. (ارواښاد بېنوا ددغه کتاب انګلیسي نوم نه دی ښوولی او د مترجم په نامه کې هم بدلون راغلی دی. ددغه کتاب انګلیسي نوم The A history of the Afghan wars with Persia یاThe Choronicles of a Traveller دی. انګرېزي مترجم یې George Newnhan Mitford,ESQ نومېږي او په حقیقت کې هماغه یادابښتونه دي، چې وروسته په "تاریخ سیاح مسیحي" یاد سوی دی. د میرویس د تجارت یادونه ددغې انګلیسي ژباړې په ۳۴ مخ کې راغلې ده.

(م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د کتـاب لـه لیکـونکي څخـه بـل مـؤرخ څـه نـه لیکـي، یـوازې میلسـیون لیکـي، چـې میـرویس ډېـر هوښیـار، پـوه او ډېـر دولتمن سړی و([1]).

مګـر د وروسـتنیو واقعـاتو څخـه، چـې د اصـفهان د دربـاریـانو خـولې د هنـدي قیمـت بهـاو تحفـو او سـوغاتو پـه زور ګنـډي او یـا د حجـاز علمـا او ملایـان د ځـان کـوي، دده بـډایي او ثـروت ښـه تـاثیر ښنـدي او معلومېـږي، چـې حقیقتـاً هـم دی بـډای ثـروت منـد سړی و او هـم یـې تجـارت کـاوه او تـر هغـه وختـه د تـاجر پـه نامـه یادېده، څـو چـې د پښتني مشـرانو پـه ټولـۍ کـې یـې ځـای نیـوه او د دوی ښاغلي مشر ټاکل کېده.

## د میرویس شخصي صفتونه:

میـرویس د نـرمې او ملایمـې طـبعې خاونـد و، دده متـین فکـر، زرینـه رایـه، رسـا ذهـن، لـوړ اخـلاق و او دده د سـخاوت شـهرت مـؤرخین ډېـر سـتایي([2]) مګـر سربېره پـردې ټولـو مهـم او بهتـر صـفت چـې د میـرویس سـره یـې پـه مشـرتوب او ملـي مقاصـدو او سیاسـي میـدانو کـې ښـه مرسـته کولـه، دده فصـیحه ژبـه، خـوږه وینـا، جـذاب نطـق و، ځکـه چـې د اصـفهان د دربـار قـانع کـول او د ګـرګین پـرخلاف د هغـو رایـه ګرځـول او یـا د حجـاز علمـا خپلـول او د هغـو څخـه د خپـل مـرام سـره سـمه فتـوی اخیسـتل، څـه داسـې آسـانه کـار هـم نـه و چـې یـوازې پـه سـوغاتو او

[1] تاریخ افغانستان، اثر میلسیون ۱۹۷ مخ.

[2] تتمة البیان، ۷۵ مخ، سرجان مالکم، ۱۹۷. تاریخ سلطانی، ۷۱ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



تحفو سرته رسېدلی وای، بالاخر د پښتانه یو ملت تر لویه او کوچنیه فداکارۍ او ځان نثارۍ ته حاضرول څومره قوت غواړي؟ دا ټول میرویس د خپلې غوره وینا په زور سرته رسولی دی.

هو، لږ وروسته چې دده څو لنډې لنډې ویناوې د واقعاتو په ترخ کې ولولئ، هغه وخت به دده دا ښکلی صفت لا ښه تاسې ته وځلیږي.

## د میرویس مقام د پښتنو په نزد:

وروسته تر هغه، چې میرویس له سدوزو سره خپښي وکړه، دده مقام د پښتنو په نزد دوه چنده لوړ شو، یو خو د غلځیانو مشرتوب د پلار او نیکه څخه په میراث ورپاته شوی و او میرویس د لوی کالخوایه مشر حیثیت د غلځو په نزد درلود او له بلې خوا د کندهار ابدالیو او سدوزو د هغې خپلوۍ او بیا دده د شخصیت په لحاظ دده ډېر احترام کاوه، څو په آخر کې خو د پخود د ابدالیو مشرتوب او ریاست هم ده ته ورسید ، خصوصاً له هغه وخته څخه چې ابدالي دولت خان د خپل زوی نظر محمد خان او د فقیر نامي مریي سره د ګرګین په لاس په شهادت ورسېدل[1] د پښتنو ملت د امید سترګې د میرویس خان خوا ته کږې شولې، که څه هم دولت خان دوه نور زامن هم درلودل، چې یو رستم خان او بل زمانخان (د اعلیحضرت احمد شاه بابا پلار) و او رستم خان وروسته تر

[1] تاریخ سلطاني، ۶۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



هغه، چې ګرګین محمد زمان خان بندي کرمان ته واستاوه، د ابدالیو مشرتوب په غاړه واخیست. مګر سره له دې هم د میرویس نفوذ ورځ په ورځ ډېرېده او ورو ورو اولس پر ده راغونډېده او ښایي چې ددې نفوذ یو مهم علت او سبب دا هم و، چې میرویس د خپل عقل او ذکا په زور د هغه وخت په تقاضا ګرګین ځانته جلب کړی او له خپله ځانه یې راضي کړی و، حتی تر لږې مودې وروسته ګرګین دی په ټولو مسایلو کې د ځان مشاور ګاڼه، په تېره بیا هغه وخت چې د دولت خان زوی رستم خان هم د ګرګین له لاسه په شهادت ورسېد، په پښتنو کې بې له میرویسه بل هېڅ یو مشر او خان، چې د پښتنو سترګې ورواوړي، پاتې نه شو او د ابدالیو او غلځیو مشرتوب میرویس ته وسپارل شو، له همدې وخته څخه د میرویس فوق العاده اهمیت او امتیاز په پښتنو کې شروع کېږي، څو چې تر آزادۍ ګټلو وروسته پښتنو ده ته د "نیکه" لقب ورکړ او تراوسه یې هم حاجي میر خان (نیکه) بولي او دده مزار ته د پښتنو نر او ښځې د حاجت غوښتلو لپاره ورځي او تر هرڅه دمخه یې دده د کتیبې دا لنډۍ سترګو ته درېږي:

**د ننګ ټوټه به مې هرهډ وي**
**که پس له مرګه پر مزار راشې مینه!**

## ګرګین څوک و؟ او ولې کندهار ته راغی:

ددې سړي نوم، چې څو لیکې دمخه تېر شو اصلاً "وختنګ" و. په ختهه ګرجی او د ګرجستان و، چې سلطان حسین د فارس

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پاچا دی د کندهار په حکمرانۍ وټاکه. مګر د مخه تر هغه چې کندهار ته راشي، په ګرجستان کې د پارس له پاچا څخه یاغي شوی و، څو په پای کې ونیول شو او ځکه چې د اسلام دین یې ومانه. سلطان حسین یې تر ګناه ورتېر شو، ویې باخښنه او د "شهنواز خان" لقب یې ورکړ(۱).

ګرګین یو ډېر عصبي المزاجه او ظالم او تند سړی و، چې د پارس د ملیت سره یې څه علاقه نه درلوده او خوزرا خونخوار و، چې د همدې خونخوارۍ په اثر د اصفهان دربار د پښتنو د اپلولو لپاره، چې نه یې غوښتل د بل تر اسارت لاندې وي، مقرر کړ او د شلو زرو تنو لښکر سره یې، چې نور ډېر ګرجستاني جګړن هم ورسره وه، د کندهار د بېګلرګۍ په نامه کندهار ته راواستاوه او هم بل غرض، چې د پارس حکومت دده په رااستولو کې درلود، دا و چې د هند د حکومت په مقابل کې یو ټینګ سد ولري، مګر ګرګین یوازې د کندهار په ښار او حکمرانۍ سکته* ونه کړه، بلکې د سرجان مالکم په اصطلاح چې وایي: "کمینه کشی پیش نهاد خود ساخته قوام ریاست را در دوام سیاست شناخت" خپلو لښکرو ته یې امر ورکړ، چې د خدای د مخلوق مالونه چور کړئ، وینې وبهوئ

۱ زندګانی نادر شاه پسر شمشیر، د نورالله لارودي اثر، ۹ مخ. (اروانباد بېنوا ددغه کتاب د چاپ کال نه دی ښوولی. زما مخې ته چې د نوموړي کتاب کومه نسخه پرته ده، هغه په ۱۳۶۹ ش کال چاپ سوې ده او دغه مطلب یې په ۳۵_۳۶ مخونو کې راغلي دي. م. هوتک)

* سکته: (د لومړي، دوهم او دریم په زور) قناعت، بسنه (م. هوتک)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



او ناموسونه بې پردې کړئ، نو هغه و چې سرجان مالکم وايي: "...و مصداق ان الملوك اذا دخلو قريه بظهور پيوست([1])" او ګرګين په دې ګمان، چې په داسې شدت او سرزنش به پښتانه خوار او محکوم کړي، د خورا سختۍ څخه يې کار اخيست، نو له همدې ځايه څخه پښتانه د ګرګين له ظلمونو او ستمونو په تنګ شول، خپل ملي مشر ميرويس ته يې استغاثه* وکړه، ځکه چې دمخه مو وويل چې دا وخت په پښتنو کې بې له ميرويسه بل څوك نه و، چې پښتانه يې د ظلم له اوره ژغورلی وای. ميرويس هم د دوی په داد ورسېد او د قوم آزادولو او ملي خدمت ته يې پر خپل تجارتي کسب چې په اخته و، ترجيح ورکړه، نو د اولس د آزادۍ په فکر مشغول شو او د ګرګين سره يې رابطه پيدا کړه، چې لاندې به يې وليکو.

## ميرويس او ګرګين:

ميرويس وار د واره ګرګين ته د خپلوۍ او دوستۍ د لارې راغی او پخپله ذکا او کامل تدبير يې هغه ځانته جلب کړ او ګرګين داسې ګڼله، چې ميرويس دده له صميمي همکارانو څخه دی، څو چې لږ وروسته د ګرګين په مشوره ميرويس اصفهان ته ولاړ او له هغه ځايه يې د پښتنو د مشرتوب خط

[1] تاريخ ايران، سرجان مالکم، ۱۹۶ مخ.

* استغاثه: پناه وړل، عرض کول. (م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



راوو‌ړ(۱) چې ګویا د ګرګین په مصلحت د فارس د حکومت له خوا د پښتنو مشر مقرر شو.

چې کندهار ته راوګرزېد، دلته یې له یوې خوا ملي او قومي مشرتوب د خپل متین فکر او زرینې رایې په زور په داسې ښه توګه اجرا کاوه، چې د سلطان محمد په قول "محسود اقران و سرآمدا بنای عصر" شو او له بلې خوا یې د ګرګین سره داسې چلاو کاوه، چې ګرګین دی یو د رشتینو دولتخواهانو ځخه ګاڼه. لکه سلطان محمد، چې وایي: "...بې مشوره‌ء او بکاری نپرداختی و بغیر اجازه اش اقدام صلح و جنګ نساختی و اکثر مالیات دیوانی دور دست را بمرافقت مطابقت او بدست آوردی یعنی لشکر را بسر کردګی میرویس خان باطراف می فرستاد و مالیات را حصول می نمود."(۲) برسېره پردې یې د ښار د کلانترۍ منصب، چې په هغه وخت کې ډېر لوی او جلیل منصب باله کېده، هم درلود(۳). چې که یې ددې وخت سره مقایسه کړو، نو ښایي چې "د بلدیې رئیس" به یې وبولو.

مګر دا ټول کارونه تنها او تنها ددې لپاره و، چې میرویس خان د خپل ملي مقصد او لوړ مرام د حاصلولو لپاره وړ او مناسب فرصت او وخت پلاټه* او دده په خپله اصطلاح

---

[1] تاریخ سلطانی، ۷۱ مخ.

[2] تاریخ سلطان، ۷۱ مخ (نقل قول له اصل سره توپیر لري، ما سم کړ. (م. هوتک)

[3] سرجان مالکم، ۱۹۷ مخ.

* پلاټه: پلټلی، لټاوه. (م. هوتک)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



میرویس غوښته، چې فتنه ویده مړه.کړي. څنګه چې د ګرګین ظلمونه تر حد تېر شول. میرویس مجبور شو د ملي وکیلانو یو هیئت سره له یوې عریضې چې د ګرګین ستمونه او مظالم پکې لیکلي وو، د اصفهان دربار ته ولېږي، چې ګوندې د پښتنو په داد ورسېږي او لومړی سړی، چې په هغه عریضه کې یې امضا کړې وه، میرویس و([1]) دا هیئت چې اصفهان ته ورسېد، هر څومره سعیه چې یې وکړه خپل عرض یې د پاچا حضور ته ونه رسولای شو او تر ډېرې مودې پورې یې د قابچیانو او دروازه وانانو د ډېرښت له کبله د تشرف موقع ونه موندله، څو په پای کې چې تر ډېر کوشش او زیار وروسته د پاچا حضور ته د دوی عریضه هم ورانډې شوه، چا یې پر عرض غوږ ونه نیو. د ګرګین دوستانو چې د پاچا په حضور کې و، پاچا ته وویل:"این عریضهء باغیانست شائستهء اعتنا نیست([2])" او هم یې علاوه کړه چې :"این سرکشان می خواهند بشکایات ساختګی و بهتان و دروغ از ضبط و ربط بیګلرګی برآمده باز عصیان نمایند"([3]). هغه و، چې د پاچا له حضوره یې سخت ځوابونه او شدید شدید عتابونه واورېدل، په ډېرې مایوسۍ او ناامیدۍ بېرته راوګرزېدل او ټول حال یې پښتنو ته ووایه او پښتانه یې د اصفهان د دربار په نفرت او خیالاتو پوه کړل.

---

[1] تاریخ افغانستان، د میلسیون اثر، پښتو ترجمه ۱۹۷ مخ.

[2] سرجان مالکم، ۱۹۷ مخ.

[3] د تتمه البیان ترجمه، ۷۴ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ګرګین، چې لـه یوې خوا د ملت ناراضي وليدله او لـه دې عریضې خبر شو او لـه بلې خوا یې هم ليده، چې د میرويس نفوذ او قوت ورځ په ورځ تر دولت خان ابدالي هم ډېرېږي، نو د ګرجي مشرانو سره یې مشوره وکړه او چاره یې وغوښتله، هغوی ورته وويل:"که اگر فرقهء غلجائی نیز مانند گروه ابدالی قوی گردد حاکم وقت از دست شان بجز بد حالی چیز دگری را نخواهد دید..." هغه و، چې ګرګین او نور تول ګرجي مشران د میرويس د کښېيستلو په فکر کې ولوېدل، چې کمه پلمه ورته جوړه کړي او دی له اقتداره واچوي او محکوم یې کړي. د همدې اختلاف په اثر یې څه موده وروسته میرويس د پاچا په دښمنۍ متهم کړ او د خپلو معتبرو ملګرو سره یې تحت الحفظ اصفهان ته ولېږه([1]) مګر "د افغان او پارس جنګ" د کتاب لیکونکی لیکي، چې ګرګین د میرويس له اهمیت او اقتداره ببرېدی، په ښکاره یې ده ته د بندیګرت نوم نه واخیست او نه یې بندي کړي، بلکې د تلبیس له لارې یې میرويس ځانته وغوښت او په ډېرو نرمو او خوږو الفاظو یې دده سره مذاکره وکړه او دی یې په قسم او لوړه دده د ځان د سلامتۍ له خوا مطمئن کړ، یوازې یې دا ورته وويل، چې دی یې د اصفهان دربار ته غوښتی دی. بیا یې نو دی اصفهان ته واستاوه. مګر پټ یې خپلو سړو ته وويل، چې په لار کې دده

[1] تاریخ ایران سرجان مالکم، ۱۹۷ مخ او تاریخ افغانستان د میلسیون اثر، ۱۹۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



مراقبت وکړي او دده افعال او احوال تر نظر لاندې ونیسي([1]). په هر حال میرویس په داسې وخت کې کندهار پرېښود، چې ګرګین دده د حبس مکتوب یوځای دده سره پاچا ته واستاوه او په هغه مکتوب کې یې دده اهمیت او د مقام لوړوالی لیکلی و او دا یې ذکر کړي وو، چې"...خوب است این مرد در اصفهان باشد. آرامی قندهار مربوط بحبس این مرد است، ورنه باعث اختلال قوم و حکومت شاه در قندهار میگردد، و باید با و هیچ اجازه عودت بقندهار داده نشود!". دا دی چې د پښتنو ملي قاید میرویس صفوي دربار ته د یوه بندي په حیث ځي.

وګورو چې دا پښتون بندي به د یوې کابینې په مقابل کې څه وکړي؟ ددې پوښتنې ځواب به څو مخه وروسته ووایو!

## میرویس د اصفهان په دربار کې:([2])

مجردې، چې میرویس اصفهان ته ورسېد، دی یې یوه قوي او غښتلي ګارډ ته وسپاره، چې دی ښه وساتي او څو ورځې پرله پسې په بند کې و او له دې پیش آمد څخه لږ په اندېښنه کې و. په تېره بیا هغه وخت چې وایې ورېدل د پاچا کابینه ده

---

[1] د فارس او افغان جګړه، ۳۴۵ مخ (په اصل کې د مخ شمېره نسته. ما له انګلیسي ژباړې د مربوط مخ نمره وروا چوله. (م. هوتك)

[2] کم ماخذ چې د اصفهان د دربار وضعیت ښه څرګندوي او پورته مقاصد له هغه څخه ترجمه شوي دي، یو انګلیسي کتاب "د افغان او فارس جنګ:" په نامه دی، چې دلته استفاده ځینې وشوه. (دا هماغه کتاب دی، چې ما د۵۶ مخ په۲ حاشیه کې اشاره ورته کړې ده. (م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ته په ښه سترګه نه ګوري، مګر سره له دې هم باید لوستونکي انتظار وباسي، چې د یوه پښتون مېړه فکر چېې هغه هم د یوه سیاسي بندي په نامه یاد شوی وي، څنګه د یوې کابینې افکار مغلوبه کوي؟ له محبس څخه یې اعتماد الدوله او د کابینې نورو زعماو ته پیغام واستاوه او اجازه یې وغوښتله، چې د باندې ورووزي او د دوی سره یو ساعت ملاقات وکړي. اجازه ورکړه شوه، راووت. لومړی یې اعتمادالدوله ولید او د هغو خورا قیمتدارو هندي تحفو او سوغاتو وعده یې ورسره وکړه، چې له ځانه سره یې راوړې وه. بیا یې د دربار نور آراکین ولیدل او هر یوه ته یې د منصبو د درجې په تناسب ښې ښې هدیې او تحفې وروړاندې کړې. په همدې ورځو کې یې دیوان بیګ هم ولید او دده سر یې هم په ګرانبهاو تحفو خپل ځانته ټیټ کړ او غاړه یې میرویس ته کږه شوله، ځکه چې میرویس د شرق و او پوهېده، چې د شرق په دربارو کې د رشوتونو په نامه تحفې څومره مهم رولونه لوبوي او همدا ځای دی، چې میرویس د قوم د آزادۍ لپاره د خپلې بډایي او تمول څخه کار اخلي او د اصفهان د دربار د اراکینو ژبې رانیسي او دوی د ځان پر خوا کوي.

بله ورځ یې واورېدله، چې د داخلي چارو او قضایاو د حل لپاره یو لوی مجلس جوړېږي، نو زیار یې ویوست چې دې مجلس ته لاره ومومي او لاره یې هم ومونده. کوم وخت، چې مجلس منعقد شو، دی هم وباله شو. د مجلس رئیس د استفسار په توګه د ګرګین په باره کې له میرویس څخه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پوښتنــه وکــړه. میــرویس ددې لپــاره چــې د مجلــس نظریــه د ګــرګین پــه بــاره کــې ځانتــه معلومــه کــړي، د پورتــه پــوښتنې پــه ځــواب کــې یــې د ګــرګین خــورا ډېــر صــفت وکــړ او وې ویــل، چــې ګــرګین د خپــل ورور پــه حیــث ګڼــي او د ګــرګین د زړورتــوب او عــدل او مســاوات پــه بــاب کــې او د صــفوي حکومــت پــه نسبت د هغــه د فرمــانبردارۍ پــه شــاوخوا کــې ښــه نظریــه ورکــړه او عــلاوه یــې کــړه، چــې "دا رشــتیا وه، کــوم وخــت چــې مغــول د ګــرګین لــه مقررېــدو د قنــدهار د نائــب الحکومــه پــه حیــث خبــر شــول، تــر هرچــا دمخــه مــا دده لــه قوتــه کــار واخیســت او د ګــرګین بــې استثارې مې د قندهار په ساتنه کې زیار ویوست..."

پــه دې وخــت دیــوان بېــګ، چــې د ګــرګین طرفــدار و، وخــت غنیمــت وګڼــه او د ګــرګین پــه بــد ویلــو یــې شــروع وکــړه، وې ویــل:"ګــرګین ډېــر فضــول ســړی دی، دی تراوســه ونــه پوهېــدی، چــې میــرویس دی د ځــان ورور بــولي، دده ســره یــې ډېــر ظــالمانــه رفتــار وکــړ او نــه پوهېــږئ چــې میــرویس دده حقیقــي معــاون او ملګــری دی..." ددې ورځــې مجلــس تېــر شــو، وایــي چــې د میرویس فصاحت او بلاغت مجلس په حېرت کې واچاوه.

بلــه ورځ دیــوان بــیګ ګــرګین تــه ولیکــل، چــې :"تــو لیاقــت جمــع آوری یکصــد هــزار تومــان را نــداری!" دا ســل زره تومانــه معلــوم نــه دی، چــې آیــا پــه هغــه وخــت کــې دا ســل زره تومانــه د کندهار مالیه وه که څنګه؟.

پــه هــر صــورت څــو ورځــې وروســته بیــا میــرویس خبر شو، چــې د اعتمادالدولــه پــه کــور کــې یــو مجلــس جوړېږي، خپــل ځــان یــې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



هلته وروړساوه او د سیل کوونکو په ډله کې کښېناست او د مجلس د ټولو اعضاو سره یې د لاس روغبړ وکړ (له دې څخه معلومېږي، چې په دې وخت کې ده کولای شوه د اعتمادالدوله په اجازه هرځای ته ولاړ شي) تر یوې لحظې وروسته صدراعظم میرویس ته داسې وویل: "ستا په باره کې له کندهاره یو مکتوب راغلی دی او څنګه چې تا پخپله ددې قابل بولم، نو خواهش کوم چې پخپله تاسې د حقیقت له رویه اعتراف وکړي او څه چې مو لیدلي وي هغه بیان کړئ" که څه هم میرویس داسې سړی نه و، چې دمخه یې د اصفهان د دولت رجال نه پېژندل او د دوی پخپل منځ کې د دوی د برخلافۍ څخه خبر نه و، مګر ددې دوو مجلسو څخه ده ته ښه څرګنده شوه، چې په کابینه کې پارټۍ پارټۍ بازي ده او برخلافي شته. ده وغوښته، چې ووایي مګر اعتمادالدوله د میرویس په طرفدارۍ مداخله وکړه او وې ویل: "ته نباید د تعصب او هغو مظالمو له رویه، چې ګرګین ستا سره کړي دي، کار واخلې، بلکې باید د حقیقت له رویه توضیحات ورکړې او زه یقین لرم، چې ته داسې سړی نه یې چې خلاف له حقیقته به څه ووایې..." میرویس خان، چې د دوی پارټۍ، پارټۍ بازي په پټه خوله تماشا کوله، نو یې فایده په دې کې ولیدله، چې نور نو له حقیقته څخه پرده واخلي او د زړه څخه رشتیني رشتیني خبرې وکړي او دا ډول یې په خبرو شروع وکړه:

"تاسې زما څخه د حقیقت پوښتنه وکړه او زه هم پښتون

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



یم، باید حقیقت ووایم او هغه دا دی چې که ګرګین څه موده نور هم په کندهار کې پاته شي، د کندهار وضعیت به ډېر وران شي او د کندهار د حکومت هډونه او جوارح به داسې سره بېل شي، چې نور به یې یوځای کېده امکان ونه لري، ځکه چې ګرګین تراوسه پردې نه دی قادر شوی، چې خپل عسکر هم اداره کړي او د حیا او عفت تر قانون لاندې یې راولي. هغه کسان چې څه سر یې هم نه و ښورولی، ګرګین د هغو مالونه او ثروت غصب کړه او د هغو اولادونه یې د خپلو عسکرو سره ګرجستان ته ولېږل او په دې کې یې زیار ویوست، چې بغي وکړي او یاغیان شي، مګر مانه پرېښودل...

نو ښه، کم وخت چې ډېرې روپۍ او تمول سره یوځای کړي او ډېر عسکر هم ولري، نو آیا دا خطره نسته، چې د هند د حکومت سره موافقه وکړي؟

کم شی به وي، چې ګرګین له دې موافقې څخه راوګرزوي؟.

ولې پاچا د ګرګین پرځای د خپلې کابینې څخه یو لایق او تجربه کار وزیر چې له خپله دینه او مذهب او ملت څخه وای، د سلطنتي کارو د اجرا لپاره انتخاب نکړ؟ تر لمر سپینه ده، چې یو وخت به دا پست فطرته سړی داسې موقع پیدا کړي، چې سلطنت د ورانۍ او خرابۍ اسباب او علل راغونډ کړي..."

پردې ځای د میرویس وینا پای ته ورسېدله او ټول مجلس په دقت واورېدله. طبیعي وه د دیوان بیګ پارټۍ، چې د ګرګین پر خوا وه، دده له دې وینا څخه خواشینې او زړه تنګې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



شوله، مګر باالمقابل د اعتماد الدوله پارټۍ ډېره خوښه او خوشاله شوه او د ميرويس سره يې قول وکړ، چې د مقابلې پارټۍ په مقابل کې يې تقويه او محافظه کړي او ميرويس همدا خبره له خدايه غوښته. تر هغه وروسته ميرويس هرځای مقبول واقع کېدی، خصوصاً د اعتمادالدوله پارټۍ دده ډېر احترام کاوه او دې پارټۍ نه يوازې د ميرويس شفاعت پاچا ته وکړ، بلکې د ګرګين ظلمونه او ناحقۍ يې ټوله پاچا ته ښکاره ... ځرګندې کړې او د فارس پاچا يې د ميرويس څخه خوښ او راضي کړ او پاچا هم ميرويس له قيده معاف کړ.

په دې وخت کې که ميرويس غوښتلای کندهار ته تلای شو، مګر دپارس د دربار برهم او درهم وضعيت دده په مغزو کې نور خيالونه پيدا کړه، چې په هغو کې نه يوازې د قوم د آزادۍ راز پټ و، بلکې د پښتني خاورې وسعت او ارتوالی هم په نظر کې نيول شوی و.

په دې وخت کې دده دوې مهمې قوې وې: لومړۍ قوه ثروت او بډايي، دوهمه قوه قابليت او سياست او له بلې خوا هم د اصفهان د دربار وضعيت دده د کارروايۍ لپاره ښه زمينه تهيه کړې وه، خو سره له دې ټولو بيا هم ميرويس له تعجيل او تلواره کار وانخيست او په دې لاره کې يې سنجيده سنجيده قدمونه اخيستل او دا هم بايد وويل شي، چې د ميرويس دا لومړی سفر نه و، چې د اصفهان دربار ته تی، بلکې لکه ريدي خان مومند (د ميرويس صميمي ملګری) چې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پخپل کتاب محمودنامه[1] کې لیکي، دا تګ ځلورم تګ و، چې د قوم د آزادۍ لپاره اصفهان ته تللی و. لکه د میرویس خان د خولې چې وایي:

دا ځلورم وار دی راځم سلطانه
عرض د ظالم له لاسه کړم سلطانه
که پاچا نکړي داد خواهي د مظلوم
ظالم حاکم کا، ظلم ډېر پر محکوم
جور چې ډېر سي سلطنت سي برباد
د ظلم قصر پېښا بې بنیاد
ګرګ دی ایله کړ پر رمه سو شبان
جور ستم کاندي بیحد ګرګین خان
موږ له طاقت نسته چې کړو به زیاتي
صبر پر ظلم د ظالم ارمني
کافر کولای سلطنت سي مدام
که وکړي داد، نه وي جابر پرانام
مګر ظالم خو نسي کړای سلطنت

[1] ریدي خان، چې د میرویس صمیمي ملګری او پخپل ځای کې به یې مفصل شرح حال راشي، یو کتاب د "محمودنامه" په نامه په پښتو نظم کړی دی، چې ځلور زرو بیتو ته رسېږئ او ټول هغه واقعات یې پکې راوړي، چې ده په سترګو لیدلي دي. مګر متاسفانه دا کتاب وروسته تر هغه، چې شاه حسین زرطلاوي صله ورکړه، ورک شوی دی. یوازې یوه برخه یې چې د میرویس تګ اصفهان او حج ته او هلته د میرویس مناجات او خوب لیدل او د میرویس مرګ څرګندوي، په پټه خزانه کې ضبط شوې ده. (بېنوا)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



خالق رحیم دی، ورکوي خلافت
چاته؟ چې زړه یې وي په مهرر ودان
د خدای عیال ګڼي پر مځکه انسان
سلطانه! واوره په ښې غوږ دا وینا
مکړه ستم د خلق الله په هر چا
د ستمګارو پای ورانی دی خراب
د ظلم اور یې کا پخپله تراب
د مظلوم آه داسې کاري وي ګوره
چې اور یې نه ځي د ظالم له کوره
سلطانه! ګوره پرځان رحم کوه
خپل کلی کور په جور مه ورانوه.

❋ ❋ ❋

د سلطان حسین صفوي د خولې بیا داسې ځواب ورکوي:

"پاچا ویل: زه نسوای کولای چاره
د ګرګین ظلم و ستم دپاره
که ئې معزول کړم قندهار نه پرېږدي
جور و ستم او خپل شعار نه پرېږدي
ګرګین خو ګرګ دی ګرګ خو ظلم کوي
وینې توینه هم پسو نه څیري
زه هم خائف یم، چې به څه کړم ګرګین
نا مسلمان دی، ارمنی دی بېدین

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



نـه پـه اسلام کې ځـان پابنـد ګڼينـه
نه نصرانی نـه لـه عيسی بيرينه"([1])

***

## د ميرويس تګ حج ته:

هغـه وخـت، چـې د پـارس پاچـا پـه لـوړ آواز د ميـرويس بيګناهي اعـلان کـړه، پـه دربـار کې دده رسوخ يـو پـه دوه ټينـګ شـو، تـر څـه مـودې وروسـته يـې د بيـت الله د زيـارت اجـازه وغوښتله او دا دليلونه يې پېش کړه، ويې ويل:

"... د دنيـا لـه مشـقتو او تکـاليفو څخـه سـتړی شـوی يـم او بـل ناروغـه يـم او دريـم خـورا ډېـر شـوق لـرم، چـې د مقدسـو ښـارونو او ځـايونو زيـارت وکـړم او څـو شـپې ورځـې هلتـه تېـرې کـړم او د خـدای لـوی پـاك دربـار ووينـم او د مکـې او مـدينې پـه زيـارت مشـرف شـم او تـر هغـه وروسـته نـو پـه رياضـت او دعـا بوخـت شـم. کـه اعليحضـرت اجـازه راکـړي تـر دې زيـارت وروسـته نـو بېرتـه دلتـه راځـم او خپلـه ټولـه کورنـۍ د قنـدهار څخـه اصـفهان تـه راولـم او دلتـه ژونـد کـوم. هـو، کـه ستاسـې خوښـه وي، خپلـه ټولـه قبيلـه او خپلـوان دلتـه راغـواړم او امـر صـادر کـړئ، چـې راسي."([2])

څنګـه چـې سـلطان حسـين ظـاهراً د مـذهبي مراسـمو ښـه پابنـده و، ځکـه يې ونشـوای کـولای چـې د ميـرويس دا عـزم فسـخ

---

[1] پټه خزانه، ۱۳۹ مخ.

[2] د افغان او پارس جګړه. (دا مطلب د انګليسي متن په ۳۷ مخ کې راغلی دی. (م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کړي او علاوتاً د میرویس له خبرو څخه ډېر خوشاله هم شو، نو وې ویل: "هېڅوک دې په میرویس غرض نلري او نه دې څوک له دې لوی عزمه څخه راګرزوي" میرویس د خپلو ملګرو سره د مکې خوا ته روان شو او مکې ته ورسېد.

د حجاز بانفوذه او مقدس علما یې ولیدل او هغه تحایف او سوغاتونه، چې یې د فارس څخه د ځان سره راوړي و، هر یوه ته یې د هغه د نفوذ په مقدار ورکړه. بیا نو مدینې ته ولاړ او د هغه ښار مقدس ځایونه یې وکتل او د هغه ځای د معتبرو او بانفوذو اشخاصو سره یې هم ملاقات وکړ او هدایا او تحفې یې وروړاندې کړې.

## د میرویس مناجات په مدینه کې:

ریدي خان مومند پخپله محمودنامه کې لیکي، چې په مدینه کې میرویس داسې مناجات وکړ، چې دلته عیناً هغه منظومه رانقل کوو:

ولاړ ئ د شپې ئې په یثرب کا فریاد
رسول د خدای ته "چې سو قوم برباد
ستا پر امت راغئ د ظلم دوران
واوره رسوله ددې قوم فغان
پښتون خو ستا پر نامه ځان کړي فدا
ای خیرالناسه! واوره ته ئې ندا
وژغوره دوی ته د ظالم له لاسه
ګرګین له منځه د پښتون وباسه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ستا په نامه دی کلمه ګویه پښتون
نه به سي هېڅکله له تانه راستون
مرګ و ژوندون مو د اسلام دپاره
ستا د دربار ستا د سلام دپاره
مه مو کړه هېر خیرالوری رسوله!
فخر کونین نورالهدی رسوله!
اوښکي مې څاڅي پر دربار یم ولاړ
قوم سو په اور د ظلم ټوله لتاړ
یو وار نظر وکړه پر موږ چې سو، وړ
و ظالمانو ته ترڅو به یو پړ
ستا لطف و مهر دی شامل پر جهان
هر خراب زړه دی ستا په مهر ودان
که ستا نظر نه وي خراب سو پښتون
په اور د ظلم تور کباب سو پښتون
راغلم له لیرې ستا دربار ته نبي
ته مې شفیع سه خدای غفار ته نبي
چې پر پښتون قوم نازل کا رحمت
کړې ئې خوندي ناموس پخپل مرحمت
لاس د ظالم ئې له ګرېوانه کا لنډ
وچ سي د ظلم د ګندو خیرو ډنډ
ستا شریعت سي ټینګ په منځ د پښتون
ورك سي بیداد او کم سي رنځ د پښتون
دا مې دی سوال ولاړ و درته یمه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



محتاج دي تش و لږ نظر ته یمه
د قوم حال کړم درته عرض په ادب
ته يې بادار د کل عجم او عرب
بیله تا نلري پښتون خواله ګر
ته يې ملهم د خوږو زړو د پرهر
وژغوره زموږ نام و ناموس له بیداد
کړو بې ناموسو ظالمانو برباد
سر که راپورته زموږ حال وګوره
د ظالم ظلم بداحوال وګوره
نه ئې له تا شرم و حیا سته نبي
نه شرم کاندي له عیسی، ارمني
عرض مې د حال وکا، و تاته پیشوا
بل څوك مو نسته خواله ګر په دنیا".

## د میرویس خوب لید:

همدا شان ریدي خان په محمودنامه کې راوړي، چې میرویس نیکه تر پورته مناجات وروسته په هم هغه شپه خوب ولید، چې حضرت صدیق(رض) او حضرت عمر فاروق(رض) میرویس ته داسې وایي:

"وې اې سپین ږیرې نور څه غم مکوه
قوم دې خلاص سو کورت ماتم کوه
ولاړ سه خپل قوم ته دا زېری کړه ژر
چې د ظالم سو کم نقصان او ضرر

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پښتــون بــه خــدای کــا لــه ظالمــه آزاد
نــه بــه سـي ننګــه او نــاموس ئــې بربــاد
خــدای بــه دا قــوم کــا پــه رحــم ودان
نــوم بــه ئــې وينــه مجاهــد پــر جهــان
تل به د خدای په بندګۍ کې وي لوړ
څوك به ئې نکا سر په ټيټه ورځوړ
کلمــه د خــدای بــه وي جــاري پــه افــواه
ورکــوي دوی بــه پــه دي لاره کــې ســاه
څــو ئــې طــره وي د اســلام پــه بګــړۍ
نه به سي ورك نوم ددې قوم له نړۍ"

دقــت: ګران لوستونکي پوهېـږي، چې پـه وروستـه واقعـاتو کـې چـې ميـرويس کنـدهارر تـه ولاړ شـي، ددې خـوب نقـل کـول يـا اورول په هغه عصر کې د پښتانه ملت په روح کې څه شور پيدا کوي؟

ځکـه چـې داسـې روايـات کـه څـه هـم حقيقـت ونلـري، د يـوه داسـې مسـلمان ملـت پـه روح کـې لکـه د پښتـانـه ملـت، چـې دی، سربېره پـر ملـي احساسـاتو يـو مـذهبي او روحـاني تحريـك او شـور هـم پيـدا کـوي، نـو هـر کلـه چـې مـذهبي او ملـي احساسـات سـره يوځـای شـول نـور نـو دداسـې ملـت د خوځولـو او پـه شـور راوسـتلو پـه مـخ کـې هېـڅ بـل مـانع نشـي درېـدلای او هـر اقـدام، چـې وکـړي ددې دوو قوو په اثر حتماً يا محو کېږي او يا کاميابېږي.

## هغه سوالونه، چې ميرويس د حجاز علماو ته وړاندي کړل:

وروســته تــر هغــه، چــې يــې د مــدينې علمــاو تــه هــم تحفــې ورکــړې، بېرتــه مکــې تــه راغــی او "د افغــان او پــارس جګــړه" د

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کتاب لیکونکی، لیکي، چې میرویس په حجاز کې د هغه ځای خورا لویو لویو مشهورو ملایانو ته دعوت ورکړ او هغوی ته یې پټ د خپل زړه راز ووایه او د دوی څخه یې تحریري ځوابونه وغوښتل او ورته یې وویل:

"... موږ د دوو مملکتو ترمنځ واقع شوي یو، چې یو د هند امپراطوري ده او بل د فارس مملکت دی. موږ د محمد (ص) په دین یو او پر څو قبیلو سره وېشلي شوي یو. لیکن څه موده دمخه زموږ مملکت ته رافضي او شیعه ګان راغلي دي او د دوی دلاسه ډېر غیر قابل او نه زغمېدونکي ظلمونه وینو. اوس ئې د ګرګین په نامه یو رافضي بېګلربېګی، چې ډېر ظالم دی، زموږ پر سر درولی دی، چې خلاف د قانون او عدالت څخه پر موږ او زموږ پر کورنیو ظلمونه کوي. نو په داسې حال کې اې بزرګو او لویو علماوو! آیا موږ حق نلرو، چې د خپل دین او ناموس دپاره توري له تېکو راوباسو.؟

که موږ د دوی په مقابل کې د خدای د رضا دپاره د جنګ اعلان وکړو او دوی مات کړو آیا د دوی مالونه موږ ته څنګه دي؟"[1]

د هر سوال په مقابل کې یې مثبت او کافي ځواب وموند، مګر میلسیون د سوالو شکل بل ډول بیانوي او لیکي، چې داسې وه:

---

[1] د افغان او فارس جګړه (وګورئ د نوموړي کتاب انګلیسي ژباړه، ۳۸ مخ. م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



"۱: آیا د هغو مسلمانانو دپاره، چې پخپلو دیني کارو کې آزاد نه وي، د تورې په زور ځان آزادول روا دي؟

۲: که د یوه ملت مشران ناچاره شي د یوه بې دین پاچا سره بیعت وکړي او هغه پاچا د بیعت د لومړني شرطو مراعات وتع کړي، آیا هغه ملت کولای شي خپل بیعت فسخ کړي؟"

ددې دواړو پوښتنو په ځواب کې یې د "بلاشك" کلمه ومونده[1] خو سرجان مالکم فقط دومره لیکي چې:"...در مکه فتاوی از علمای اهل سنت گرفت که محاربه با شیعه و قلع و قمع اینطایفه موافق قانون شرع شریف و مطابق احکام ملت حنیف است."[2]

په هر صورت کم وخت، چې میرویس بېرته اصفهان ته راګرزېده، د فارس د حکومت پرخلاف یې ډېرې مهمې فتواوې د حجاز د علماو او روحاني طبقو څخه په لاس کې وې او بېرته راوګرزېد.

## د میرویس بېرته راګرزېده:

میرویس اصفهان ته راوګرزېده. د مکې څخه یې خپل له ځانه سره ډېر خوشبویه شیان او عنبر راوړه او هغو کسانو ته یې ورانديې کړه، چې د نفوذ او اعتبار خاوندان وه او د هغو سره یې ملاقاتونه هم وکړه. د هغو په زړو کې یې کامل نفوذ ومونډ او تولو دی پاچا ته مقرب کړ. دده دوراندېشي او عقل

---

[1] تاریخ افغانستان، د میلسیون، د منشي احمد جان پښتو ترجمه، ۲۰۲ مخ.

[2] تاریخ ایران، د سرجان مالکم، ۱۹۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



یې وستایه او په سلطنتي چارو کې یې لاره ورکړه[1] مګر میلیسیون لیکي، چې میرویس که څه هم له وزیرانو سره تګ او راتګ درلود، خو په ښکاره یې په ملکي معاملو کې مداخله نه کوله[2] او ښایي دا ددې دپاره و، چې د اصفهان دربار پرده بدګمانه نشي. په دې وخت کې که څه هم میرویس خان ته دا شوق پیدا شوی و، چې کندهار ته ولاړ شي او هغه نقشه، چې له خپله ځانه سره یې طرح کړې وه، عملي کړي. مګر په دې ملي مرام کې یې تلوار روا نه باله او له ځانه سره یې فیصله وکړه، چې څه موده لا نور هم په اصفهان کې پاتې شي.

<u>یو تصادف</u>: په دې وخت کې، چې میرویس خان له مکې څخه اصفهان ته راګرځېده، داسې یو عجیب تصادف واقع شو، چې د میرویس د پلان د عملي کولو لپاره یې زمینه خورا ښه مستعده کړه او میرویس ته یې ډېر ښه فرصت په لاس ورکړ، چې خپل کارونه پاخه کړي او خپلې نظریې عملي کړي.

واقعه دا وه، چې په دې وختو کې: "شماخي" ته یو سفیر راورسېد، چې د روس د امپراتور "پترکبیر" له خوا د اصفهان دربار ته راتی. دا سړی "اسرائیل اری" نومېده[3] او یو سړی و، چې په اصل ارمنی د فارس د "قاپانلوی*" و. دا سړی وروسته

[1] د افغان پارس جګړه. (انګلیسي ژباړه، ۳۹ مخ.م.هوتك)

[2] تاریخ افغانستان، پښتو ترجمه، ۲۰۲ مخ.

[3] Israel Ori

* په انګلیسي متن کې دده د قبیلې نوم Kapan ښوول سوی دی. (م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



تـر هغـه، چـې پـه فرانسـه، ایټالیـا او آلمـان کـې د قهـوه خرڅـوونکي پـه نامـه پـه سیاحت مشـغول و، د لومـړي "لئوپولـډ" د آلمـان د امپراطـور پـه عسـکرو کـې داخـل شـو او ورو ورو یـې پـه هـم هغـو عسـکرو کـې یـو جزیـی منصب پیـدا کـړ او څنګـه، چـې یـو دسیسـه کـار سـړی و، " د اتـریش" د وزیرانـو پـه دربـار کـې یـې هـم پښـه خلاصـه شـوه او ځکـه چـې د شـرق اکثـرې ژبـې یـې زده وې، نـو مـامور شـو چـې اسـلامبول تـه ولاړ شـي او هلتـه څـار وکـړي، چـې ایـا عثمـاني دولـت د هغـې روغـې د منلـو لپـاره آمـاده او حاضـر دی، چـې اطـریش او د هغـه متحـدینو (آلمـان، اولهستان او وینز) یې پېشنهاد کاوه؟

او دا هغه روغه وه، چې په (۱۱۱۱هـ) کال یې تړون وشو.

وروسـته تـر هغـه اسـرائیل اری د روس د قیصـر خـدمت تـه راغـی او د هغـه پـه عسـکرو کـې یـې منصب ومونـد[1] خـو بیـا چـې یـې د روس دولـت تـه پـه عثمـاني مملکتـو کـې ښـه خدمتونـه وکـړه، نـو یـې د هغـو خـدمتو پـه عـوض کـې د پتـر کبیـر څخـه خـواهش وکـړ، چـې دی د سـفیر پـه عنـوان د پـارس دربـار تـه واسـتوي. امپراطـور برسـېره پـر دې، چـې دده دا خـواهش ومانـه، امـر یـې وکـړ چـې هـر څـومره مـال التجـاره چـې دی او دده ملګـري لـه ځانـه سـره وړي، د ګمرکـي محصـول څخـه دې معـاف وي[2]. دا امـر ددې باعـث شـو، چـې خـورا ډېـر ارامنـه پـرده بانـدې د

[1] کاوه (مجله) دوهم کال، د ۱۲ شمارې ضمیمه، ۸۷ مخ.

[2] تاریخ اسلام، سرجان مالکم، ۱۹۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



خپلې تجارتي ګټې لپاره راغونډ شي. هغه و، چې اسرائيل اری د روس د امپراطور لـه خوا د اصفهان دربار تـه معرفي شو. اسرائيل اری تـر هغـه دمخه چې اصفهان تـه ولاړ شي، "ويانا" تـه ولاړ او د تېرو خدمتو لـه املـه يې د اتريش د امپراطور څخه د سلطان حسين په نامه يوه سپارښنامه واخيستله او لـه هغه ځايه بيا د پاپ دربار "روم" تـه ولاړ او پاپ هم د پارس د پاچا په نامه يو خط ورکړ. تر دې ټولو سپارښنامو وروسته د ډېرو ارمنيانو او روسيانو سره "شماخي" تـه وارد شو او د پارس سرحد ته راورسېد.

د پارس وزيرانو، چې ددې سفير د راتګ خبر واورېد، نو يو سړی يې ورواستاوه، چې ددې سفير هويت او احوال ځانته څرګند کړي او دوی خبر کړي، چې دا سفير څوك دی؟ او د کم ځای دی؟ او مليت يې څه دی؟.

د دوی سړی چې بېرته راغی دوی تـه يې وويل، چې دا سفير په مليت ارمنی دی. کم وخت چې دوی دا خبره واورېده، ډېر مشوش شول، خصوصاً چې دې سفير ويلي وو چې د ارمنيانو شهزاده دی، ځکه چې دوی نـه غوښته، چې يو ارمنی سړی د سفارت په لقب (هغه هم د روس د سفارت پنامه) د اصفهان دربار تـه راشي، لـه دې کبله يې نو د فرانسې د سفير "ميشل" نامې سره چې د فرانسې د څوارلسم لويي لـه خوا د تجارتي چارو لپاره په اصفهان کې و، مشوره وکړه او لـه هغه څخه يې وغوښتل، چې ددې سفير مليت او نژاد ښه ورته څرګند کړي او دوی تـه دا معلومه کړي، چې د روس امپراطور

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ته په څه نسبت معرفي شوی دی او څه قرابت ورسره لري؟.

د فرانسي سفیر، چې هم د اسرائیل اري په راتګ خوښ نه و (ځکه چې دې سفیر د هغه لئوپولډ اعتماد نامه په لاس کې لرله، چې د فرانسویانو سره په جنګ اخته و او هم یې اورېدلي وه، چې اسرائیل اری خیال لري داسې اسباب راغونډ کړي، چې کاتولیکي کشیشان له پارس څخه وشړل شي([1]).

نو وې ویل:"... حقیقتاً دا سفیر نژاداً ارمنی دی، چې تر دې دمخه یې په فرانسوي عسکرو کې کار کاوه او د فرانسوي عسکرو لپاره یې کافي درستوله. بیا د یوه عسکر په نامه په خدمت کې داخل شو، د څو وظیفو تر اجرا وروسته یو کښته منصب ورکړ شو. څو واره هم جرمني ته ولاړ او د لئو پولډ خصوصي ترجمان و، بیا په روسي خدمت کې شامل شو او د سروالۍ په عهده مقرر شو او د جرمني شهزاده دی د روس "تزار" ته معرفي کړ. دا دی چې اوس د اصفهان دربار ته د یو سفیر په حیث رااستولی شوی دی"([2])

او د فرانسي سفیر د خپلو خبرو په پای کې دا ویل، چې "د اسرائیل اری طالع هم دده په نامه کې پټه ده که دده د نامه توري وروسته وړاندې شي، داسې جمله ځینې جوړېږي، چې په فرانسوي یې داسې معنی کېږي "دی پاچا کېږي"([3]) کم بل

---

[1] کاوه مجله، ۲ کال، د ۱۲ شمارې ضمیمه، ۸۷ مخ.

[2] د افغان پارس جګړه. (وګورئ: د انګلیسي ژباړې، ۴۰ مخ (م.هوتك)

[3] Israel Orii=Iisera roi (Roy) (مطلب یې دا دی، چې که د Israel Ori نوم توري لاندې باندې سي، دغه فرانسوي جمله ځني جوړېږي: il sera Roi چې معنا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



شي چې د دربار د اراکینو وحشت یې ډېر اوه، د قره باغ د کلي د یو سړي Aghwanitsch نامي پیشګویي وه، چې خلکو ته یې داسې ویل:

"دا سفیر د ارمني پاچهانو څخه دی، چې زموږ په کتابو کې یې دمخه هم ذکر راغلی دی، چې یو وخت به پارس ته راشي او دا ځای به دده تر تصرف لاندې شي او دا سړی څو د ارمنیانو حکومت پخواني عظمت ته ونه رسوي، پرځای به نه کښېني." هغه وخت چې دی شماخي ته راورسید، درې سوه ارمني کسان ورسره وه، چې دلته سل نور کسان هم ورسره شوه او ویل یې "زه د پخوانیو ارمني شاهانو خلف یم!" دا پروپاګنډه ډېر ژر خپورر شو او لکه څنګه چې د دوی په پخوانیو کتابو کې لیدل شوي وو، دوی ویل:"پرېږدئ، چې دی زموږ پاچا شي، دی خپل مملکت ته راغلی دی او باید چې حتماً زموږ له خوا تقویه شي".

د فرانسې سفیر، چې دا پروپاګنډه واورېد پاچا ته یې وویل:"د دنیا ارمنیان دا سړی هغه پاچا بولي، چې د هغه باره کې د دوی کتاب پیشګویي کړې ده!" او په خپلو خبرو کې یې ډېره مبالغه وکړه او وې ویل، چې هرڅو ژر کېږي باید ددې بلا خوله پټه کړه شي. پاچا ډېر په چورت کې ولوېد او دستي یې اعتماد الدوله راوغوښت. مشوره یې ځینې وغوښتله، چې ددې سفیر په راتګ کې څه وایي؟

اعتمادالدوله ویل: اجازه ورکړئ چې راسي!"

---

یې "دی پاچا کېږي" ده. خو د کروسینسکي د یادښتو په انګلیسي ژباړه کې راغلي دي، چې:" د Israel کلمه په Syriac ژبه کې د شهزاده معنا ورکوي". (م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## د میرویس استفاده له موقع څخه:

مــوږ تراوســه، چــې د میــرویس نیکــه حــالات لوســتي دي، میــرویس مــو ډېــر یــو دیپلومــات او سیاســي هوښیــار ســړی موندلی دی، نـو ځکـه دې تصـادف میـرویس تـه ښـه موقـع پـه لاس ورکـړه، چـې د ارامنـه او ګرجیـانو پـه بـاب کـې او د دوی سـره د ګـرګین د مناسـبت پـه شـاوخوا کـې هرڅـه چـې وغـواړي هغـه ووایـي، ځکـه چـې دده وینـا ظـاهري رنـګ هـم درلـود. کـه یـې ویـلای، چـې ارمنیـان او ګرجسـتان غـواړي، چـې آزاد اوسـي او ګـرګین خـان ددې کـار لومـړی محـرك دی شـاید حقیقـت بـه هـم بالـه کېـده. خصوصاً هغـه وخـت، چـې د کـابینې د اعضـاو پـه نظـر دا غوټـه نـه خلاصـېدونکې ښکـاره شـوه او میـرویس یـې د مشـورې لپـاره مجلـس تـه راوغوښـت([1]). ښـه زمینـهٔ مسـاعده وه، چې بایـد میـرویس لـه خپلې وینـا او تلقینـاتو څخـه کـوم کـار، چـې زړه یې غوښت، اخیست.

چـې مجلـس تـه حاضـر شـو، دواړو پـارټیو ده تـه رجـوع وکـړه او ورتـه وې ویـل: " کمـه نظریـه ښـه ده؟ د سـفیر پریښـودل او کـه یـې ګرفتـارول؟" ځکـه چـې یـوه پارټـۍ ددې نظـرېې مخالفـه وه، څـوك لاهـم بـې طرفـه ناسـت و. بیـا یـې نـو د میـرویس څخـه داسـې خـواهش وکـړ:"... مـوږ سـتا خـدای درکـړي رایـې او سـتا سـلیم

[1] د افغان او پارس جګړه، په انګلیسي (اروابښاد بېنوا د ماخذ د مخ شمېره نه ده ښولې. ما چې انګلیسي متن وکوت، دغه شمېره ۴۲ ده. م. هوتك).، افغـان تـاریخ، په ترکي ژبه. (ددې ماخذ مخ هم نسته. م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



عقل ته ضرورت لرو. ته څه وايې؟" میرویس وار د واره د دوی د لوړو ستاینو او احترام شکریه او خپله خاکساري په څو کلمو کې خلاصه کړه او بیا یې داسې وویل:

"زما په عقیده ددې سړي راتګ سیاسي رنګ لري، چې دې خاورې ته راداخل شي ستاسې د قوې تر شعاع لاندې کیږي، نو ددې قدرت او واك به پیدا نکړی شي، چې کومه فتنه او شخړه جوړه کړي. که تاسې د کمې شخړې انتظار له ده څخه لرئ، نو پرې یې ږدئ، چې اقدام وکړي. بیا تاسې کولای شئ چې دی محبس ته وسپارئ او په یوه جام یې کار تمام کړئ او که ده کوم داسې اقدام ونکړ، ترڅه مودې وروسته چې وخت یې پوره شو، بېرته یې "زار" ته وروواستوئ. په دې صورت کې به دده په حق کې لوی توهین شوی وي او خورا به سپك شي، ځکه چې دی یې د یاغیانو د پاخولو او د هغو د مجلس د اور بلولو لپاره دې ځای ته رالیږلی و او ناکام ولاړ. له دې څخه هم باید وېرېږئ، که دا سفیر ستاسې په دربار کې قبول نشي احتمال لري، چې د ګرګین د ورور په شان خپل ځان روسي قونسلګرۍ ته ورسوي او د ارمنیانو د سرکښۍ او طغیان باعث شي. هغه وخت نو لازمېږي، چې د ګرګین د هنګامې په شان یوه بله هنګامه توده شي او د ډېرو خلکو وینې به توې شي او تر حد زیاتې پیسې به ولګولی شي... په هر صورت کوم شی چې په دې وخت کې مهم او ضروري ښکاري، دا دی چې تر هرڅه دمخه باید خپل وسرحداتو ته توجه وکړئ. وګورئ: له یوې خوا ګرجي شهزادګانو د روس له قیصر څخه د مرستې او

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ساتنې غوښتنه کړې ده او نظر علي خان د ګرګین د اکا زوی او د ګرجستان والي يې روسي دربار ته استولی دی([1]) او له بلې خوا هم پوهېږي، چې ګرګین د ارمني تبر څخه دی، څه لیرې نه ده چې د روسیانو سره علاقه پیدا کړي. هو، ګرګین فرصت او وخت لټوي چې سرکښي وکړي (لکه دمخه چې یې هم په ناکامۍ سره اقدام ختم شو) او هغوی به د خپلې مرستې لپاره راوغواړي او له خپلو ګاونډیانو څخه به استفاده وکړي او یا خپل حکومت به د هند پاچا ته تسلیم کړي او د هغه سره قول او تړون وکړي، چې دده سره مرسته وکړي او دا هم څه لیرې نه ښکاري، چې پخپله له پښتنو څخه استفاده وکړي. هغوی پخپله پارټۍ او حزب کې داخل کړي، ځکه زه هلته حاضر وم او دده کارونه مې لیدل.

ګرګین له ما څخه کوم مخالفت ونه لید او نه ما ظلم کړی و، مګر زما وجود يې هلته نه غوښت او زه يې له هغه ځایه لیرې کړم څو دی پخپل مقصد ښه کامیابه شي. که زه هلته وای او (خدای دې نکوي) کمه واقعه د پښتنو په منځ کې پېښه شوې وای، په خورا آسانۍ سره ما کولای شوای، چې هغه اور مړ کړم. په هر صورت که دا سفير ومنل شي، نو د راتلونکي خطر لپاره باید کم از کم دوراند یشه اوسئ او دده په کار و او کړو او عمل پسې ډېر مواظب او څار واوسئ...."([2])

---

[1] کاوه مجله، ۲ کال، د ۱۲ شمارې ضمیمه، ۸۹ مخ.

[2] د افغان او پارس جګړه، ۴۳ مخ. (دلته بیا د ماخذ د مربوط مخ شمېره، چې ۴۳ ده، نه ده ښوول سوې. ما پر زیاته کړه. م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



میرویس په آخر کې دا هم وویل، چې:"... حقیقتاً ډېر نازك وخت دی، که پتر کبیر د روغې او دوستۍ له لارې غوښتلای، چې یو سفیر راواستوي دا اوسنی سړی به یې نه رااستاوه. په تېره بیا داسې سړی چې د ارمنیانو د شهزادګۍ دعوه هم کوي، ځکه نو د پارس حکومت ته دا ضرور ده، چې ټول ګرجیان او ارامنه تر نظارت لاندې ونیسي، ځکه چې ډېره موده نکېږي، چې ګرجیان د ګرګین تر مشرتوب لاندې بغاوت کړی و او اوس چې هم د ګرګین د اکا زوی د زار روس په دربار کې لوړ مقام لري آیا ددې سفیر راتګ به د ګرجیانو او ارمنیانو په روحیاتو کې خصوصاً د ګرګین په روح کې څه تاثیر پیدا کړي؟"[1]

د میرویس دا وینا، چې "د افغان او پارس جګړې" د لیکونکي په عقیده یو د هغو جامعو ویناوو څخه وه، چې د یوه هوښیار او مقتدر سیاسي سړي څخه چې د لوړ عقل خاوند وي، انتظار کېده او ویې کولای شوه، چې د ګرګین په نسبت د پاچا په مغزو کې راز راز افکار پیدا کړي، نو پاچا فکر وکړ: څه وکړي؟

که ګرګین معزوله کړي محتمل چې دده حکم به ونه مني او دهند پاچا ته به ځان تسلیم کړي او که یې معزوله نکړي، هغه تشویش چې دده له وجوده ورته پیدا شوی و، دده زړه یې پر

---

[1] تاریخ افغانستان، میلسیون، پښتو ترجمه، ۲۰۴ مخ. (د نقل قول کلمات سره اړول سوي دي، خو مفهوم ته زیان نه دی رسېدلی. م. هوتك).

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



آرامه نه پرېښود او تحمل یې نشو کولای.

نو څه یې وکړه؟ وروسته تر هغه، چې د اسرائیل ارې یې په ډېر مجلل ډول پذیرایي وکړه او اصفهان ته راغی، د ګرګین لپاره یې داسې چاره وسنجوله، چې هم معزوله نشي او هم له اقتداره ولوېږي. چاره دا وه، چې میرویس یې بېرته د کندهار د کلانترۍ (ریاست بلدیه) په منصب مقرر کړ، چې هلته د ګرګین د حالاتو مراقبت وکړي او که یې موقع پیدا کړه، دده ځای هم ونیسي([1]) نو دا دی هغه میرویس، چې د یو سیاسي بندي په حیث تحت الحفظ اصفهان ته لېږلی شوی و، اوس د حکمران په حیث وطن ته راځي. بنایي چې ګرانو لوستونکو به د هغې پوښتنې ځواب چې څو مخه دمخه مو کړې وه (چې د یوه پښتانه مېړه فکر به د یوې کابینې په مقابل کې څه وکړي؟) خود پخوده پیدا کړی وي.

خیر په راتلونکو پېښو کې به څو نورې لیکنې هم ولولئ، چې د ملي زعیم دیپلوماسي افکار لا ښه ځینې څرګندېږي.

## د میرویس راتګ کندهار ته:

په دې ترتیب میرویس د ملي پروګرام د عملي کولو لپاره د ډېرو آرزوګانو سره په خورا شوق خپل ګران وطن ته رهي شو او د راهي کېدو په وخت کې یې څو مکتوبونه د ګرګین په نامه له ځانه سره رااخیستي وو، چې په هغو کې پر ګرګین باندې تاکید او سپارښت شوی و، چې د میرویس بې مشورې به کار

[1] تاریخ افغانستان، د میلیسون اثر، د منشي احمد جان ترجمه، ۲۰۵ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



نکوي او ده تـه بـه بېرتـه هغـه پخـواني منصـب وسـپاري او ډېـر احتـرام بـه يـې کـوي. دده عـزت او شـرافت بـه محتـرم ګڼـي. حتـی اعتمـاد الدولـه میـرویس تـه پـه خصوصـي توګـه ويلـي وو، چـې د ګـرګين پـه کـړه او وضـعيت پسـې دې څـار وي او يـو مهـر شـوی سند يـې هـم ورکـړ، چـې کـوم وخـت کـه ضرورت پېښ شي لـه هغـه څخـه کـار واخلـي. ديـوان بـيګ هـم څـو مکتوبونـه ورکـړه او پـه هغـه کـې يـې وليکـل، چـې:"میـرویس يـو لـه هغـو هوښيـارانو خلکو څخه دی، چې د پاچا سره يې ډېر کومکونه کړي دي."

میـرویس چـې دا مکتوبونـه واخيسـتل نـور بـې نـو ځنـډ روا نـه بالـه، دسـتي د کنـدهار خـوا تـه راوخوځېـد او پـه لاره کـې يـې پـه کاروانسـرايو او نظـامي کـلاو کـې پـه ډېـر تجليـل او احتـرام د يـوې تشـريفاتي عسـکري ټولګـۍ او د يـوې دسـتې موزيـك لـه خوا ښـه راغلـې کېدلـه. هـر پښتـون دده پـه راتـګ خـوښي کولـه او دده د کارو آرزو منده و[1] څو چې کندهار ته راورسېد.

## د میرویس رسېدل کندهار ته:

د میـرویس پـه کنـدهار کـې پـه ډېـرې ګرمجوشـۍ او حـرارت اسـتقبال وشـو او ټولـو اهـاليو پـه وريـن تنـدي او خوشـالو زړو ده تـه "سـتړې مـه شـې" وويلـه. ګـرګين کـه څـه هـم پـه ښکـاره دده پـه پـذيرايي کـې د اهـاليو سـره ګـډون وکـړ او د میـرویس احتـرام يـې پرځـای کـړ، مګـر پـه زړه کـې لـه غضـبه او کيـنې څخـه سـره خـوړل

[1] د افغان او پارس جګړه، ۴۵ مخ... (په دې ځای کې بيا د مخ شمېره نه ده څرګنده سوې او ځای يې خالي دی. ما له انګليسي متن څخه ۴۵ ورواچوله. م. هوتك).

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کېده او د انتقام لار يې پلټله. خصوصاً له هغه وخته څخه، چې (د اصفهان د دربار تهدید نامې او سپارښنامې يې ولوستلې.)

په دې وخت کې میرویس د ګرګین څخه اجازه واخستله. خپل کور او خپلې علاقې ته ولاړ. هلته اکثر خوانين او مشران او دده ملګري دده د ملاقات لپاره راغلل او هم ډلې ډلې خلك د حج د مبارکې لپاره ده ته راتلل او ټول پښتانه منتظره وه، چې دی څه کوي؟ او څه وايي؟ غوښته يې چې پوه شي: میرویس د قوم د نجات او آزادولو په باب کې دوی ته څه زېری راوړی دی؟.

ګرګين ددې ملاقاتو او تګ راتګ څخه بې خبره نه و، مګر د انتقام اخيستلو لپاره يې غوښته، چې يوه پلمه پيدا کړي او داسې کار وکړي، چې میرویس د قوم او اولس په نظر کې سپك او ذليل ښکاره کړي. يوه پلمه يې پيدا کړه، هغه دا وه:

میرویس يوه لور درلوده، چې خورا ډېره ښکلې وه، چې د سرجان مالکم په اصطلاح ددې د حسن او ښکليتوب آوازه د خلکو په خولو کې خپره شوې وه([1]).

ګرګين میرویس ته حال واستاوه، چې دغه لور دده د زوی د ازدواج لپاره([2]) د ګرګين کور ته ورواستوي. څنګه چې دا پيغام د تحکم په توګه و، نو میرویس ته اندېښنه غوندې پيدا شوه، ځکه چې له يوې خوا د لور استول دده له پښتني غيرت

---

[1] تاريخ ايران، سرجان مالکم، ۱۹۸ مخ.

[2] تتمه البيان، د سيد جمال الدين افغان، پارسي ترجمه، ۷۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



سره مخالف و او برسېره پر هغه يې دده قدر د قوم او اولس په نظر کې سپکاوه او له بلې خوا په داسې وخت کې، چې میرویس لاتراوسه پښتنانه د خپلې عقیدې او عملیاتو څخه پوره نه و خبر کړي. ددې حاکمانه امر ردول دده هغه طرح کړې نقشه وروړانوله، نو يې څه وکړه؟.

د قوم مشران او غټان يې راغونډ کړه او ملي جرګه يې جوړه کړه، چې دا خبره ورته وکړي او د ملي قانون په قرار تر مشورې وروسته يوه فيصله وکړي.

ځکه چې په پښتنو کې دا دستور دی، چې د ملي کارو لپاره مشورې، مجلسونه جوړوي. که څه هم معامله ډېره وړه وي. په انفرادي توګه يې بې له ملي مشورې نه فيصله کوي او نه د دوی په عقيده فيصله کېدلای شي. دا مجلسونه د پښتنو په اصطلاح "جرګه" بولي. دا جرګې چې څنګه فيصله وکړي، هر پښتون يې عملي کول پرځان لازم، بلکې ملي فرض ګڼي. دا دی چې د پښتنو ملي زعيم هم له دې دستور څخه کار واخيست او د قوم مشران يې راوبلل.

## لومړۍ ملي جرګه:

میرویس دمخه تر هغه، چې ګرګين ته منفي يا مثبت ځواب ورکړي، د اولس مشران يې په کوکران کې (چې د کندهار په شپږ کروهۍ کې د غرب خوا ته واقع او د میرویس مدفن دی) د مشورې لپاره راوبلل. لومړی يې د ګرګين ددې غوښتنې په شاوخوا کې خبرې شروع کړې، پښتانه چې طبعاً

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پر ننګ او ناموس مينان دي. لوی او واړه وايي "دنيا تر سر جار، سر تر ناموس" نو طبيعي ده، چې ددې خبرې د اورېدو څخه روحاً متاثره شول. د غېرت وينې يې په جوش راغلې او ميرويس يې د لور له استولو څخه سخت منع کړ او مقاومت ته يې تشويق او ترغيب کړ او پښتني قسم يې ياد کړ، چې دده په مرسته کې تر سر او مال تېر شي. ميرويس چې دوی د خان په شان متاثر وليدل، په زړه کې ډېر ډېر خوښ شو، مګر په ظاهره يې دوی ته د صبر توصيه وکړه او وې ويل: "بهتره ده، چې بلا په خوب کې مړه کړو! مګر تاسې ته لازمه ده، چې پر خپلو خبرو ټينګ سئ، خپل راز پټ وساتئ او پر ما اعتماد ولرئ. يقين وکړئ، چې له دښمنانو څخه به سخت انتقام واخلم"([1])

په دې وخت کې ملي قايد د رحمان بابا دېوان راواخيست او د فال په توګه يې خلاص کړ، وې ويل: " راسئ چې د عبدالرحمان بابا قدس سره هم وپوښتو، چې دده ديوان يې خلاص کا، هسې شعرونه و:

زه مکتوب غوندې په پټه خوله ګويا يم
خاموشي زما تېری کا تر غوغا زما
کښت د عشق په توده زمکه امان چرې
سمندر بويه چې زيست کا په صحرا زما

چې دغه بيتونه يې ولوستل، هغه مغفور حاجي وويل: "چې

[1] تاريخ ايران، سرجان مالکم، ۱۹۸ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د ظالمانو کار تمام دی. اما اوس دستي خاموشي بهتره ده، ټوله به په پټه خوله دا کوښښ کړو، چې ظالمان ورك سي، چې مناسب وقت راسي، نو به زه پر تاسې رږغ وکړم، هغه وخت باید ټول تیاز یو او ظالمان له وطنه وباسو."([1])

د جرګې خبرې اترې تر ماښامه جارې وې، خو په آخر کې یې داسې فیصله وکړه، چې :"قطعاً د میرویس خان دې نه لور استوله کېږي، مګر ددې لپاره چې ګرګین غافل وساتو او په حال خبر نسي، بلـه نجلۍ دې د میرویس د لور په عوض واستوله شي، څو چې د ګرګین د هلاکولو لپاره فرصت پیدا کړو...".

تر دې فیصلې وروسته یې بیا ټولو په قران، توره، ډوډۍ او مالګه قسم وکړ او د خپل قول پر وفا یې بیا ټینګ تړون وکړ او وې ویل:"هر څوك چې له خپلې خبرې واوړي "زن طلاق" به وي. د پښتنو په عقیده دا قسم اشد ترین د قسمو دی، چې میرویس ته یې د هغه په یادولو ډاډ ورکړ.

تر هغه وروسته میرویس یوه بله نجلۍ، چې دده په کور کې روزلې شوې وه، د خپلې لور په نامه د ګرګین سرای ته واستوله([2]) او هغې نجلۍ وویل:"زه د میرویس لور یم!" په دې توګه د ګرګین هغه پلمه، چې د انتقام اخیستلو لپاره یې جوړوله بې اثره پاته شوه او هم ګرګین وغولېده، چې میرویس

[1] پټه خزانه، ۹۵ مخ.

[2] تاریخ افغانستان، د میلیسون ۲۰۶مخ. د سید جمال الدین افغانی د تتمة البیان ترجمه، ۷۷ مخ. سرجان مالکم، ۱۹۸ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



نو نور څه په زړه کې نه لري او روغه غواړي او بیا دده د مظالمو لپاره زمینه مساعده ده، ځکه یې نو تر خپله وسه پورې د میرویس زړه ساته او په هر کار کې به یې دده د رایې مراعات کاوه. ملي زعیم میرویس خان هم دا زیار یوست، چې داسې ښکاره کړي، چې د ګرګین تول مظالم او صدمې یې چې دده قوم ته رسولي دي، هېرې شوي دي او د خپلوۍ اظهار یې داسې حد ته ورساوه، چې ګرګین پر ده باندې کامل اعتماد پیدا کړ، څو چې یوه میاشت وروسته یې د ګرګین د ورکولو لپاره دوهمه جرګه جوړه کړه.

## دوهمه ملي جرګه:

یوه میاشت وروسته، چې د ګرګین د ظلم اور بیا په زور کې شو او لمبې یې هر لور ته خپرې شوې، د پښتنو مشران په تنګ شول بیا پر میرویس راغونډ شول او د ګرګین د ظلم څخه یې استغاثه وکړه او بیا د پښتنو یوه ملي جرګه جوړه شوه. مګر دا پلا د کوکران په کلي کې نه وه، بلکې په "مانجه" کې جوړه شوه، چې د کندهار شمالي شرق ته تخمیناً د شلو میلو په فاصله د کابل پر لار واقع دی او په ښار صفا پورې نښتی دی او غالباً دا ځای د میرویس خان د ښځې یعنې د جعفر خان سدوزي د لور و، ځکه چې دا حدود په هغه وخت کې د سدوزیو وو(1). دا جرګه هغه وروستنۍ جرګه وه، چې د قوم د آزادۍ وثیقه یې مهرولـه او څنګه چې ریدي خان په

[1] تاریخ سلطانی، ۷۱ مخ. پټه خزانه، ۹۶ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



محمودنامه کې راوړي، په دې جرګه کې لاندې مشران او خوانین راغونډي شوي وو[1]:

۱_ سیدال خان ناصر، چې وروسته د هوتکو د دورې یو مهم او زړور او معروف جنرال او سپه سالار وو. دده مفصل شرح حال به وروسته راشي.

۲_ بابو جان بابی، چې دده شرح حال به هم پر خپل ځای پوره ذکر شي.

۳_ بهادر خان، چې وروسته به یې شرح حال ولولئ.

۴_ میاجي. دده اصل نوم ملا پیر محمد میاجي دی، چې مفصل حالات به یې په راتلونکو صفحو کې ولولئ.

۵_ یوسف خان. د هوتکو له غښتلو خانانو څخه دی، چې په سیوري کې اوسېده، مګر متاسفانه بې له دې کتابه په بل ماخذ کې یې ذکر نه دی راغلی.

۶_ عزیز خان نورزی، چې ریدي خان یې د "دلارام" د پهلوان په نامه یادوي، نور ذکر یې نشته. ښایي چې د فراه د نوروز مشر وي.

۷_ ګل خان بابړ. ددې مشر ذکر هم په بل کتاب کې په سترګه نشو.

۸_ نور خان بړیځ. دا سړی د بړیځو له خانانو څخه و او محتمل چې د ښوراوك او یا پښتني بلوچستان و. په نورو کتابو کې دده نوم ونه لیدل شو.

---

[1] پټه خزانه، ۱۴۵_۱۴۷ مخونه.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



۹_ نصرو خان الکوزی. د الکوزي قوم له غټانو څخه و، چې په جلدك کې اوسېده.

۱۰_ یحیی خان. د ملي قاېد میرویس خان ورور دی.

۱۱_ محمد خان. د میرویس وراره، چې په وروسته وقایعو کې د حاجي انګو په نامه ډېر مشهور شوی دی او شرح حال به یې وروسته درته راشي.*

۱۲_ یونس خان کاکړ. ښایي چې د ارغسان یا ژوب له خوانینو څخه وي. په محمودنامه کې همدا پورته اشخاص ذکر شوي دي، مګر د نورو مؤرخینو له لیکنو څخه څرګندېږي، چې علاوه پر دغو اشخاصو نور د بلوڅو د قوم مشران او ملکان هم دې ملي جرګې ته رابلل شوي وو.(۱)

دې جرګې بیا په قران ګوتې پورې کړې او د وفادارۍ لوړه یې وکړه. بیا نو میرویس د اعتمادالدوله کاغذ دوی ته وروښود او ورته وې ویل:"چې د پارس حکومت هم د ګرګین څخه خوښ نه دی او ماته اجازه راکړه شوې ده، چې ګرګین له منځه وراك کړم او پښتانه دده له ظلمه وژغورم. مګر دا په هغه صورت کې امکان لري، چې تاسې ټول په یوه زړه او یوه اراده او یوه ژبه زما سره ملګري شئ". ټولو دده د امرو د اطاعت

---

* ددې سړي نوم په زیاترو کتابو کې "محمد خان" لیکل سوی دی، خو "د خپلواکۍ لمر څرك" لیکوال یې د خپلې کورنۍ شجرې له مخې "حاجي نور محمد خان" بولي. (۴۸مخ) او دده قول باید ومنل سي. م. هوتك)

[1] د افغان او فارس جګړه، ۴۷ مخ (د مخ شمېره مې له انګلیسي ژباړې څخه واخیستله. م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



قول ورسره وکړ او دا ده ته یې د خپلې ملګرۍ پوره اطمینان ورکړ.

تر دې وروسته نو میرویس خپل هغه پلان، چې ده د خپله ځانه سره سنجولی و، دوی ته ووایه. هغوی هم ټولو دده عاقلانه او مدبرانه پلان ومانه او خوښ یې کړ. د جرګې له خوا یوه خان ته امر وشو، چې ګرګین ته دې مالیه نه ورکوي او خپله طائفه دې د ګورجیانو پر مقابل پورته کړي. دا چې دا طائفه کومه طائفه وه، په دې کې د مؤرخینو اختلاف دی: د افغان او پارس د جګړې لیکونکی، لیکي چې د "بلوڅانو" مشر ته امر ورکړ شو[1] مګر تاریخ سلطاني او خورشید جهان د "کاکړو" طائفه ښیي[2] او میلیسیون بیا د "ترین" قوم یادوي[3] همدارنګه د دوی په ځای کې اختلاف دی، څوک ارغسان ذکر کوي او څوك د بلوچستان علاقه یادوي، خو حقیقت ته همدا دوهم قول نژدې دی، ځکه چې د وروسته پېښو څخه څرګندېږي، چې جرګې غوښته ګرجي عسکر د کندهار څخه یوې لیرې علاقې ته ولېږل شي او ارغسان دومره لیرې نه دی.

په هر حال دا ملي جرګه تر مازیګره جاري وه او د جرګې شاملینو هر یوه ته وظیفه وټاکله شوه او د لومړي اقدام لپاره

---

[1] د افغان او فارس جکړه، ۴۷ مخ (د مخ شمېره مې له انګلیسي څخه واخیستله. م. هوتك)

[2] تاریخ سلطاني، ۷۲ مخ. خورشید جهان، ۱۳۲ مخ.

[3] تاریخ افغانستان، پښتو ترجمه، ۲۰۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



لاژمه ترتیبات په نظر کې ونیول شوه. د جرګې په پای کې پر دې وخت بیا حاجي میرویس خان مغفور، له رحمان بابا څخه دا بیتونه ولوستل:

چې آسمان یې مخ پټ کړی په سحاب و
خدای و ما و ته ښکاره کړه هغه نمر بیا
چې رقیب راته تړلی په زنځیر و
خپل حبیب رابادنې پرانیست هغه ور بیا
په وصال یې منت بار اوسه رحمانه!
په صدف کې دخل نشته د ګوهر بیا.

نقل کا: چې د خدای په قدرت، دغه ورځ پر آسمان اوریځ هم وه، حاجي میر مرحوم دا بیتونه ولوستل. په هغه ګړی لمر ښکاره شو، اوریځ یې له مخه هیسته شوه. خلقو هم دغه یو الهي مدد وګاڼه او بیا نو جنت مکان حاجي میر خان خلقو ته وویل:

"دا دی د خدای تعالی مهر او لطف هم زموږ ملګری دی، اوس نو وقت دی چې توري له تیکیو وکاږو او ځانونه له دښمنه وژغورو!"(۱)

## د میرویس لومړی اقدام:

د بلوڅو او کاکړو مشران، چې خپلو علاقو ته ورستېدل، دستي یې خپل قومونه پاڅول او د مالیې له ورکولو څخه یې سرونه وغړول. ګرګین چې دا لومړی وار و، چې د داسې شدید

---

[1] پټه خزانه، ۹۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



او برملا انکار سره مخامخ کېده، سخت قهر ورغی. فوراً يې ټول ګرجي جګړن او غښتلي، چې يوازې د همداسې جدي اقداماتو لپاره ساتلي شوي وو، د بلوڅو او کاکړو د سرکوبۍ لپاره وټاکل او روان شول.

میرویس چې دا وضعیت په ډېر دقت کوت، ګرګین ته راغی او د پورتنیو قومو د سرکښۍ له امله يې تاسف وکړ او د ګرجي لښکرو له لېږلو څخه يې خوښي څرګنده کړه او ضمناً يې د ښار دباندې يو باغ ته ګرګین دعوت او مېلمه کړ[1] او په دې ترڅ کې يې وويل، چې په دې مېلمستیا کې غواړي د خپل قوم دوه غښتلي سرداران ده ته معرفي کړي، چې د حکومت په خدمت کې شامل شي[2] ګرګین دا مېلمستیا ومنله. د مېلمستیا ورځ راورسېدله. د پښتنو ملي زعیم میرویس خان د قوم د مشرانو په مصلحت څو تنه پښتانه په مخصوصو ځایو کې سره ووېشل، چې هلته دې اشارې او فرصت ته منتظره وي.

ګرګین د خپلو ملګرو او څو تنو محافظینو سره د باغ خوا ته وخوځېد او هلته ورغی. میرویس او د پښتنو نورو غټانو مشرانو په ډېرې ګرمۍ دده "هرکلی" ووايه او " ښه راغلې" يې وکړه. مېلمستیا ډېره مجلله وه. هر ډول شراب د دوی لپاره

[1] سرجان مالکم، ۱۹۸ مخ. د سید جمال الدین افغان تتمه البیان، ۷۸ مخ. تاریخ افغانستان، میلیسون، ۲۰۷ مخ. (په تاریخ افغانستان کې يې ددې مېلمستیا ځای د میرویس خپل کور ښوولی دی. م. هوتك)

[2] تاریخ افغانستان پښتو ترجمه، ۲۰۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



مهیا شوي وو او هر مېلمه دومره وښبل، چې بې هوښه ولوېدل او یا د سید جمال الدین افغاني په اصطلاح په دې مېلمستیا کې د مېلمنو د مرګ شراب تهیه شوي وو او پخپله میرویس یې ساقي شو. پر تاکل شوي وقت د انتقام اشاره یا د وطن د آزادۍ رغ شو، چې دا ټولې مقدمې او نیرنګونه د همهغه لپاره وو. د ملي زعیم میرویس له خوا وشو. په دې اشاره او رغ ګرګین او د ګرګین ملګري د پښتنو تر تورو تېر شول او دا د هغو زرو زرو بېګناهو پښتنو د وینو انتقام و، چې د ګرګین د شخصي امیالو او مقاصدو په اثر قرباني شوي وو.

په دې کې چې د ګرګین قاتل څوک و، بې د محمد مهدي څخه بل مؤرخ په دې باب کې څه نه لیکي. محمد مهدي په جهان کشای نادري کې لیکي، چې "مراد خان" نامي د میرویس په امر ګرګین مړ کړ[1] او هم لیکي، چې دا مراد خان نامي نر ښځی و.

نور مؤرخین په مجموعي حیث د ګرګین وژل ذکر کوي. مګر بې له سرجان مالکم، سید جمال الدین افغان او میلیسون نور مؤرخین لکه محمد هوتک، د افغان او پارس د جګړې لیکونکی او سلطان محمد او نور... د ګرګین د وژلو وضعیت بل ډول په جلا توګه بیانوي یعني د مېلمستیا ذکر نه کوي. مثلاً سلطان محمد لیکي، چې یوه شپه ګرګین خان د کاکړو د طائفې د تنبیه لپاره تللی و. د ارغسان د "ده شیخ" په

[1] جهانکشای نادري، ۶ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


کلي کې میرویس او نورو غلځیانو د شپې یرغل پر وکړ او شهنواز خان یې دستګیر او کار یې ورتمام کړ[1] باالعکس بل مؤرخ لیکي، چې میرویس تر دوهمې جرګې وروسته د ګرګین قصر ته ورغی او په بلوڅانو پورې یې وتړل، چې هغو پر نورو پښتنو حمله کړې ده. ګرګین دستي خپل افسران راوغوښتل او د بلوڅانو د نیولو امر یې ورکړ. هغو ته یې وویل:"زه درسېږم" بیا یې میرویس ته مخ راواړاوه او وې ویل:" تاسي هم ژر خپله وسله راواخلئ او د خپلو نفر یو سره زما سره ولاړ شئ، څو چې د ګرجي عسکرو سره یوځای شو او دمخه تر هغه، چې غلیم پوه شي یرغل پر وکړو!" ټول کارونه په دې حکم ختم شوه. مګر میرویس پټ د بلوڅو مشرانو ته خبر ورکړ او هغه یې د غفلت له خوبه ویښ کړه او هغو ته یې خبر ورواستاوه، چې:"دا هم هغه ورځ ده، چې موږ او تاسې سره ټاکلې وه او تاسې قول راسره کړی و!".

فوراً میرویس د درو زرو پښتنو سره د ګرګین رارسېدو ته معطل و او په ډېرې سرابنۍ یې د ګرګین د راتګ انتظار یوست. تر لږ ګړي وروسته ګرګین له زرو تنو محافظو سره راورسېد. بېله دې چې خبر وي د پښتنو د دوو کتارو عسکرو په منځ کې داخل شو او له هرې خوا محاصره شو او د فرعون په شان د مرګ په دریاب کې ډوب شو او د ټولو عسکرو سره له دنیا ولاړ او یو نفر هم پاته نه شو، چې ددې قربانۍ خبر

---

[1] تاریخ سلطانی، ۷۲ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کندهار ته یوسي[1]

خو د پټې خزانې لیکونکی محمد هوتك، چې په هوتکي دربار کې روزل شوی دی او دده قول ته باید ډېر اعتبار ورکړ شي، په مجهول ډول لیکي، چې:" اولس ټول سول او د جنت مکان حاجي میر په مدد په قندهار ورننوتل او دښمنان یې ټول مړه کړل"([2]) که څه هم دا قول د سرجان مالکم، سید جمال الدین افغان او میلیسون له قولو سره، چې مېلمستیا یادوي، تر یو ځایه پورې منافي نه دی، ځکه چې دا مؤرخین هم وایي، چې میرویس د ګرګین تر وژلو وروسته سره د نورو مشرانو ښار ته داخل شول، مګر بیا هم تصریح یې نه ده کړې.

## ددې اقدام نېټه:

مؤرخین ددې اقدام په نېټه او تاریخ کې، چې د پښتنو ملي قاید د آزادۍ غوښتلو په نیت کړې دی، یا په بل عبارت د ګرګین د وژلو په تاریخ کې مختلف دي:

شیر محمد د ۱۱۲۰هـ د صفرې میاشت لیکي([3]) سلطان محمد ۱۱۲۱هـ د صفرې میاشت ټاکي([4]) او نواب صمصام الدوله دا اقدام په ۱۱۲۰هـ کې بولي([5]) مګر خافي خان، چې د خپل وخت حوادث یې تر ۱۱۳۵ هـ پورې لیکلي دي او د

[1] د افغان او پارس جګړه، ۴۶ مخ (د مخ شمېره ما له انګلیسي متن څخه پر زیاته کړه. م. هوتك)

[2] پټه خزانه، ۹۷ مخ.

[3] خورشید جهان، ۱۳۲ مخ.

[4] تاریخ سلطاني، ۷۲ مخ.

[5] ماثر الامراء، ۳ ج، ۷۰۱ مخ، د کلکتې طبع.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



خپل وخت حوادث یې تر ۱۱۳۵ هـ پورې لیکلي دي او د هوتکي شاهانو معاصر دی، ددې اقدام تاریخ ۱۱۱۹هـ لیکي وایي: "په دې تاریخ د هند دربار محمد اعظم شاه ته دګرګین د وژلو خبر راورسید[1] میلیسون د افغانستان په تاریخ کې ۱۷۰۹ع=۱۱۲۱هـ کال ښوولی دی[2] او نورالله لارو دی د "زندګاني نادر شاه" په کتاب (۱۱۲۱هـ)کال لیکلی دی[3] د ترکتازان هند مؤلف بیا (۱۱۲۰هـ) کال ضبط کړی دی[4].

مګر تنها هغه کتاب، چې موږ له ټولو اشتباهاتو څخه خلاصوي او د هغه قول تر ټولو مؤرخینو موثق او د اعتماد وړ دی، همدا "پټه خزانه" ده، چې مؤلف پخپله په وقایعو او پېښو کې حاضر دی او مستقیماً له خپله پلاره روایت کوي او لیکي چې: "په ۲۹ د ذیقعده الحرام سنه (۱۱۱۹) هجري اولس ټول سول او..."[5] او هغه څه چې ریدي خان په خپله محمود نامه کې وایي[6]:

ګرګین یې مړ کا ټول ګرجي سو کشتار
قوم کا خلاص له ظلم و جوره غفار

---

1 منتخب اللباب، ۲ ج، ۶۴۳ مخ.

2 د تاریخ افغانستان پښتو ترجمه، ۲۰۷ مخ.

3 زندګانی نادر شاه پسر شمشیر (د لومړي چاپ ددغې حوالې د مخ شمېره نه لوستل کېږي. ما چې د ۱۳۶۹ش کال چاپ (زندګانی نادر شاه..) وکوت، دغه حواله په ۳۵مخ اړه لري. م. هوتك)

4 ترکتازان هند، ۴ ج، ۱۴۴ مخ.

5 پټه خزانه، ۹۷ مخ.

6 پټه خزانه، ۱۴۷_۱۴۹ مخونه.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چې داسې کار وکا حاجي ګرندي
د پښتنو ناموس يې وکا خوندي
کال و يو سل نونس او زر په شمار
خلاص سو له ظلمه د ګرګين قندهار.

هم ددې مدعا تائيد کوي. نو په مؤرخينو کې هم هغه د خافي خان قول په منتخب اللباب کې درست او د پټې خزانې د روايت سره موافق دی، ځکه نو د ذيقعده الحرام نونسمه ورځ او (۱۱۱۹هـ) کال د ګرګين د وژلو تاريخ او هم عموماً د پښتنو د يوه ملي نهضت نېټه او خصوصاً د هوتکو د شهنشاهۍ د تاسيس تاريخ بايد وبلل شي او په همدې تاريخ تر يوې لويې اوږدې وقفې وروسته بيا د پخواني عظمت په شان په افغانستان کې يو "ملي حکومت:" تاسيس کېږئ او بېرته د پښتنو مملکت د پښتنو لپاره آزادېږي.

## د کندهار د ښار نيول:

ګرګين ووژل شو، مګر د کندهار د ښار نيول او فتح کول لا څه آسانه کار نه و، ځکه چې په ښار کې د ګرجيانو ډېر عسکر پروت و او د کلا پر برجانو او دروازو يې توپونه ايښي و. هغوی کولای شوه چې هم د ميرويس سره مقابله وکړي او هم د ښار خلك د ټوپکو تر خولو لاندې کړي. له دې کبله نو بايد داسې چاره سنجولې شوې وای، چې نه د ښار خلك په قتل رسېدلي وای او نه د ښار په نيولو کې د ميرويس آزادي غوښتونکي زلميان د مقابلې سره مخامخ شوی وای، نو دا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چاره یوه حربي خدعه وه، چې میرویس کار څیني واخیست او هغه دا وه، چې پخپله ده د ګرګین کالي واغوستل او دده ملګرو د ګرګین د ملګرو او ساتونکو کالي واغوستل او د هغوی په آسو سپاره شول. ترغونی مابنام په هغه دبدبه او برم لکه ګرګین چې روانېدئ د ښار خوا ته روان شو او نور یې دري زره پښتانه د ښار شاوخوا پټ کښېنول، چې دده اشارې ته معطل وي، چې د ښار دروازې ته راورسېدل. ګرجي پېره دارانو د میرویس پر سوارلۍ د ګرګین د سوارلۍ خیال وکا. پرې یې ښودل، چې ښار ته ننوزي. په مجردې چې ښار ته ننوتل د دروازې او کلا پر محافظینو یې یرغل وکړ. په دې وخت کې هغه درې زره پښتانه، چې دباندې منتظر وو هم ښار ته راداخل شول او د ګرجیو عسکر یې ټول تار و مار کړل او ښار یې ونیو او دستي میرویس اعلان وکړ او جارچي جار وواهه چې:

"د هغه چا مال او ځان په امان دی، چې ګرجي او پارسي عسکر ونه ساتي او ځای ورنکړي!"([1]) د ښار خلکو دا د آزادۍ اعلان په ډېره خوښۍ واورېده او پورتنی شرط یې ومانه. نور نو متجاوزینو ګرجیانو سر پناه او د ساتنې ځای نه درلود، ټولو د مرګ یا که یې وکولای شوه د تېښتې پر لور وترپلل او په دې صورت د کندهار ښار چې له څه مودې راهیسې کله د

[1] د میلیسون "د افغانستان تاریخ" پښتو ترجمه، ۲۰۹ مخ. د سید جمال الدین د تتمة البیان ترجمه، ۷۸ مخ. سرجان مالکم، ۱۹۸ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



مغولو او کله د پارسیانو سترګې ورته سرې وې او حملې به یې پر کولې، بیا د پښتنو د ملي حکومت مرکز شو.

په همدې شپه میرویس خدای ته سجده وکړه او وې ویل:

"خدایه! دا یو د هغو لویو کارو څخه و، چې مور ماته وصیت کړی و او ماته یې راسپارلی و. دا خو ستا د عبادو او بندګانو خدمت و، چې ما ترسره کا"[1]

## درېیمه جرګه او د میرویس وینا:

کوم وخت، چې کندهار د مخالفینو څخه خالي شو، نو میرویس د قوم مشران او غټان راوبلل او درېیمه جرګه یې جوړه کړه یا په عصري عبارت "لویه جرګه" یې تشکیل کړه، چې ټول رابللي شوي مشران راغونډ شول. نو میرویس ولاړ شو او دا وینا یې په فصیحه او خوږه لهجه ایراد او بیان کړه:

"پښتنو! په ایمان درته وایم، چې زما مطلب یوازې او یوازې ستاسې آزادي وه او آزادي هغه بې بها نعمت دی، چې د هغه د لاس راوستلو لپاره دا ټول چلونه او جنګونه روا وه. ګرګین له منځه ووت.

د قندهار د پښتنو لپاره چې تل یې د طاقتور مغل سره اوږه ورکړې او مقابله کړې ده، د هغو عسکرو تښتول، چې د اصفهان له جړګانو څخه تشکیل شوي دي، څه ګران کار نه

[1] پټه خزانه، ۱۷۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ښکاري.([1])

که زما سره لاس يو کړئ او متحد شئ او زما ملا وتړئ، زه به ستاسي له غاړي د ذلت او مريتوب ځنځير ليري کړم او د آزادۍ او عزت جنډه به مو د وطن په هر ګوټ او د جهان په ټولو ملتو کي پورته شي. او د پارس د شيعه ګانو د سلطي جوغ به مو له اوږو ببرته شي.([2])

پر خداى توکل وکړئ، زړونه مو خوشال لرئ، په داسي حال کي چي زموږ او ستاسي نيتونه پاك او خالص دي. د لوى خداى په کومك کولاى شو، چي پر غښتليو روافضو باندي بري ومومو.

اوس د پارس دولت د نااهلانو په لاس کښېوتلى دى او له ډېري مودي راهيسته د نړېدو خوا ته درومي. زه چي په اصفهان کي وم په ټولو حالاتو يي خبر وم. د دولت غټان پر دوو لارو روان دي. په تدبير او رايو کي يو د بل پر ضد کار کوي او يو د بل د پښو خاوري سره کاږي. هر فرد يي د خپل نفس تابع او پيرو دى. د ټولو مشغله هميشه عېش او عشرت دى. دولت او ملت يي هېر کړى دى. هېڅ سترګور سړى نه و، چي د مملکت د نظام په باره کي يي خوله ښورولي واى.

د خداى له خوا هم بلاوي باندي نازلېدلي، چي يوه بلا خارجي ايلچي او سفير و، چي د شيروان او آذربايجان ارمنيان

[1] د ميليسون د افغانستان تاريخ پښتو ترجمه، ۲۱۰ مخ (د نقل قول کلمات په افغانستان کي له مروجي پښتو سره سم ليکل سوي دي. م. هوتك)

[2] سرجان مالکم، ۱۹۸ مخ. سيد جمال الدين، ۷۹ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



يې ياغيتوب ته پاڅول، چې په آخر کې ګرجستان هم د روسيې تابع شو او شاه يې د دښمنانو له هجومه ډېر متزلزل و. آيا په داسې حال کې بيا هم امکان لري، چې دوی لاژمه تدارکات ونيولای شي؟ خدای مو مل او ساتندوی دی، نو بری او فتح هم زموږ ده.

(نعوذبالله) که موږ مقاومت ونشو کولای بيا هم د هند پاچا زموږ مرستې ته حاضر دی، خو که موږ په قربانۍ او ځان نثارۍ سره زيار وباسو هغه ملك او مال، چې مو نيولی دی او يا يې نيسو، هغه ټول زموږ دي. نو آيا لاژمه ده، چې د ټولې ولجې چې مو اوس لاس ته راغلي دي، بېرته پخپل لاس له لاسه وباسو؟؟

د پښتني لوړ همت څخه کار واخلئ، څو (څلور طلاوې اوقبه) چې هره ورځ پارس ته تله او هغه ثروت، چې زمو ږله وطنه د پرديو لاس ته ورتئ راوسپموو او نور ثروت لا هم لاس ته راولو، چې خپل ځان بډای کړو او خپلې اړې په پوره کړو.([1])

او برسېره پردې ددې ضاله او ګمراهې ډلې ورکول د ټولو مسلمينو وظيفه ده او د دوی سره جګړه يوه في سبيل الله غزا

---

[1] افغان تاريخي، ترکي اثر مخ ... (دلته اروابناد بېنوا د ماخذ د مربوطه مخ شمېره نه ده راوړې او زما سره هم دغه ماخذ نسته، ځکه نو همداسې پاته سوه. دغه مطلب د انګليسي ژباړې په ۴۵_۵۰ مخونو کې راغلی دی، خو د "څلور طلاوي اوقبه" ټکي په انګليسي متن کې بل راز ليکل سوي دي. هورې يې کښلي "موږ به ډېر سخاوتمندان يو چې که څلور پونډه سره زر پارسيانو ته په جزيه کې ورکوو، خو راځئ خپل ثروت له ځان سره وساتو..." (م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ده."[1]

دا یې وویل او د مکې د ملایانو فتواګانې یې ملي جرګې ته ښکاره کړې او وې ویل:"د خپلې تېرې خبرې پر صدق تر دې ښه شاهد نسم پیدا کولای" په پای کې میرویس خپله وینا په داسې الفاظو پای ته ورسوله، چې د یوه مېړه وطن دوست د خولې د آزادو زلمیانو د اورېدو سره وړوه او داسې یې وویل:"هغه څه چې د غیرت او شریعت مقتضا وه، هغه مې تاسې ته ویل. اوس که ستاسې په مېنځ کې داسې څوک وي، چې بیا لا هم د مریتوب ذلت د آزادۍ پر عزت غوره ګڼي او د آزادۍ په دې رشته سره، چې تاسې ته د آسمان له خوا راغلې ده، ځان نه تړي یعنې آزادي یې خوښه نه ده او د ظالمو ملحدانو خدمت یې د ګرانو پښتنو ورونو تر متابعت خوښ وي. په ډکه خوله دېووایي. هېڅوک به غرض په ونکړي، مګر دومره ده چې داسې څوک دې نو زموږ سره د هستوګنې هیله نه کوي او زموږ د آزادې خاورې او قومي ریاست تر پولې دې هاخوا ته ووزي. او د کوم نوي ظالم پاچا تر سیوري لاندې دې ژوند وکړي."[2]

د پښتنو مشرانو د میرویس دا وینا په ډېر مینه او دلګرمۍ واورېدله، خصوصاً چې په دې وینا کې له یوې خوا د دوی پښتني او ملي احساسات په ښور راوستلي شوي وه او له

---

[1] سرجان مالکم، ۱۹۹ مخ.

[2] د میلسیون د افغانستان تاریخ، ۲۱۱ مخ ( دلته هم نقل قول د افغانستان مروجې پښتو ته اړول سوی دی. م. هوتک)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



بلې خوا يې دا اقدام پر محمدي(ص) شريعت سم او برابر بالـه او د حجاز د علماو فتواوې يې پخپلو سترګو وليدلې او هم لـه بلې خوا چې څه وخت د ګرګين تر سخت فشار لاندې و اوس يې په هوسايۍ سا وايستله او هم د بل پلوه د پښتني طبيعت لـه مقتضا سره سم لـه ډېره وختـه آزادۍ تـه تږی ناست وو. نو ددې څو عواملو پـه اثر يې د ميرويس سره پښتو وکړه او دده پر اقدام يې آفرين او شاباش ووايـه او يا د "لارودي" پـه قول يې د ميرويس سره قول وکړ، چې څو چې يې وروستنی څاڅکی وينه پـه بدن کې وي، د خپلې آزادۍ حاصلولو پـه لاره کې بـه زيار باسي او خپل همت بـه نـه سپموي او دده لـه امره بـه سر نـه غړوي. ميرويس چې لـه خدايـه دا وخت غوښت، پخپلو اور لګوونکو ويناوو يې د پښتنو وينې پـه جوش راوستلې او پـه آخر کې يې ورته وويل:

"زما ورونو! الهي انتقام نژدې دی، پښتانه پهلوانان بايد د جور او ستم تر بار لاندې ولاړ نشي."[1] پـه همدې ورځ پښتنو ميرويس د ځان مشر وټاکه. کـه څه هم ميرويس د شاهۍ رتبه او حيثيت درلود، مګر ده پر ځان د پاچا نوم نـه کښېښود[2] د شاه او شاهۍ د نامه څخه يې ځان وژغوره او يوازې يې د "ملي مشر" پـه نامه اکتفا وکړه، چې دا هم د ميرويس يوه مخصوصه مميزه ګڼلای شو او ځيني څرګندېږي، چې

[1] زندګانی نادر شاه پسر شمشير، ۱۰ مخ. (د ۱۳۶۹ ش کال چاپ، ۳۶ مخ. م. هوتك)

[2] تاريخ سلطاني، ۷۲_۷۳ مخونه.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



میرویس دا ټول اقدامات او کارونه د کوم شخصي غرض لپاره نه وه کړي، بلکې فقط او فقط د ملي لوړتیا او د ملت د آزادۍ لپاره یې زیار یوست.

## د ولجې نیول:

د ګرګین تر مرګ څلور ورځې وروسته د سهار مهال، چې لاشنه خړه وه، د کلا د سر محافظینو د لیرې څخه ولیدله، چې یوه لویه عسکري رساله د ښار خوا ته راځي او دا رساله همغه شپږ سوه ګرجي عسکر وه، چې د بلوڅو او کاکړو د ترټلو لپاره استول شوي وو. د دوی سره ډېرې ولجې وې، چې پښتانه یې چور او چپاو کړې وه او هم د یوه کال مالیه نغدي پیسې یې ورسره راوړې وې. دوی که څه هم شپږ سوه تنه وه مګر رښتیا خبره هم دا ده، چې ډېر جنګیالي او مړني زلمیان وه او د میلسیون په عبارت ډېرو جنګو د دوی څخه اوسپنه جوړه کړې وه او د فولاد په شان یې ټینګ کړي وه[1].

دوی د ګرګین د مرګ څخه ناخبره د ښار خوا ته راتله او د ښار له خوا هم دوی ته هېڅ نه ویل کېده، څو چې ښه د ټوپکو او توپو تر خولو لاندې راغله، نو ناڅاپه د ټوپکو او توپو د ګولیو سره مخامخ شول او په "اوربل" یې استقبال او ښه راغلې وشوه. په دې وخت کې دوی وپوهېده، چې معامله بل راز ده او ښار دلاسه وتلی دی. نو یې په مقاومت شروع وکړه، که څه هم ماتې وکړه او د میرویس زلمیانو دوی تر ګرشك او هیلمند

[1] د افغانستان تاریخ، میلسیون ۲۱۲ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پورې تعقیب کړه او ډېر تاوان یې وروړساوه. ټول غنایم او نغدې پیسې یې څنې وګرځولې، خو بیا یې هم د خپل جلادت او مېړانې په اثر وکولای شوه، چې تر هېلمند پورې وزي او څکه چې د میرویس لښکر لا منظم نه و او هم د مملکت نورې چارې برهم او درهم وې، لازمه یې وګڼل، چې بېرته کندهار ته راوګرزي، نو هغو عسکرو وکولای شوه چې ځانونه خراسان ته ورسوي او د ډېرې خسارې تر تحمیل وروسته نجات ومومي او دا واقعه پارسیانو ته نقل کړي او د هغو وحشت او پرېشاني زیاته کړي.([1])

## د میرویس بله وینا او د پښتنو څلورمه جرګه:

تر دې واقعې وروسته میرویس بیا د پښتنو مشران او غټان راغونډ کړه او هغه پښتانه یې هم راوبلل، چې د ښاره لیرې په غرو کې اوسېدل او حال یې وروواستاوه، چې: "موږ بریالي شوو ژر راسئ او زموږ سره یو سئ([2])" چې د هغو مشران هم راورسېدل، نو د څلورم وار لپاره جرګه جوړه شوه. لومړی میرویس په پند او نصیحت، وعد او وعید خپله وینا شروع کړه او دوی ته یې د ټینګ عزم او استقامت توصیه کوله. له یوې خوا یې پښتنو ته آفرین او تحسین وایه. دعا یې ورته کوله او له بلې خوا یې دوی ته سختې پېښې او د پارس متقابله اقدامات یادول. یعني ده غوښته، چې پښتانه د بیرې

[1] د سید جمال الدین د تتمة البیان ترجمه، ۷۹ مخ.

[2] د افغانستان تاریخ، میلسیون ۲۱۱ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



او امید په منځ کې وي. څو نه داسې مغروره شي چې د غلیم څخه بې پروا شي او نه دومره یې زړونه وخېږي، چې بېله شرطه تسلیم وي. بیا یې نو داسې وویل:

"...حقیقتاً تاسو د اسلام ددین په لاره کې یو لوی خدمت پای ته رسولی دی، سکه مو په مرمر کې کېندلې ده او د قیامت ورځې ته مو ښه نیك عمل پرېښی دی. په هغه لویه ورځ به ستاسې په حسنه اعمالو کې وشمېرل شي او ستاسې د یادولو باعث به وګرځي. ددې ښه کار له کبله دې ستاسې خواره پر تاسې مبارك او ستاسې دارو شي! ستاسې د زیار او همت څخه مشکور یم. مګر په دې هم پوه شئ، چې هغه فرمان چې د ګرګین د قتل په باره کې مې د اعتمادالدوله له خوا تاسې ته ښکاره کړی و، هغه جعلي و او هغه ددې خبرې په اثر کې و، چې دیني غېرت زما څخه صبر او تحمل یووړ او نور مې نو پخپل ځان کې د طاقت او صبر څرك نشو ایستلای او همدې غېرت او پښتنوالي زه مجبور کړم، چې داسې وکړم.

تېر پر تېر، خو تر دې وروسته پر موږ لازم دي، چې ټول په یوه زړه، متحد شو د زړه له صدقه یو د بل ملا وتړو او د محمدي(ص) دین په لاره کې خپل سر او مال فدا کړو، ځکه چې دا کار چې موږ کړی دی د پارس د شاه په نزد یو عصیان دی او د پارسیانو په نزد موږ یاغیان یو او دوی به ضرور د انتقام اخیستلو په فکر کې وي او عسکر به راولېږي او په نتیجه کې (العیاذبالله) که لاس یې بر سي او بری ومومي، د پښتنو نارینه به ټول تر تیغ وباسي او ښځې او واړه به بندیان د مریانو په

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



توګه بوزي."

په دې کې يو خان ولاړ شو وې ويل، :"د پارس دولت ډېر قوي دی او ډېر عسکر لري، د پښتنو دا لږ زلميان به څنګه د هغو مقابله وکولای شي؟"

ميرويس دستي په خواب کې دا آيه کريمه ولوست، چې "کم من فيئة قليلة غلبة فيئة کثيرة"* او ددې آيه د مضمون سره يې موافق د زړه د ډاډ ويناوې وکړې، څو چې د جرګې د هرې خوا څخه د آزادۍ د ساتلو لپاره ږغونه پورته شول او ميرويس يې د خان کالخوای او مشر وټاکه، ټول واك يې ده ته ورکړ او جرګه منحله شوه.

## په کار پيل:

ميرويس دستي په کار شروع وکړه او ټوله وسله، چې ورسره وه او يا يې د ګرجي عسکرو څخه په غنيمت نيولې وه، د خپل اولس پر زلميانو يې ووېشله او د ميليسون په قول ټول وسله جوړونکي کارګرانو ته ميرويس امر وکړ، چې ډېرې وسلې او اسلحې جوړې کړي(۱) او ځينې يې باروت جوړولو ته وګومارل او بيا يې د کلا د ديوالو او حصارونو مرمت کاري شروع کړه. توپخانه يې منظمه او باقاعده کړه او ټول عسکر تر نظام لاندې راغلل(۲).

---

* دا آيت شريف د البقرې سورت ۲۴۹ آيت دی. م. هوتك)

[1] د ميلسيون ددې عبارت څخه څرګندېږي، چې هغه وخت په کندهار کې د اسلحه سازۍ صنعت ښه رواج درلود.

[2] د ميليسون د افغانستان تاريخ، ۲۱۱ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



كـوم وخـت چـې پـه دې تـدابيرو او اسـتحكاماتو مشـغول و، نـو ويـې غوښتـه چـې څـه وخت نـور هـم د اصـفهان دربـار غـافـل كـړي، چـې د دفـاع لـپـاره ښـه لازمـه ترتيبـات او تـداركات ونيسـي، ځكـه يـې نـو د حربـي چـل او خـدعې لـه رويـه دسـتي د پـارس د پاچـا پـه نوم يو مكتوب وليكه، په دې مضمون:

## د ميرويس مكتوب دپارس پاچا ته:

(تـر القـابو وروسـتـه)" پـه دې تقريـب چـې تاسـې ماتـه اجـازه راكـړې وه او د مخـه مـې جسـارت كـړى، تاسـې تـه مـې خپـل عـرض وړانـدې كـړى و، چـې بايـد د ګـرګين اوضـاع او حـالات تـر مراقبـت او څـار لاتـدې ونيـول شـي. ځكـه چـې مـا ويـل دده حركتونـه بـه پـه مملكـت كـې د فتـنې سـبب شـي. اوس زمـا هغـه پيشـګوئى رښتيـا شـوه. كـوم وخـت چـې زه قنـدهار تـه راورسـېدم، څـه مـوده تېـره نشـوه چـې د پښتنـو قبـيلې سـره يوځـاى شـوې او ددې كبلـه چـې د ګـرګين ډېـر ظلـم او جـور يـې نشـو ګـاللاى، نـو پـه پـاى كـې يـې ګـرګين د ښـار تـر كـلا راويوست او پـه يـوه كلـي كـې پـه يـوه هجـوم هغـه وواژه. بيـا يـې د ښـار كـلا ونيولـه. زه پخپلـه مځكـه مشـغول وم. زه يـې د خـپلې مځكـې څخـه راوسـتلم. د خپلـو خـانو مشـر او رئـيس يـې وټـاكلم. اوس يـې ډېـرې لـويې ډلـې او جمعيتونـه جـوړې كـړي. او نـه ښـايي چـې زمـا د دولـت خيـر انـديش غونـدې پـه حق كـې اشـتباه وكـړئ. بلكـې دا لا هـم د شـكر ځـاى دى، چـې پـه داسـې نـازك او د اخـتلال پـه وخـت كـې كـوم نـاپوه او نـاحق شـناس سـړى يـې د خـان پـه مشـرتوب نـه دى ټـاكلى

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



او زه يې وتاكلم، چې دا هم ستاسي د دولت نېكمرغي ده، ځكه چې ترڅو چې زه د پښتنو مشر يم ددې اختلال په رفع كولو كې به د زړه زيار باسم. انشاء الله د تدبير او فكر په واسطه هر مشكل آسانه كېږي او دا اور به ورو ورو مړ شي او دا هېواد به د پخوا په څېر نظام ماهوالمرام پيدا كړي. كه په دې خصوص كې تاسې ته څه وويل شي بايد تاسې اهميت ورنكړئ او ددې خوا ټول احوال او اوضاع ماته راوسپارئ او تر يوې مودې پورې بايد د اغماض العين* معامله وشي او نه ښايي چې تهور وكړئ او د خودبينانو په خوله و داسې فتنې ته عسكر راولېږئ، ځكه چې كه عسكر راولېږل شي ټول پښتانه تر لوى او واړه پورې د مقابلې لپاره پر دوو پښو ولاړ دي. يا به د شاهي عسكر د ژوبلېدو او مرګ سره مخامخ شي او يا كه بيخي ډېر عسكر راولېږئ د خپل ژوند د ساتلو په غرض به خپل مملكت د هند پاچا ته تسليم كړي او دا خبرې د اكثرو د خولو هم اورېدلي كېږي. لنډه دا چې په دې وخت كې لازم دي، چې ددې غوټې په خلاصولو كې د تدريج او تانې او احتياط څخه كار واخيستل شي او دا نكته ډېره مهمه ده. ددې سيمې نظام دې بنده ته تفويض وبولئ. كه څه هم دا اشاره جسارت دى مګر سره له دې هم كه د اهمال او امهال په صورت د تانې او تدريج د قواعدو او اصولو مراعات وشي. د لوى خداى په مرسته او فضل به په كارو كې ډېر سهولت او آساني پېښه

* يعنې سترګې پټول. (م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



شي."[1]

## دې اقدام په اصفهان کې څه تاثیر وکړ؟

شاه حسین او دده نور درباریان چې په دې واقعه خبر شول، په هغه اندازه چې انتظار کېده متاثر نشول او نه یې دا تصور کاوه، چې پښتانه د آزادۍ لېوال دي. دوی به ویل:"تاریخي پېښې تکرارېږي ځنګه چې دمخه هم قندهار د پارس څخه ځان جلا کړی و او د هند مغول یې رابللي وه، اوس به هم هغسې شي. مګر کوم وخت چې موږ حمله پر وکړو بېرته زموږ دی"[2] نو د اصفهان دربار ددې په عوض، چې کندهار ته عسکر راولېږي، یوازې یې محمد جامي خان د پښتنو د ببرولو او د میرویس د تهدید لپاره کندهار ته د ایلچي او سفیر په حیث راواستاوه، چې پښتانه تهدید کړي او د شاه اطاعت ته یې راوبولي. دا ایلچي چې کندهار ته راورسېد، دستي د پارس د دولت د عظمت او قوت او واك لوړې خبرې یې شروع کړې او ددې اقدام د بدانجام او د پښتنو د خوارېدلو او ذلیل کېدلو ډمامې یې وهلې، چې پښتانه وبېروي. مګر دده دا خبرې پر میرویس بدې ولګېدلې او دده خبرې یې پرې کړې ورته وې ویل:

"ته چې وایې عقل او حکمت یوازې په ناز او نعمت کې متصور دی؟ "او یوازې د هوسایۍ د خاوندانو په ماغزو کې

---

[1] افغان تاریخي مخ. د افغان او پارس جګړه مخ. (دلته بیا هم د دواړو ماخذونو د مخونو شمېرې نسته، خو د میرویس نیکه دغه مکتوب د افغان او پارس جګړې د انګلیسي ژباړې په ۵۰_۵۱ مخونو کې راغلی دی. م. هوتك)

[2] د افغانستان تاریخ، د میلیسون پښتو ترجمه، ۲۱۲ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ځای لري؟ "زمونږ غرونه هم پوهان او هوښیاران لري! "که ستا شاه څه نور څه کار کولای شوای، ستا دې "بې معنی او لاطائلو خبرو ته ضرورت نه و!"[1]

امر یې وکړ، چې دا ایلچي بندي کړئ. د میلیسون په قول میرویس دده په حبس کې دوه مقصدونه لرل. یو دا چې د پارس تیاري او اماده ګي وځنډېږي، ځکه چې ځواب ته به ډیل ورکړه شي او بل دا چې پارسیانو ته معلومه شي، چې دی په رضا طاعت نه مني او د پښتنو د آزادۍ لوبه شروع شوې ده[2] او د خپلواکۍ کومه جنډه، چې میرویس جګه کړې ده، بېرته به کښته نشي او د اصفهان د دربار تطمیع به ددې پښتون نابغه پر روح څه اغېزه نه کړي.

مګر د میرویس دا حرکت هم د اصفهان په دربار کې بدتلقي نشو او د "سرجان مالکم" په عبارت دوی یې د غفلت له خوبه ویښ نکړه او سربېره پردې، چې وایې ورېدل، چې د دوی ایلچي بندي شوی دی. بیا یې هم د دوهم وار لپاره محمد خان د هرات حاکم، چې د میرویس زوړ اشنا او د حج د لارې ملګری و، د نماینده په حیث میرویس ته راولیږه او دا یې یقین و، چې دده ملګري او خپلوي به د پښتنو ملي زعیم د خپل ملي او لوړ مقصد څخه راوګرزوي. مګر کوم وخت چې دا ایلچي کندهار ته راورسېد او میرویس یې د انقیاد او اطاعت خوا ته وباله، میرویس ورته وویل:

"لوی خدای ته شکر وباسه، چې د زړې اشنائۍ او ملګرۍ

---

[1] د تتمة البیان ترجمه، ۸۰_۸۱ مخونه او سرجان مالکم، ۱۹۹ مخ.

[2] د میلیسون د افغانستان تاریخ پښتو ترجمه، ۲۱۳ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



حق دې راباندې سته او زما سترګو ته درېږي، که نه وی تا به هم د هغه په شان سزا لیدلې وای. مګر پوه شه: پښتانه مېړونه به بیا د مریېتوب په قید کې ونه لوېږي، زمریو ځنځیرونه وشلول او توري له تیکیو وېستلې شوې، ترهغو به په تیکیو کې ونه لوېږي، څو چې ستاسې پاچا منکوب او ستاسې مملکت مسلوب شي! الهي انتقام نژدې دی، پښتانه پهلوانان د جبار منتقم د لاس آلات دي، چې د پارس د ملحدانو د سزا دپاره یې انتخاب کړي دي!"[1]

که څه هم د محمد خان سره نسبتاً ښه وضعیت وشو، خو بیا هم حکم وشو، چې دی د یوه معزز میلمه په نامه په محبس کې وساتئ.

هغه وخت چې دا خبر د اصفهان دربار ته ورسېد، نو هغوی وپوهېدل، چې بې له جنګه د تېښتې لاره نه شته، نو د هرات هغه حاکم ته چې د محمد خان په عوض مقرر شوی و، (په ۱۱۲۲هـ ـ ۱۷۱۰ع) کال کې امر ورکړ، چې خپل عسکر د کندهار د حملې لپاره چمتو کړئ او پر کندهار یرغل وکړئ. د هغه عسکر هم تیار شول او د کندهار خوا ته وخوځېدل.

مګر میرویس هم د پارس د پاچا ددې حکم څخه بې خبره نه و. ډېر پښتانه زلمیان یې د مقابلې لپاره تیار کړي وو او د پنځو زرو عسکرو سره د پارسیانو مخ ته وروتل او تر لرې جګړې وروسته یې د پارس عسکرو ته سخته ماتې ورکړه. تر دې ماتې وروسته د پارسیانو لښکرو په اتلسو میاشتو کې څلور لویې حملې وکړې، چې په څلورو سرو حملو کې ناکامه

[1] سرجان مالکم، ۱۹۹ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



وتښتېدل او په آخره حمله کې خو د پارسیانو پنځو زرو عسکرو، چې د محمد خان د تبریز د حاکم تر قوماندانۍ لاندې وه، د پښتنو د پنځو سوو زلمیانو طاقت رانه وړ او وتښتېدل او په دې حمله کې یې تر زرو تنو ډېر تلفات ورکړه او پخپله حاکم د درو زامنو سره د پښتنو جنګیالیو په لاس ورغی[1] د محمد مهدي د لیکني په قرار پښتنو د فراه تر "دلخك" او "دلارام" پورې مځکې بېرته د پخوا په شان د ځان کړې او دده په عبارت "بادلارام مرام هم آغوش شد و از منهل* کامراني جرعه نوش"[2]

دې پرله پسو ماتیو د اصفهان د دربار غیظ او غضب یو په سله کړ او پوه شول، چې د پښتنو سره مقابله کول هغومره آسانه هم نه وه، لکه هغوی چې تصور کړی و. وپوهېدل، چې د پښتنو د آزادۍ پیاله تشول او نسکورول څه د عراقي شرابو ساغر نه دی، چې د شاه په سلامتۍ یې پر سر پورته کړي، نویې دا لازمه وبلله چې باید د پښتنو د پایمالولو لپاره ډېر پوخ او لښکر تهیه او آماده کړي او دې کار څه موده هم غوښتله، ځکه نو د یوې خوا د پارس سلطنت په لویو حربي ترتیباتو او تدارکاتو مشغول شو او د بلې خوا میرویس هم د مقابلې لپاره وسایل سنجول، چې ددې وسایلو څخه یوه وسیله د هند د دربار سره د میرویس مراوده وه، چې بېرته یې له سره تازه او ټینګه کړه.

---

[1] د میلسیون د افغانستان تاریخ، ۲۱۴ مخ.

* په متن کې "منحل" دی چې تېروتنه ده. "منهل" یې سمه بڼه ده، چې "چینې"، د اوبو چېنلو ځای" ته وایي (غیاث). م. هوتك

[2] درهء نادره، ۳۹ مخ. (دا حواله د قلمي نسخې ده. په چاپي نسخه کې ۳۳ مخ دی. (م. هوتك).

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## د میرویس مراوده د هند د دربار سره:

دا باید وویل شي، چې میرویس د استقلال او خپلواکۍ تر اعلان وروسته د ډېرو سیاسي مشکلاتو او سختیو سره مخامخ شو، ځکه چې د یوې خوا د هند مغولي دربار دا وضعیت په ښه سترګه نه کاته او د پښتنو خپلواکي یې ځانته لوی خطر باله. لکه "صمصام الدوله" او "خافي خان" مؤرخ، چې لیکي: هغه وخت چې د پښتنو د استقلال د اعلان خبر د هند مغولي دربار ته راورسېد، د هند دربار ظاهراً د مجبوریت له کبله د پښتنو دا استقلال په رسمیت سره وپېژاند او خپله خوښي یې ښکاره کړه او د بل پلوه یې د اصفهان د دربار سره مفاهمې او مخابرې وکړې، چې ددې پېښې (چې د خافي خان په تصریح د دواړو ملتو او هېوادو لپاره دصائبې رایې څخه یې مخالف کار باله) په دفع کې ژر کوښښ وکړي([1]). که څه هم میرویس خان ته دا وضعیت ښه معلوم و، مګر د خپل سیاست له رویه یې نه غوښتل، چې د هند سره مراوده ونلري او یا د مخنۍ مراوده قطع کړي، ځکه چې میرویس د پخوا څخه د هند د دربار سره مراوده درلوده، خو لا هغه وخت چې یې تجارت کاوه، د خپل ثروت او بډايي په سبب یې د هند په دربار کې ښه شهرت او امتیاز موندلی و او خپل هغه تجارت، چې د هند سره یې درلود، ورځ په ورځ زیاتاوه او د هند د وزیرانو او حکمرانانو سره یې خپلوي

---

[1] منتخب اللباب، ۶۴۳ تر ۴۶۶ مخ پورې، ۲ ج. ماثرالامراء، ۷۰۱ مخ، ۳ ج.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



اچولې وه. تل به يې د هغو سره مکاتبه کوله او د صميمي او اعتمادي خپلوانو په واسطه يې د هغو د مراتبو په قرار هغوی ته سوغاتونه او تحفې لېږلې او د خپل وضعيت څخه يې هغه خبرول او ځانته يې جلبول.

نو همدا سبب و، چې په دې وخت کې يې هم وغوښته چې د هند دربار ځانته متوجه کړي. که کوم وخت اړتيا حس کړي، يو ملاتړ ولري او هم يې غوښته، چې په دې وسيله د هند او پارس د دولتو په منځ کې د خلاف نظر تکی پيدا کړي. ددې مفکورې په اثر يې د هند دربار ته دا مکتوب وليکه.(۱)

## د میرویس مکتوب د هند دربار ته:

"... موږ پښتانه نسبت و ټولو ګاونډيانو ته د هند د پاچا په ګاونډيتوب ډېر افتخار کوو، ځکه چې زموږ په مذهب او دين راشريک دي او له همدې نقطهء نظره ټينګ اميد او اعتماد لرو، چې د ضرورت په وخت کې به زموږ سره ملګري او مرسته وکړي. پښتنو د پارس د پاچا پرخلاف تصميم کړی دی، ځکه چې هغه زموږ د مذهب پرخلاف زموږ سره د جګړې دپاره عسکر رالستوي. څنګه چې اوس هلته (په هند کې) پوره امنيت دی، نو که يوه دسته عسکر زموږ د کومک دپاره راولېږل شي د لوی خدای په مرحمت به خپل ددين او مذهب

---

[1] دا مکتوب د (۱۷۰۹م) کال په آخر کې چې بهادر شاه د هندوستان پر تخت ناست و، د شاه د وزيرانو په عنوان ليکلی شوی دی. ماخذ د افغان او پارس جګړه. (انګليسي ژباړه، ۵۲_۵۳ مخونه م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پر دښمنانو بری وموموو او پر دوی به غالب شو.

پښتانه زړه ور دي او ښايي چې خپل مقتضيات به له ښه مرغه زموږ سره مرسته وکړي، چې د دوو قشونو (هند او پښتون) سره د یوځای کېدلو په وخت کې وکولای شو، چې د پارس ځینې توابع د پارس د حکومت پر ضد وپاځوو!"([1])

کوم وخت چې دا مکتوب د هند پاچا ته ورانديې شو، هغه ظاهراً ډېر خوښ او خوشاله شو او د میرویس استازو ته يې ډېر د حرمت او عزت په سترګو وکاته او ښه احترامانه او معززانه وضعیت يې ورسره وکړ او د یوه اطمینان بخشه ځواب سره يې رخصت کړه. مګر په دې ځای کې خافي خان د منتخب اللباب مؤلف څه قدر د اغراق او مبالغې خوا ته تللی دی او داسې لیکي، چې: میرویس د ښار تر تصرف وروسته "مصلحتا خطبه د قطب الدين بهادر شاه په نامه د بدنامۍ د رفع او د استحکام د بندوبست دپاره وویله او د کلا د تسخیر طلا يې کلي يې د یوه مکتوبه او د کلاداری د سند سره د هند دربار ته ولېږله. خلد منزل خلعت او د آفرین باد فرمان او د کلاداری سند میرویس ته واستاوه."([2])

په هر حال میرویس په دې مکتوبو ډېر خوشاله شو او د هند د خوا د کومې پېښې څخه بالکل مطمئن شو او ښايي چې د مکتوب په لېږلو کې هم مهم غرض دا و چې د کندهار

---

[1] افغان تاریخي، مخ (دغه ماخذ راسره نسته، ځکه نو د مخ شمېره همداسې تشه پاته سوه. م. هوتك)

[2] منتخب اللباب، ۲ ج، ۶۴۳ مخ د کلکتې طبع.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


او پښتنو په نسبت د هند د دربار نظریه ځانته معلومه کړي، چې په هغه باریک وخت کې د دوی په نسبت څه نظریه لري؟ اوس چې د هند له خوا مطمئن او بې غمه شو، نو د ملکي او نظامي چارو سمولو ته یې ملا وتړله او ډېر پارسي مفسدین او فتنه غوښتونکي خلك چې لا په کندهار کې و، له منځه وایستل.

## د پارس ۳۱ زره عسکر د خسرو خان په قوماندانۍ:

وموویل، چې د هرات حاکم محمد خان گرفتار شو او لښکر یې ماتې وکړه او دا مو هم ذکر کړه، چې د پارسیانو حملې بې اثره پاته شولې او پرله پسې شکستونه یې وخوړل، نو ځکه د پارس حکومت تصمیم وکړ چې یو خورا لوی پوځ کندهار ته راواستوي او وې غوښتل، چې په دې پوځ کې د پارس ډېر غښتلي او جنگجویه او جگړن زلمیان د پښتنو پر مځکې د تجاوز لپاره راغونډ شي. خصوصاً د هغه وخت څخه، چې د روسي سفیر اسرائیل اري له خوا مطمئن شول. یعنې وروسته تر هغه، چې دا سفیر یې په احترامانه توگه رخصت کړ د "استراخان" په ښار کې مړ شو[1] چې د هغې خوا څخه د فارسیانو زړونه بې غمه شوه، نو د کندهار د تسخیر لپاره یې لوی اقدامات شروع کړه او دا موضوع د اصفهان په دربار کې تر مذاکرې لاندې ونیوله شوه. مگر نظریات مختلف

[1] د افغان او پارس جگړه، ۵۴ مخ (د مخ شمېره له انگلیسي متن څخه واخیستل سوه. (م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



وه، څو په آخر کې په اکثریت فیصله شوه، چې خسرو خان د وژل شوي ګرګین وراره، چې هغه وخت د ګرجستان حاکم او ډېر دماغداره سړی و، د لښکرو په قوماندانۍ مقرر کړی شي، څو د خپل آکا او نورو ګرجیانو د انتقام اخیستلو لپاره د کندهار په نیولو کې ښه زیار وباسي او دا هم له دې جهته، چې په هغه وخت کې ګرجیان په توره او جنګ ډېر مشهور وو، ځینو درباریانو دا مشوره ورکړه، چې باید ټول عسکر د ګرجستان د هغو علاقو څخه چې د پارس د حکومت په لاس کې دي، راغونډ شي. مګر مخالف حزب ددې نظریې سره مخالفت وکړ وې ویل: که ټول عسکر ګرجي واستول شي او هغه بریالي هم شي، ښایي چې د پارس د حکومت له متابعته به غاړه وغړوي، ځکه نو باید شپږ زره پارسي عسکر هم د عباس قلي بېګ تر قوماندانۍ لاندې ورسره ولاړ شي او دا چې خسرو خان دوه سوه زره تومانه د لارې د مصرف لپاره غوښتي دي، باید پنځوس زره تومانه ورکړه شي.([1]) دا قول "د افغان او پارس جګړه" د لیکونکي قول و. مګر میلیسون په مجموعي توګه لیکي، چې د پارسیانو دا پوځ یو دېرش زره او دوه سوه تنه زلمیان و، چې له دې جملې څخه یو زرو دوه سوه تنه ګرجیان وه او نور نو ګډوډ د هر فریق څخه په کې شامل کړی شوي وه([2]) په دې ترتیب خسرو خان د یو دېرش زرو او

---

[1] د افغان او پارس جګړه، ۵۴ مخ (د مخ دا شمېره له انګلیسي متن څخه رانقل سوه. په اصل کې یې ځای تش پرېښوول سوی دی. (م. هوتك)

[2] د میلسیون د افغانستان تاریخ، ۲۱۵ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



دوه سوه نفرو په اعلى قوماندانۍ وټاکل شو، چې کندهار ته ولاړ ي او د خپل آکا انتقام واخلي. خسرو خان هم دا امر په ډېرې خوښۍ ومانه او په (۱۱۲۳هـ=۱۷۱۳ع) کال يا د ځينو مؤرخينو د ليکنې په قرار په (۱۱۲۲=۱۷۱۲ع_۱۷۱۱ع) کال د کندهار خوا ته په ډېره دبدبه او برم رارهي شو او بې له کومې پېښې فراه ته راورسېد. په فراه کې مېشته شو. مخبران او جاسوسان يې پرمخ واستول، چې د ميرويس د لښکرو حال راوړي او هغه بېرته ژرر راوګرزېدل، ځکه پښتنو د ګرشك او فراه د منځ درې خوشې کړې وې.

## د خسرو خان نفاق اچول:

کوم شی چې ډېر د تاسف وړ دی او بدبختانه هر وخت پردي او دښمنان له دې لارې څخه ښه کامياب شوي دي او پښتانه يې په دې وسيله ښه در په دره کړي دي، د پښتنو په منځ کې د نفاق اچولو فتنه ده، چې په دې وسيله چې د غليمانو دلاسه شوي دي ددې فتنې په وېښولو کې يې زيار ايستلی دی او کامياب شوي هم دي. نو خسرو خان هم د افکر درلود، چې که د نورو حربې چالو او آلاتو څخه مايوسه شي بايد دا "پښتون تباه کوونکې" حربه ورسره آماده وي او کار ځنې واخلي. په دې فکر کې لاهغه وخت و، چې د پارس څخه راوخوځېدئ. هغه وخت چې د مشهد څخه لا فراه ته نه و رارسېدلی، د عبدالله خان سره چې د حيات سلطان (مشهور په

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



سلطان خدکه ابدالي سدوزی خضرخېل) زوی دی، یوځای شو. دا عبدالله خان د هرات د ابدالیو پښتنو په غوښتنه سره د خپل زوی اسدالله خان سره د ملتان څخه هرات ته راخوځېدلی و([1]). خسرو خان دستي د پارس د حکومت له خوا د هرات په حکومت او مشرتوب مقرر کړ او د کندهار د محاصرې لپاره یې کومک غینې وغوښت او هم یې بیا دده په ذهن کې د ابدالي او غلځي ورك شوی فکر تحریك کړ او د قبیلوي اختلاف مړ شوی اور یې بیا غوښت، چې د عبدالله خان او میرویس خان ترمنځ بل کړي او د هرات د ابدالیانو څخه یې ډېر زلمیان، چې عبدالله خان یې پخپله مشر و، راغونډ کړه او د کندهار د محاصرې لپاره یې د ځان سره بوتله. مګر خوشبختانه عبدالله خان، چې خپل ځان د خپل په مقابل او د پردي اجانبو پر خوا ولید، نو ملي عنعناتو او ملي قانون دده وجدان ته اجازه ورنکړه، چې د خسرو خان پر اوږه ودرېږي او د پښتنو سره جګړه وکړي، ځکه چې د پښتنو دا ملي قانون او عنعنه ده، چې که څه هم پخپل منځ کې زر کېنې او دښمنۍ سره ولري، خو کم وخت چې د پردیو او غلیمانو مقابل ته خبره ورسېږي، نو پر خپلو شخصي او داخلي بدیو او ګوندیو ډېره ږدي او یو د بل په اتفاق د غلیمانو په مقابل کې جنګېږي. هغه وخت، چې د پردیو جګړه پای ته ورسېږي، ښایي چې بیا د ناپوهۍ او جهالت او بدبختۍ په اثر هغه ډېره واخیستله

[1] خورشید جهان، ۱۳۲ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



شي او دوه ورونه پخپل منځ کې یو د بل وینې تویې کړي.

نو دا سبب و، چې د ناصري روضة الصفا د لیکنې په قرار عبدالله خان پر لاړې خسرو خان ته یوه بهانه او پلمه وکړه او سره د خپل لښکره خپل اېل ته ولاړ[1] او د غلځیو او ابدالیو پر شخصي عنادو یې ډېره کښېښودله.

## د میرویس آمادګي:

د پښتنو ملي زعیم، چې د پارسیانو د لوی لښکر څخه خبر شو، پښتانه یې خبر او ټول یې جنګ ته چمتو کړل. امر یې وکړ، چې ټول کښتونه او کرهنې وریبل شي او حصار ته دې یووړه شي او په دې لاره کې یې ډېر زیار وویوست، چې مځکې او کروندې توري تشې شي او ټوله غله دې ښار ته یا کورو ته ننه ایستله شي.

په دې ترتیب یې خوراکي مواد او نور ضروري شیزونه په کافي اندازه راټول کړه او د افغان او پارس د جګړې د لیکونکي په قول د دوو کالو د محاصرې لپاره یې پوره ترتیبات ونیول[2] او د ښار اکثر خلك، چې سپین ږیري یا ښځې وې او د جنګ نه وه، د ښار څخه لیرې ځایو ته واستول او په ټینګولو ړوځایو کې یې مېشته کړه او هم یې خپل د سپرو د نظام لویه برخه د داود خان (د پټې خزانې د مؤلف

[1] روضة الصفا، ۸ مخ.

[2] د افغان او پارس جګړه، ۵۵ مخ (د مخ دا شمېره هم له انګلیسي متن څخه رانقل سوه. م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پلان تر قیادت او سپهسالارۍ لاندې د فراه د درو خوا ته واستوله، څو وروسته تر هغه چې یې په فراه، سیستان او ګلستان کې د پښتنو سره مرکې وکړې او د نوروزو، بارکزو او ساکزو ډېر زلمیان یې د ځان ملګري کړه. پر خسرو خان یې چې د فراه څخه راوخوځېد، یرغل وکا او د هغه سره په جګړه اخته شوه[1] پخپله میرویس خان د ډېر و لږو پلو عسکرو سره د هلمند پر غاړه د بست په کنډوالو او خرابو کې د خسرو خان انتظار یوست. که څه هم د پښتنو زلمیانو شمېر پوره نه څرګندېږي، خو د میلیسون په قول ډېر لږ و او دی وایي، چې سره ددې چې د پښتنو عسکر ډېر لږ و، بیا هم د لومړنیو فتوحاتو په نشه دومره مست و، چې د یو دېرش زرو او دوه سوه تنو پارسیانو مقابلې ته حاضر ولاړ وو[2].

## د کندهار محاصره:

خسرو خان راوړاندې شو، د هلمند تر غاړو راورسېد، دلته بیا د جګړې اور بل شو. که څه هم ددې جنګ تفصیل ښه معلوم نه دی، مګر دومره یې لیکلي دي، چې د خسرو خان لښکر په ډېر زور یرغل وکړ او پښتانه چې د هغو لسمه برخه هم نه وه، نو ځکه میرویس خسرو خان ته موقع ورکړه، چې د هلمند له سینده راتېر شي او د کندهار ښار ته راورسېږي. کندهار محاصره شو، مګر میرویس تر محاصرې دباندې پاته

[1] پته خزانه، ۱۹۷ مخ.
[2] د میلسیون د افغانستان تاریخ، ۲۱۵ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



شو او د ميليسون په قول "ميرويس د ناپليون په څېر په (۱۸۱۴ع) دا يقين درلود، که پر دارالخلافه مقابله شروع کړي، نو به داسې کار وکړي، چې دښمن به د ماتې او شکست نغاره وډنګوي([1])".

پارسيانو ددې محاصرې د ټينګولو لپاره هر ډول اقدامات وکړه، مګر کوم شی چې خسرو خان او دده عسکر وارخطا او سراسيمه کړه، دا و چې هغوی په دې اميد چې د منې موسم دی، غلې او واښه ډېر پيدا کېږي، د ځانه سره يې هيڅ خوراکه او آزوغه رااخيستې نه وه. دلته چې ټول کښتونه او کرهڼې له منځه تللې وې او ځکې يې تشې توري وليدلې، خورا پرېشانه او مضطرب شول. مګر بيا يې غوښته دا خپل اضطراب پټ وساتي، خو ميرويس د دوی د اذوقې په حال ښه خبر و، نو د ښار ساتونکو ته به يې د صبر او تحمل کولو توصيې رااستولې. که څه هم د ميليسون په قول د ښار څو کمزورو تنو د ميرويس او نورو پښتنو بې مشورې او مصلحته وغوښتل، چې د ميرويس سره هغسې معامله وکړي لکه پاريس، چې د ناپليون سره وکړه. يعنې وې غوښتل، چې د خسرو خان سره خبرې اترې شروع کړي او تر څو شرطو لاندې د روغې معاهده ورسره وتړي، مګر د دوی دا درخواست د خسرو خان اميدونه راپاڅول او ښار يې د ځان وباله، ځکه يې د تسليم بلا شرط څخه ماسوا د دوی "بله خبره نه اورېدله. د

[1] د ميلسون د افغانستان تاريخ، ۲۱۵ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ښار هغه څو خلك چې د خسرو خان په تصميم پوه شول او د يوې خوا يې د ميرويس او اولس نارضايي وليدله او د بلې خوا "بلا شرط تسليمېدل" غوښتل کېده، نو پښېمانه شوه. تر بې شرطه تسليمېدو يې مرګ غوره وباله او د نورو پښتنو په شان يې مقابلې ته ملا وتړله او د همت پښې يې ټينګې کړې او په هره حمله کې يې دپارس قواوې پر شا ووهلې او هم د دباندې له خوا ملي زعيم خپلې تيتې شوې قوې رايوځاى کړې او د سره يې د بلوڅانو، ترينانو او د پښتنو د نورو قبيلو زلميان راغونډ کړه او د کندهار د جنوب له خوا يې د خسرو خان پر پوځ يرغل وکړ او د ښار ساتونکو ته يې داسې پيغام واستاوه:

"که موږ بې ننګه شو او د ښمن بريالى شي زموږ څخه به هم يو ژوندى پرې نږدي نو بهتره دا ده، چې ټول په مړانه زيار وباسو، څو چې يا په نېکنامۍ مړه شو او يا پر غليمانو برى ومومو!"(1) د ښار پښتنو چې د ميرويس دا پيغام واورېد، لا يې د غيرت وينې په جوش راغلې او مقابلې ته يې ملاوې وتړلې.

## د خسرو خان مرګ او د پارسيانو تېښته:

خسرو خان او دده لښکرې د محاصرينو د مقاومت څخه د يوې خوا او د آزوغې او ذخيرې د نه لرلو څخه د بلې خوا د خپل موفقيت او بريالیتوب څخه ورځ په ورځ مايوس او

[1] داستان ترکتازان هند، څلورم کاخ، ۱۴۶ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ناامیده کېدل او هم د بلې خوا د میرویس حملو د دوی کار مشکلاوه او د دوی معنویات یې ورورانول او هم سربېره پردې حملو د ژمي شپې هم نژدې وې، ځکه نو دوی نه پوهېدل څه وکړي؟ اوسي یا ولاړ شي؟

په دې وخت کې میرویس پر دوی د ذخیرو د راتګ لارې هم وتړلې. خسرو خان چې خپل نیم اردو په دې ګیرودار کې له لاسه ایستلی و، که څه هم محاصره یو کال ته رسېدلې وه، مګر بیا یې هم تر مشورې وروسته د محاصرې څخه لاس وکښل. غوښته یې بېرته پارس ته ولاړ شي. مګر د اردو په منځ کې یې بې اتفاقي او نفاق پیدا شو. پارسیانو غوښته د یوې لارې ولاړ شي او ګرجیان هم پر دوو لارو سره ولاړه په دې وخت کې چې عباس قلي خان د پارس د دربار معتمد دا بې اتفاقي او تجزیه ولیدله، کندهار ته راغی او د پارسیانو د اردو ټول حال یې میرویس ته ووایه[1] میرویس چې دا حال واورېد او د دښمن په ډېري وارخطایی خبر شو، امر یې وکړ چې دستي اته سوه اوښ په حربي لوازمو بار او تهیه کړي او وروسته تر هغه پخپله د خپلو شپاړس زرو پښتنو زلمیانو سره یې پر خسرو خان حمله وکړه او په ډېر زړورتوب پر ورغی، نو هغه و چې خسرو خان یې پخپل آکا پسې قبر ته واستاوه. د ګرګین سره یوځای شو او د پارسي مؤرخینو په اصطلاح "سر در پای قلعه

[1] د افغان او پارس جګړه، ۵۶ مخ (د مخ نمره له انګلیسي ژباړې رانقل سوه م. هوتک)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ګذاشت" او میرویس خان د ګران وطن صحنه د متجاوزینو له وجوده پاکه کړه او لکه سرجان مالکم او نور مؤرخین، چې وايي د يو دېرش زرو او دوه سوو تنو څخه فقط پنځه سوه، يا اوه سوه تنو د ډېرې چابکي تېښتې په اثر خپل ځانونه د پښتنو له تورو او مرګ د خولې څخه خلاص کړه(۱) نورو ټولو د خپل ناروا تجاوز سزا وليدله او مړه شول او د دوی ټولې وسلې او حربي تجهيزات د پښتنو لاس ته ورغله.

میرویس پر دې فتح او بري باندې د لوی خدای شکر ادا کړ او په ډېرې خوښۍ کندهار ته راوګرزېد او ټولې ولجې يې پر اولس ووېشلې.

د میرویس دا لويه فتح يا د خسرو خان مرګ د روژې په ۲۸مه په ۱۱۲۳هـ کال کې وه(۲) او ميليسون ۱۷۱۳ع کال ليکلی دی(۳).

## د پارسيانو د بل لښکر ماتې:

دوه کاله وروسته بيا د اصفهان دربار يو لښکر سره جوړ کړ او د رستم خان په سرداری يې د کندهار خوا ته راواستاوه.

[1] سرجان مالکم، ۲۰۴ مخ. ميليسون ۲۱۶ مخ. سيد جمال الدين ۳۵ مخ. زندګانی نادر شاه پسر شمشير، ۱۱ مخ (د ۱۳۶۹ش کال چاپ، ۳۶ مخ. م. هوتك)، تاريخ ادبيات ايران، اثر برون دياسمی، ترجمه ۱۰۱ مخ.

[2] خورشيد جهان، ۱۳۲ مخ (د اروابناد ښنوا په ليکنه کې دا نېټه د روژې ۲۷ ده، چې چاپي تېروتنه به وي. ما له اصل ماخذ (خورشيد جهان) څخه د روژې ۲۸ متن ته نقل کړه. م. هوتك)

[3] ميليسون، ۲۱۶ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



مګر څنګه چې زموږ ملي زعیم د پښتون ملت په اتفاق او مرسته ډېر غښتلی شوی و، دې اردو هم څه ونکړه. په جنګ کې مغلوب شوه او رستم ددې لپاره چې د خپلو اسلافو کانه په ونشي، بېرته پارس ته وتښتېد. د پارسیانو دا شکست په (۱۱۲۶هـ ـ ۱۷۱۴ع) کال و[1] او هم دا د سلطان حسین او د اصفهان د دربار وروستنی کوښښ و، چې په ناکامۍ تمام شو. مګر سلطان محمد او د جهانکشای نادري مؤلف او د روضه الصفا لیکونکی تر خسرو خان وروسته د رستم خان نوم نه اخلي، بلکې دده په عوض کې محمد زمان خان شاملو یادوي، چې د ډېر لښکر سره د کندهار خوا ته مامور شوی و، خو متاسفانه پر لارې یې نفس وخوت او دمخه تر دې، چې کندهار ته راورسېږي، ځان یې حق ته تسلیم کړ او لښکر یې وتښتېد[2] په هر صورت تر دې پېښو وروسته میرویس د پښتانه ملت مستقل او خپلواك او بل مختاره مشر شو او د میلیسون په قول میرویس لومړی سړی دی، چې (بې د هرات له ابدالیو) نور ټول د افغانستان قومونه او قبایل یې داسې سره متحد کړه، چې دمخه نه و لیدل شوي[3] او د پښتنو د ریاست پایتخت یې د کندهار زوړ ښار وټاکه او د مملکت په

---

[1] د میلیسون د افغانستان تاریخ، د پښتو ترجمه، ۲۱۷۸ مخ. د ایران د ادبیاتو تاریخ، د برون اثر. د یاسمي ترجمه، ۴ ج، ۱۰۱ مخ.

[2] جهانکشای نادری، ۶ مخ، او روضة الصفای ناصری، ۸ ج، صفحه نه لري. تاریخ سلطانی، ۷۲ مخ.

[3] میلیسون، ۲۱۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



نظم او نسق يې شروع وکړه.

## د ميرويس وفات:

د پښتنو ملي قايد او لوی زعيم ميرويس تر ډېرو جنګو وروسته، چې د متجاوزينو سره يې وکړه او هغه يې د خپلې خاورې څخه وشړل او د پښتانه ملت زړه ازادي يې بيا د دوی په نصيب او پښتانه يې د پخوا په شان ازاد کړه او د مملکت د غربي مځکو څخه يې تر فراه او سيستان پورې بېرته د پښتنو کړې او د ملي وحدت رسۍ يې بيا وغښتله او ټينګه يې کړه، نو په دې وخت کې د اجل استازی راورسېد او نه يې پرېښود، چې دا ستر زعيم خپل نور افکار او ا آرزوګانې ښه عملي کړي. د ذيحجه الحرام په ۲۸ ورځ په ۱۱۲۷ هـ کال يې دې استازي ته لبيك ووايه.[1]

که دده نورې آرزوګانې عملي نشوې او يا يې ارت تشکيلات وضع نه کړای شوه، دا به ښاغلي لوستونکي دده د نه فرصت له جهته وګڼي، ځکه چې څو ليکې دمخه مو وليکل، چې د پښتنو ملي زعيم په ۱۱۲۶هـ کال د متجاوزينو له جګړو وزګار شو او په ۱۱۲۷ هـ يعنې يو کال وروسته يې وفات وکړ، نو دده د آرزوګانو او افکارو د عملي کولو لپاره يو کال ډېر کم وخت و.

د افغان او پارس د جګړې ليکونکی د ملي زعيم وفات داسې ليکي:

---

[1] پټه خزانه، ۱۰۹ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



"دې معروف او دانشمند قهرمان اوه کاله (۱) په قندهار کې حکمراني وکړه او د پارس د ډېرې غښتلې او مقتدرې امپراتورۍ په مقابل کې کلک ودرېد او هېڅکله د یاس او ناامیدۍ اندېښنې دده د مخیلې باریکترینه رشته هم متزلزله نه کړه، خو چې د ده قوا د سن د لویوالي په اثر ورو ورو په تحلیل ورسېدل او صورت یې ناتوانه او مریض شو. د ده په ناروغۍ ټول پښتانه ویرجن او مغموم شول، همېشه به دده د پوښتنې دپاره ډلې ډلې پښتانه راتله او دده ګټور او مفید نصیحتونه یې اورېدل او په هغو یې عمل کاوه.(۲)

## د میرویس وروستنۍ خبرې:

د پورته لیکونکي د لیکنې په قرار کوم وخت چې میرویس خپل د حال خرابوالی حس کړ، نو د پښتنو مشران یې راوغوښتل او په لاندې لنډو لنډو جملو کې یې داسې وصیت ورته وکړ:

" خپل ټول کارونه خدای ته وسپارئ او پرخدای توکل وکړئ! جنګ په مړانه پرمخ بوزئ! په هر کار کې شرافتمندانه وضعیت غوره کړئ او خپل پت ساتئ! هر کله او په هرځای کې سره متحد اوسئ! خپل هر رګ او پله قوي کړئ! هېڅکله د پارسیانو اطاعت ونه منئ. په هر قوت او سعیه چې ممکنه وي

---

[1] اصلاً اته کاله دي.

[2] د افغانستان او پارس جګړه، ۵۷_۵۸ مخونه (د مخونو عددونه د انګلیسي ژباړې دي او له هغه متن څخه رانقل سوه. م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



خپل دښمنان چې پر تاسې حمله کوي پر شا ووهئ، ځکه چې ستاسې دښمنان د درباري اختلافاتو په اثر او د دوی د خلکو د فساد او خیانت له کبله خورا په تلوار د فنا خوا ته روان دي! د دوی د شمېر له ډېروالي مه بېرېږئ، ځکه چې تاسې متحد یاست او پر خدای مو توکل کړی دی. یقین لرم، چې دوی به مغلوبه کړئ."(۱)

په دې وخت کې یې سا لنډه لنډه شوه او نور یې نو د خبرو توان نه درلود، په ډېر تکلیف یې سترګې رونې کړې او د شهادت تر کلیمې دمخه یې دا وروستۍ جمله وه، چې وېویل:

"اصفهان ونیسئ"(۲)

تر دې وروسته یې یوه اوږده سا واېستله او د پاك او سپېڅلي روح مارغه یې جاوداني ځالې او علیین ته والوت(۳) او د آزادۍ خواهۍ په دنیا کې یې لوړ مقام او ژوندی نوم پرېښود او تر مرګ وروسته مو ړ ته وایي:

**"د ننګ توړه به مې هر هډ وي**

**که پس له مرګه پر مزار راشې مینه!"**

---

[1] د افغان او پارس جګړه، ۵۸ مخ (د ماخذ د مخ عدد د انګلیسي متن څخه واخیستل سو. م. هوتك)

[2] د افغان او پارس جګړه، ۵۸ مخ (د ماخذ د مخ عدد د انګلیسي متن څخه واخیستل سو. م. هوتك)

[3] د افغان او پارس جګړه، ۵۸ مخ (د ماخذ د مخ عدد د انګلیسي متن څخه واخیستل سو. م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## دده مـــزار:

اوس دده مـــزار د کنـــدهار د زاړه ښـــار پـــه دوه کروهــــې او د نــوي ښــار پــه شــپږ کروهــې کــې د زاړه ښــار د شــمال غــرب خــوا تــه او د نــوي ښــار غــرب پلــو تــه د کــوکران پــه کلــي کــې دی. دده مــزار د پښتنــو د ورو او لويــانو، نــر او ښځــو مرجــع او ټــول پښتانــه دده مــزار تـــه ورځـــي او دده د روح څخـــه فيـــض او مرســـته غـــواړي. د اعليحضـرت شـــهيد محمـــد نـــادر شـــاه پـــه وختـــو کـــې ددې ملـــي قـاېد پـر مـزار د اعليحضـرت احمـد شـاه بابـا د ګنبنـدې پـه شـان يـوه عاليشانه ګنبده جوړه شوه، چې تاسې يې مقابل عکس وينئ.

هــو! پــه يــوه ملــت کــې چــې ډېــر لــږ حــس هــم وي خپــل ملــي نوميالي نه هېروي او تل يې پخپلو زړو کې ځای ورکړی وي.

✲ ✲ ✲ ✲

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


# تر میرویس وروسته

ځنګه چې په دې کتاب کې اصل غرض د ملي زعیم او پښتون قاېد میرویس د ژوندون حالات بیانول دي او د هوتکو د دورې مفصل حالات غرض نه دي، نو ځکه تر میرویس وروسته حالات خلص او په مجمل طور سره لیکو، چې فقط دومره معلومه شي، چې د ملي زعیم تر وفات وروسته څه وشوه؟

او ددې برخې مفصل حالات به هم زه په بل کتاب کې ولیکم، چې د تاریخ د عمومي مدیریت له خوا د هوتکو ټوله دوره ماته راسپارلې شوې ده، چې هلته یې ولیکم، نو ځکه که د شاه محمود او شاه حسین د میرویس د زامنو د پاچهۍ او جنګو مفصل بیانات نه وي دلته راغلي، ګران لوستونکي به ما وبښي او د همدې سببه د اصفهان د جنګ تفصیل، چې د پښتنو د خوا محاصره شوی و، دلته نه ځایېږي او کله چې د هوتکو ټوله دوره لیکم، هلته به یې ولیکم.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## د میرویس ورور عبدالعزیز:

د میرویس دوه زامن پاته شوه، چې یو ۱۸ کلن او بل ۱۴ کلن و، ځکه چې دا زامن یې نسبتاً د سن د خوا زېکیان و، نو د میرویس ورور چې عبدالعزیز نومېده، د میرویس پرځای کښېناست. که څه هم دده نوم ملیسیون او سرجان مالکم او سید جمال الدین، عبدالله ذکر کړی دی، مګر ځکه چې سلطان محمد او شیر محمد او جهانکشای نادري او روضه الصفای ناصري او پټې خزانې، چې د هوتکو په دوره کې لیکل شوې ده، عبدالعزیز راوړی، نو دلته هم د پټې خزانې قول ته ترجیح ورکړه شوه.

دې سړي د ورور په شان لوړ همت نه درلود، بلکې هوسایي او آرامي خوښوونکی وضعیت یې و او د جنګ څخه یې کرکه کوله، نو چې مشرتوب ده ته ورسېد، د پښتنو مشران یې راوغوښته، ملي جرګه یې جوړه کړه او پښتنو ته یې داسې وویل:

"تر دې ډېرو مشکلاتو او ډېرو جنګو وروسته به ښایي چې تاسې هم زما په شان د پارس د حکومت سره د روغې غوښتونکي یاست او آرامي به غواړئ. اوس چې مې مشر ورور مرحوم شو او پښتنو ته یې لویه سوبه او فتح ګټلې ده، نو که موږ د روغې او صلح غوښتنه وکړو د پارس پاچا به یې په ډېره خوښي ومني."([1])

---

[1] د افغان او پارس جګړه، ۵۸ مخ (د مخ عدد په اصل کې نسته. له انګلیسي متن څخه واخیستل سو. م.هوتک)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



دده دې خبرې د پښتنو په منځ کې شور ماشور جوړ کړ او هغه حرارت او محبت، چې يې تر دغه ګړي پخوا عبدالعزيز ته درلود، په عمومي نفرت بدل شو او وې ويل، چې: "موږ هېڅکله دا د بې ننګۍ خبره نشو منلای. دا خبره د ميرويس نيکه د وصيت سره مخالفه ده. که د ورور پر قدم نشې تلای، نو روغې ته هم دومره تلوار مه کوه."([1]) که څه هم ملي جرګې دده خبره ونه منله، مګر عبدالعزيز په پټه د پارس حکومت ته د روغې دا لاندې شرطونه د استازي په ذريعه وړاندې کړه:

۱_ پښتانه دې د هغه باج څخه، چې د ګرګين په وخت کې اخيستل کېده، معاف وي.

۲_ کندهار ته دې پارسي عسکر نه راځي.

۳_ د پښتنو پاچهي دې همېشه د عبدالعزيز د زامنو او لمسيانو وي.([2])

څنګه چې پښتنو خپله دا آزادي په خپلو وينو لاس ته راوستلې او رانيولې وه، نو چې د عبدالعزيز په دې ناوړه کار خبر شول، عبدالعزيز ته يې ډېرې سترګې سرې شوې. په تېره بيا د ميرويس زوی شاه محمود، چې د آکا دا پېشنهادونه وليدل، د څلوېښتو پښتنو مشرانو په مشوره يې د شپې بلې دنيا ته واستاوه او دده د بې ننګيو جزا يې د خپل خنجر په

---

[1] سرجان مالکم، ۲۰۰ مخ.

[2] ميليسون، ۲۱۹ مخ. سرجان مالکم، ۲۰۰ مخ. سيد جمال الدين تتمة البيان ترجمه، ۸۳ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



واسطه دده په ټټر کې کښېښوله.[1] مګر پټه خزانه وايي، چې عبدالعزیز د ملت غم نه خوړ، څو چې په ۱۱۲۹هـ کال د شپې د نارنج د قصر د بامه خطا سو او راولوېد مړ سو[2] که څه هم باید د پټې خزانې دا قول معتبر وباله شي، چې لیکوونکی یې معاصر و، مګر زما په عقیده د همدې جهته چې لیکوونکی د عبدالعزیز معاصر دی، نو نه یې غوښته یا د هغه وخت سیاست تقاضا نه کوله، چې دده د مرګ نسبت شاه محمود ته وکړي. که نه وي نور ټول مورخین متفق دي. دا واقعه د میلیسون په قول د ۱۷۱۶ع په مارچ کې پېښه شوه.[3]

## د میرویس اولاد:

میرویس چې وفات شو دوه یې زامن [4] او یوه لور پاته شوه. دمشر زوی نوم یې "محمود" چې اتلس کلن و [5] د کشر زوی نوم یې "حسین" چې څوارلس کلن و[6] د لور نوم یې

---

1 میلسیون، ۲۲۰ مخ، سرجان مالکم ۲۰۰مخ. سید جمال الدین ۸۳۶مخ، تاریخ علي قلي میرزا، ۱۲ مخ، خورشید جهان، ۱۳۲مخ، زندګانی نادر شاه پسر شمشیر، ۱۱ مخ (د ۱۳۶۹ش کال چاپ، ۳۷ مخ. م.هوتك) او نور...

2 پټه خزانه، ۱۰۹ مخ.

3 میلیسون ۲۲۰ مخ.

4 د افغان او پارس جګړې لیکوکی لیکي، چې د میرویس درې زامن پاته شوه مګر د دریم زوی نوم يې نه دی ذکر کړی، ۵۹ مخ (دا شمېره هم له انګلیسي ژبارې څخه رانقل سوه. م. هوتك)

5 میلیسون ۲۱۷ مخ، سرجان مالکم ۱۹۹ مخ.

6 پټه خزانه، ۱۰۹ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



"بـي بـي زینبـه" وه (١) چـې دلتـه ب ډېرلنـډ لنـډ د هـر یـوه معرفـي وکړو:

## شاه محمود:

شـاه محمـود د پـلار د مـرګ پـه کـال کـه څـه هـم اتلـس کلـن و، مګـر بیـا هـم ډېـر مېـړه پښتـون زلمـی و او پـر پـلار هـم ډېـر ګـران و، ځکـه چـې د پـلار سـره پـه ټولـو جګـړو کـې ملګـری و او پـه حربـي چـارو کـې یـې ښـې تجـربې حاصـلې کـړې وې. د پـلار تـر مـرګ وروسـته بیـا د خپـل آکـا پـه خـدمت کـې و او د پښتنـو د کـار و بـاره سـره یـې ډېـره دلچسـپي درلـوده(٢) مګـر کـوم وخـت چـې یـې د خپـل اکـا پېشـنهاد ولیـد، نـو د اکـا د کـړو څخـه بېـزاره شـو او د هغـه کـار یـې ورتمـام کـړ او څنګـه چـې د پـارس او کنـدهار پخـوانی رواج و، چـې د ښـار پـه هـره خـوا کـې یـوه یـوه منـاره وه او پـه هـره منـاره کـې بـه یـوه نغـاره د خلکـو د خبرولـو لپـاره پرتـه وه، هـر وخـت چـې بـه یـو مهـم خبـر و، نـو دا نغـارې بـه ډنګېـدلې او خلـك بـه راغونډېـدل(٣) محمـود چـې خپـل آکـا مـړ کـړ، نـو دا نغـارې یـې وډنګـولې او خلـك راغونـډ شـول. محمـود د خپـل آکـا پېشـنهاد دوی تـه وښـود او د پارسـیانو سـره جـنګ یـې پـه آیـت او حـدیث ثابـت کـړ او بیـا یـې څرګنـده کـړه، چـې دده آکـا د خپلې

---

[1] پټه خزانه، ۱۸۵ مخ.

[2] د افغانسـتان او پـارس جګـړې، ۵۹ مـخ. (لـه انګلیسـي مـتن څخـه د مـخ شـمېره رانقل سوه. م.هوتك)

[3] د افغان او پـارس جګـړه، ۵۹_۶۰ مخونـه (د مخونـو دا شـمېرې د انګلیسـي مـتن څخه واخیستل سوې. م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



شخصـي آرامـی او خـوش ګزرانـی لپـاره غوښتـه، چـې پښتانـه بیـا د پارسـيانو تـر لاس لانـدې او د هغـوی مطیـع کـړي او زمـوږ مملکـت بیـا وران شـي. تـر دې وروسـته يـې نـو وويـل، چـې: "مـا هغـه وواږه!"(۱) پښتنـو چـې هغـه پېشـنهاد ولوسـت او ورمعلومـه شـوه چـې محمـود رښتيـا وايـي، نـو ده تـه يـې آفـرين ووايـه(۲) او دی يـې د خـان پاچـا کـړ او د شـاهی لقـب يـې ورکـړ، نـو "شـاه محمـود" وبالـه شـو. دا زلمـی پښتـون د پښتنـو پاچـا شـو او تـر ۱۱۳۴هـ کـال پورې د افغانسـتان د پاچـا پـه حيث يـې حکمرانـي وکـړه او څـو واره يـې د پـارس او سيسـتان شـرقي برخـو تـه لښکـرې وايسـتلې، څـو پـه ۱۱۳۴ هـ کـال د پـارس د حکومـت پايتخـت (اصـفهان) محاصـره کـړ او تـر اتـه مياشـتې محاصـرې وروسـته يـې د محـرمې د مياشـتې پـه ۱۱ يـا ۱۵ پـه ۱۱۳۵ هـ ۱۷۲۲ع کـال د صـفويانو وروسـتنی پاچـا سـلطان حسـين خپـل خـان او پايتخـت د پښتنـو لښکـرو تـه تسـليم کـړ(۳) دې پښتـون زلمـي پاچـا د خپلې شهنشـاهی پـه وختـو کـې د اصـفهان تـر فـتح وروسـته ډېـرې لـويې لښکرکښـی وکـړې، څـو چـې تـر دوه نيمـو کـالو پاچهـی وروسـته د بـرات د مياشـتې پـه ۱۲ شـپه پـه

---

[1] د افغان او پارس جګړه، ۵۹_۶۰ مخونه( د مخونو دا شمېرې د انګليسي متن څخه واخيستل سوې. م.هوتك)

[2] تاريخ سلطاني، ۷۵ مخ. خورشيد جهان ،۱۳۴ مخ (د مخ شمېره ما پر زياته کړه.

[3] تاريخ سلطاني، ۷۵ مخ. خورشيد جهان ،۱۳۴ مخ (د مخ شمېره ما پر زياته کړه. دغه راز په خورشيد جهان کې دغه کال "هزار و صد و پنج" راغلی دی، چې غالباً به د خطاط تېروتنه وي. (م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



۱۱۳۷هـ کال په اصفهان کې د دماغي ناروغۍ له کبله ووژل شو[1] دا فتح مېړه پښتون په ۲۷ کلنۍ تر دنیا تېر شو او د پښتنو په تاریخ کې یې ځلانده نوم او توره پرېښوده[2]

دده د ژوند مفصل حالات او دده د جګړو د میدانو وضعیت او کوائف به په بل مفصل کتاب کې، چې د هوتکو دوره بشپړه لیکم، کاملاً راوړه شي*.

## شاه حسین:

د میرویس دوهم زوی حسین نومېده، چې د ۱۱۱۴هـ کال د ربیع الاول په ۲۳ د کلات په سیوري کې وزېږېد. د عمر تر دوولسو کلو پورې یې د فقه او تفسیر او منطق او د بلاغت علوم ولوستل. هغه وخت، چې په ۱۱۳۵هـ کال اعلیحضرت شاه محمود اصفهان فتح کړ، نو خپل کشر ورور شاه حسین یې د کندهار پر تخت کښېناوه. اعلیحضرت شاه حسین ډېر عالم او ادیب او علم روزونکی پاچا و او دده عصر پر پښتنو باندې په ډېرې آرامۍ او راحت تېر شو. غربي او شمالي خوا

---

[1] تاریخ سلطاني، ۷۶ مخ. خورشید جهان ۱۳۵ مخ( په خورشید جهان کې دا کال "هزار و بیست و هفت" دی. (م.هوتك) ماثرالامراء، ۷۰۱ مخ، ۳ ج. روضة الصفای ناصری، مګر سید جمال الدین او میلسون (۱۷۲۰ع _۱۱۳۷هـ) لیکلي دي. (تاریخ افغانستان، ۲۳۸ مخ، م.هوتك)

[2] د روضة الصفای ناصری په قول (۲۱) کلن و.

* د.اروانباد ببنوا دا کتاب "هوتکي ها" نومېږئ چې په ۱۳۳۵ ش کال د تاریخ د انجمن له خوا چاپ سو. ددغه کتاب پښتو ژباړه د یونس مراد په قلم سرته رسېدلې او په ۱۳۴۵ش کې چاپ سوې ده. پښتو ژباړه یې دوهم وار په ۱۳۸۰ ش کې د صحاف نشراتي مؤسسې له لوري چاپ سوې ده. (.م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



تــه تــر فــراه، سبزوار او هــرات پــورې او شــرقي خــوا تــه تــر غزنــي او ګومــل پــورې د ه حکمرانــي کولــه او برســېره پــردې "پښــين" شــال او د پنجـاب د اسـماعيل خـان او غـازي خـان ډېـرې هـم دِ شـاه حسـين پـه وختـو کـې فـتح شـولې(1) همدارنګـه د ملتـان لتـه هـم د کنـدهار د قـواو لــه خــوا تهديـد شـوه او د پښتنـو پـرمختګ د ملتــان تــر حـدودو ورسـېد(2) ددې زلمـي پاچـا د علـم پـرورۍ د ثبـوت لپـاره همـدا دليـل بـس دی، چـې پـه شـاهي ارګ کـې يـې ادبـي انجمـن تشـکيل کـړی و او پـه هفتـه کـې بـه يـې يـوه ورځ د خپـل وخـت ډېـر لــوی علمــا او شــاعران او اديبــان خــپلې کتابخــانې تــه رابلــل. شعرونه بـه يـي اورېدل او ادبـي مجلسـونه بـه يـې کـول. شـاعرانو تـه بـه يـې صـلې ورکـولې(3) چـې د همـدې ټـولنې پـه برکـت او ددې پاچـا پـه امـر د پښتـو ګرانبهـا اثـر "پټـه خزانـه" ميـدان تـه راووتلـه او وليکـل شـوه او نـور ډېـر کتابونـه پـه پښتـو کـې پيـدا شـوه، چـې د هوتکـو پـه دوره کـې بــه مکمـل وليکـل شـي او دی پخپلـه هـم د پښتـو ژبـې ښــه شـاعر و. پـر ملـي وزن يـې خـواږه شـعرونه ويـل. ددې علـم دوسـت پاچـا پـاچهي تـر ۱۱۴۹هـ کـال پـورې دوام وکـړ، خـو د همــدې کــال د رجــب پــه ۱۷ نــادر افشــار د ذافغانســتان خواتــه د ضـبط پـه خيـال راوکوچـېد، ځکـه چـې ده د درې ځلـورو کــالو پرلــه پســې جګــړو پــه اثــر د هــرات د ابــداليو حکومــت لــه منځـه اخيسـتی و او د پښتنـو د قـواو بـاقي پاتـه برخـه يـې هـم پـه

---

1 حيات افغاني، ۶۷ مخ (پښتو ۱چاپ، لومړی ټوك، ۱۱۹ مخ. (م.هوتك)

2 سيرالمتاخرين، ۴۸۰ مخ.

3 پټه خزانه، ۱۱۱مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



پارس او گرجستان کې ماته کړې وه، ځکه یې نو اوس د کندهار د غلځیو د پایمالولو څخه بل کار نه درلود. د کوچني اختر د میاشتې په دویمه نادر شاه تر سیستان راتېر شو او د همدې میاشتې په ۱۸ د دلخك او دلارام له لارې د هلمند غاړې ته راورسېد او ددې ځای تر نیولو وروسته د کوچني اختر په ۲۱ تر هلمند راپورې ووت. د ۱۱۴۹هـ د ذیقعدې په اوایلو کې د کندهار مستحکمه کلا محاصره کړه. شاه حسین د کندهار زلمي مدافع د خپل معروف سپه سالار سیدال خان ناصر سره یوکال او څو میاشتې په مړانه دفاع وکړه او پرې یې نه ښوده، چې نادر شاه سره د هغه خپل نظامي عظمت پر ښار تصرف وکړي. د ۱۱۵۰هـ د ذیحجې لومړۍ ورځې وې، چې د زلمي شاه حسین نظامي طاقت پای ته ورسېد، ځکه چې تر هغه دمخه د هوتکو د دورې مشهور او زړور سپه سالار سیدال خان د شاه حسین د زوی "محمد" نامي سره د کلات په کلا کې د نادر د جګړنو په لاس ورغی او دا نامتو او نوموړی سپه سالار د نادر په امر د سترګو د نعمت څخه محروم او ړوند کړی شو[1] ځکه نو شاه حسین هم نادر شاه ته تسلیم شو او دده ددې تسلیمېدو سره د هوتکو د شهنشاهۍ لمر هم ولوېد

[1] سلطاني، ۹۲ مخ. نادر نامه قلمي، ۱۰۷ مخ (د سیدال خان د ړندولو پېښه په ۱۰۵مخ کې د قلمي نادر نامې د ۱۹۷مخ په حواله لیکل سوې ده. زما چاپي نسخه نادر نامه نیمګړې ده، ځکه د چاپي نسخې مخ ذکر نه شو.م.هوتك) زندګاني نادر شاه پسر شمشیر، ۱۰۵ مخ(د ۱۳۶۹ش کال چاپ په ۱۳۳ مخ کې مازندران ته د شاه حسین هوتك د تبعید یادونه راغلې ده. م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



او لکه سلطان محمد، چې لیکي: "زلمي شاه حسین تر ۱۵ کالو سلطنت وروسته د نادر شاه په امر د پارس مازندران ته تبعید شو او هم هلته د نادري قهر په زهرو د برات په لسمه په (۱۱۴۹؟) باید (۱۱۵۲هـ) وي له دنیا ولاړ.([1])

## د میرویس لور مېرمن زینبه:

مېرمن زینبه د ملي قاېد یوه عالمه او محترمه او هوښیاره لور وه. د اسلامي احکامو او فقي اکثر کتابونه یې لوستلي وه. د فارسي مشهور او متداول کتب یې هم تر پایه رسولي وه. خپل دا تحصیل یې د هغه وخت د مشهور او لوی عالم ملا نور محمد غلځي څخه کړی و، چې دې عالم د حرم ټولو مخدراتو ته درس وایه، چې وروسته بیا پخپله مېرمن زینبې دا وظیفه پر غاړه واخیستله او د حرم او نورو نجنو ته به یې تعلیم کاوه([2]) وایي چې بي بي زینبه ډېره هوښیاره مېرمن وه او د مملکت په اداري چارو هم ښه پوهېدله. خصوصاً د خپل ورور شاه حسین سره یې ډېرې فکري مرستې کولې او د پټې خزانې د مؤلف په قول هر کله به یې د امورو مشکلات په صایبي رایې حل کول او شاه حسین به هم ددې په خبرو عمل کاوه او ددې نصیحتونه به یې اوریدل([3]) بلکې د "تاریخ

---

[1] سلطاني، ۹۶مخ. خورشیدي جهان، ۱۵۶_۱۶۱ مخونه. (د شاه حسین هوتك د تبعید یادونه د خورشید جهان په ۱۶۱ مخ کې ده. (م.هوتك) نادر نامه قلمي، ۲۰۴ مخ (چاپي ۱۳۳ مخ. م.هوتك) سیر المتاخرین، ۴۸۰ مخ.

[2] پټه خزانه، ۱۸۵ مخ د کابل طبع (۱۳۲۳ش)

[3] پټه خزانه، ۱۸۵ مخ د کابل طبع (۱۳۲۳ش)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



افاغنه" د لیکونکي سید ظهور الحسن او هم د سلطان محمد له قوله څرګندیږي، چې د کندهار د محاصرې په وخت، چې نادر شاه محاصره کړې و، هم د حکومت ټوله کاروایي ددې مېرمنې په لاس کې وه او د محاصرې په پای کې هم دا مېرمن د ښاره راووتله او د نادر سره یې د متارکې مذاکره شروع کړه.([1])

برسېره پر دې، دې مېرمنې د ادب سره هم زیاته مینه درلوده، تل به یې د شاعرانو قدر کاوه او د پخوانیو شعراو دیوانونه به یې لوستل. پخپله هم ادیبه او شاعره وه. ښه ښه خواږه اشعار یې ویل، چې ددې د اشعارو څخه یو شعر هغه مرثیه ده، چې د خپل ورور شاه محمود په مرګ یې پر ملي وزن ویلې ده او ددې دا منظومه هم د شعري لطافت څخه ډکه ده او هم پښتنې روح پکې دی. موږ یې ددې د اشعارو د نمومې په توګه رانقلوو:

ږغ سو چې ورور تېر له دنیا سونا
قندهار واړه په ژړا سونا
زړه مې په ویر کې مبتلا سونا
چې شاه محمود له ما جلا سونا.

❋❋❋

دا رون جهان راته تورتم دی نا
زړه د بېلتون په تېغ کړم دی نا

[1] تاریخ افاغنه اردو د سید ظهور الحسن موسوی تالیف طبع دهلي، ۵ مخ. تاریخ سلطاني، ۹۵ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



هوتـــك غمجـــن پـــه دې مـــاتم دی نـــا
د پاچهـــی تـــاج مـــو بـــرهم دی نـــا
چـــې شـــاه محمـــود تېـــر لـــه دنيـــا ســـونا
قنـــــــدهار واړه پـــــــه ژړا ســـــــونا.

❋❋❋

ځـــوان و، مېـــړه د تـــورې جـــنګ ونـــا
ولاړ د کـــام پـــه نـــام و نـــنګ ونـــا
دښمـــن لـــه ده پـــه وينـــو رنـــګ و نـــا
پـــر ميـــان شـــير و، يـــا پلـــنګ و نـــا
افســـوس چـــې مـــرګ دده پـــه خـــوا ســـونا
قنـــــــدهار واړه پـــــــه ژړا ســـــــونا.

❋❋❋

محمـــــوده! نـــــه يـــــوازې خـــــور ژاړي
پـــر مـــرګ دې ټولـــه کلـــي کـــور ژاړي
خپلـــوان لا څـــه پاچـــا دې ورور ژاړي
لښکـــر ســـپاه دې پلـــي ســـپور ژاړي
پښتـــون دې ټـــول پـــه واويـــلا ســـونا
قنـــــــدهار واړه پـــــــه ژړا ســـــــونا.

❋❋❋

اصـــفهان پاتـــه تـــاج نســـکور عالمـــه!
چـــې شـــاه محمـــود ســـو نـــن پـــه ګـــور عالمـــه!
د پښتـــون لمـــر ســـو تيـــاره تـــور عالمـــه!
راتـــه د ښمـــن بـــه کـــا پيغـــور عالمـــه!

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چې پاچــا ولاړ پښتــون گــدا ســـونا
قنـــــدهار واړه پـــــه ژړا ســــــونا.

***

لښکــر ســو خپــوز پښتــون ولاړ دی اریـــان
په خــاورو ځــای کــا شــاه محمــود عالیشــان
پاتــه ســو تخــت و تـــاج د تـــول اصــفهان
زړه یــې راســوړ ســو، کــاخوښي دښمنــان
وایـــي پښتـــون اوس بـــې پاچـــا ســـونا
قنـــــدهار واړه پـــــه ژړا ســــــونا.

***

آســـمانه! بیـــا دې څـــه ســـتم کـــا څرگنـــد
وشـــلاوه تـــا چـــې د پښتـــون و پیونـــد
دښمـــن دې بیـــا زمـــوږ پـــه ویـــر کـــا خورســـند
چې شـاه محمـود دې کـا پـه قبـر کې بنـد
پـــر کـــور مـــو ویـــر شـــور و غوغـــا ســـونا
قنـــــدهار واړه پـــــه ژړا ســــــونا.

***

هوتکــو! ژاړئ محمــود شــاه څــه ســونا؟
پښتنــو! ستاســې لــوی ســپاه څــه ســونا؟
لـــه اصـــفهانه تـــر فـــراه څـــه ســـونا؟
پاچــا چــې و، جشــمت پنــاه څــه ســونا؟
د پښتنـــو پـــر تـــم فنـــا ســـونا
قنـــــدهار واړه پـــــه ژړا ســــــونا.

***

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



محموده! څوان وې ولې ولاړې لـه مـا؟
لـه تخـت و تاجـه تـه پـر څـه سـوې جـلا؟
اصــفهان ولــې پاتــه ســونا لــه تــا؟
سر دې راپورته کړه، چې څه کړي اعدا؟
دښمــن ولاړ بيــا شــاوخوا ســونا
قنــدهار واړه پــه ژړا ســونا.

***

اورم نــارې د غــم چــې کړینــه فریــاد
پښتون په مرګ د شاه محمود سو برباد
زړونـه چـې تـل بـه و ښـادمن سوه ناښـاد
د سـاندو وږغ دی چـې راوړینـه یـې بـاد
مــاتم زده پيــر و برنــا ســونا
قنــدهار واړه پــه ژړا ســونا.

***

وروره! مقـر دې سـتا مـولا کـې جنـت
در دې کـې تاتـه پـس لـه مرګـه راحـت
روح دې وه ښـاد پـه لويـه ورځ د قيامـت
مـخ دې وه روڼ د خداى پـه مهر و رحمت
د خــالق رحــم تــل پــر تــا ســونا
قنــدهار واړه پــه ژړا ســونا.[1]

***

دا مېـرمن د.ورور غـم ډېـره غمجنـه کـړه او بیـا یـې د دنیـا لـه کاروبـاره زړه سـوړ شـو. تـل بـه د خـداى پـه عبـادت مشـغوله وه او عمـر يـې د قـرآن شـريف پـه تـلاوت تېـراوه او ورو نجنکيـو تـه بـه

[1] پټه خزانه، ۱۸۷_۱۹۱ مخونه.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



یې لوست او لیك ورښود.

## د میرویس وراره (اشرف):

اشـــــرف د میــــــرویس وراره او د عبـــــــدالعزیز زوی و. د اعلیحضرت فاتح شاه محمود تر مرګ وروسته دا پوه زلمی د پارس پر تخت کښېناست او په شاه اشرف مشهور شو. دې زلمي د خپلې پوهې او ذکاء په اثر کې دسلطنتي چارو اداره په ډېر ښه صورت سره وکړه او سیدال خان ناصر (د هوتکو د دورې هیرو او پهلوان) یې بېرته په سپه سالارۍ وټاکه او ډېرې لښکرکښۍ او فتوحات یې وکړل او دده د عصر د مهمو وقایعو څخه یوه واقعه د بغداد د والي احمد پاشاه د لښکر راتلل دي، چې د اعلیحضرت شاه اشرف د جلوس په دریم کال د ۱۱۳۹هـ د برات د میاشتې د ۱۲ څخه د ۱۱۴۰هـ ترمنځه پېښه شوه او شاه اشرف د هغو مدافعې ته ورجګ شو، مګر پرې یې نښوول چې پښتني عسکر د هغوی سره په جګړه ونښلي څو هغه و، چې دا واقعه دده د ښه سیاست په اثر کې تر نهه میاشتني ډېر لږ جنګ وروسته په روغې او صلح سره فیصله او ختم شوه([1]) نو دده د جلوس په پنځم کال په (۱۱۴۲هـ) د سلطان احمد ثالث عثماني خلیفه له خوا "راشد پاشا" نامي د سفارت په توګه د اعلیحضرت اشرف دربار ته راولېږه او په عوض کې د پښتنو د دربار څخه هم محمد علي

---

[1] روضه الصفا، ۸ ج. تاریخ نظامي ایران، ۱ ج، ۴۸۲ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



خان بلوخ د ایلچي ګرۍ په ډول عثماني دربار ته واستول شو او په دې توګه ددې دوو دولتو ترمنځ روابط ټینګ شول.([1])

تر دې وروسته نو اعلیحضرت شاه اشرف د نادر افشار په جګړو بوخت شو او څنګه، چې د پښتنو عسکرلا دمخه هر پلو ته سره تیت شوي وو او د کندهار څخه هم کومک نه رارسیدی او نادر افشار هم په ډېر زور کې و، نو تر ډېرو سختو جګړو وروسته پښتانه زلمیان اکثر تباه شول او اعلیحضرت شاه اشرف تر پنځو کالو او اوو میاشتو پاچهۍ وروسته د ګرمسیر د "ملخان" کلا ته، چې د هلمند پر غاړه ده، ولاړ او د هغه ځایه څخه د کښته ښوراوك زرد کوه ته ورغی او هلته د عبدالله خان بلوخ د زوی له خوا، چې ابراهیم نومېده، مړ کړی شو. دده مرګ د ۱۱۴۲ په آواخرو کې واقع شوی دی.([2])

[1] تاریخ سلطاني، ۷۹ مخ. د سرپرسي سایکس د ایران تاریخ، ۷۱مخ.

[2] تاریخ سلطاني، ۸۶ مخ. ماثر الامراء، ۳ ج، ۷۰۶ مخ. د سید جمال الدین تتمه ترجمه، ۶۴ مخ. تاریخ نظامي ایران، ۱ ج، ۸۰ مخ. نادر نامه قلمی، ۹۸ مخ(چاپي نسخه، ۶۷ مخ. م.هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# د میرویس سپه سالاران

## او جنګیالي ملګري

اوس چې د میرویس د اولاد د لنډې معرفۍ څخه وزګار شوو، نو بایده ده چې د ملي قاید د هغو غښتلیو او نامتو ملګرو یادونه وکړو، چې دده سره په جګړو کې حاضر او ده د خپل ملي لښکر سپه سالاران یا سالاران بللي وو، هغه دا دي:

### ۱ـ سیدال خان ناصر:

څنګه چې د پټې خزانې مولف لیکي، سیدال خان د ابدال خان زوی او باړی زی ناصر دی، چې پلار یې د وازیخوا سرته په ډیله نومي ځای کې اوسېده. هغه وخت، چې سلطان ملخي استقلال وموند نو باړي زی د ابدال خان سره راغلل او په اتغر کې مېشته شول[1] سیدال خان د هوتکو د دورې یو مهم او غښتلي او پهلوان نظامي سپه سالار و او بې مبالغې ویلای شو، چې دا پښتون ژنرال د هوتکو د جنګو ملي هېرو دی،

[1] پټه خزانه، ۱۶۹ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ځکه چې دی د دوړی په ټولو جګړو کې شریك و او مهم جنګونه یې کړي دي او په ټولو فتوحاتو کې (څه په داخل او څه په خارج کې) د خورا ځلېدونکو کارنامو څښتن دی او د محمد هوتك په عبارت "په سخاوت او شجاعت زبدهٔ روزګا سو" د هغه وخته څخه چې میرویس ګرګین مړ کړ، سیدال خان ناصر د پښتنو د لښکرو سپه سالار وټاکل شو او د مملکت په حربي او نظامي خدمتو کې داخل شو. بیا هغه وخت، چې صفوي لښکر د کندهار د نیولو لپاره راغله همدا ملي پهلوان د ملي قاېد له خوا د هغه د مقابلې لپاره ورمخ شو او صفوي لښکرې یې څو واره پرله پسې ماتې کړې او ډېر جګړن یې تري ـووژل او د میرویس خان د وخت په ټولو جنګو کې بریالی او فاتح و([1]). بیا چې ملي زعیم وفات شو، اعلیحضرت شاه محمود ددې ملي ژنرال په مرسته اصفهان ونیو او د پښتنو شهنشاهي یې تشکیل کړه او بیا د شاه محمود تر مرګ وروسته د اعلیحضرت شاه اشرف سره د پارس او عثماني او روسیې په ټولو جنګو کې ملګری او غښتلی سپه سالار و او په هر جنګ کې سوبه او بری دده په برخه و.

همدارنګه وروسته د نادر افشار سره په مدافعوي جګړو اخته و او هم دا سیدال و، چې د پښتنو د شهنشاهۍ څخه یې سخته دفاع کوله، څو دا دفاع یې تر کندهاره زاورسیدله او په کندهار کې هم تر وروستني طاقت پورې د شاه حسین سره

[1] پټه خزانه، ۱۶۹ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



یوځـای د نـادر پـه مقابـل کـې وجنګېـده او د سـیدال قـوي روح تـر پایـه پـورې نـادر تـه سـرټیټ نـه کـړ او څـو چـې یـې کـولای شـوه، د پښتنو د حق څخه یې دفاع وکړه.

## د سیدال جنګونه:

د ۱۱۴۲هـ کـال پـه محـرم کـې چـې نـادر افشـار پـر هـرات حملـه وکـړه او د ابـدالیانو د غتـانو سـره پـه جـنګ اختـه شـو او شـاه اشـرف غوښتـه، چـې ببرتـه خراسـان د ځـان کـړي، پـه دې جګـړو کـې سیدال خـان د پښتنـو جګـړنـو او لښـکرو سـردار او قومانـدان و او پـه کرمـان کـې مېشـت و[1]. د هغـه کـال د ربیـع الاول د ۳ تـر ۶ پـورې د "مهمـان دوسـت" مشـهوره جګـړه د پښتنـو او نـادر افشـار تـرمنځ واقـع شـوه، چـې پـه پـای کـې دواړو خـواو تـه سـخت تلفـات واوښتـه[2] تـر دې جـنګ وروسـته سـیدال خـان د اعلیحضـرت اشـرف لـه خـوا د قـزوین پـه حکمرانـۍ مقـرر او انتخـاب شـو او د لښـکر پـه غونـډولو بوخـت شـو. د ۱۱۴۲هـ د ربیـع الاول د ۲۰ تـر ۳۰ پـورې سـیدال خـان د اسـلامخان پـه ملګـرۍ د خپلـو اتلسـو زرو عسـکرو سـره یـې د نـادر شـاه سـره اوږه ورکړه او پښتانه له تهرانه راووتل[3].

د سـیدال خـان درې یمـه دفـاعي جګـړه د "مورچـه خـورت" مشـهوره جـنګ دی، چـې دلتـه هـم د څـه عسـکرو قومانـدانـۍ پـه

[1] جهانکشای نادری، ۱۰۵ مخ.
[2] جهانکشای نادري، ۱۰۵ مخ.
[3] جهانکشا، ۱۰۸_۱۱۰ مخونه او تاریخ نظامي ایران، ۴۵۳_۴۴۵_۴۵۰ مخونه.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



اسلام خان او پخپله شاه اشرف اړه درلوده او ۱۱۴۲هـ د ربیع الثاني په آواخرو کې ونښت. کومه آخرینه مقابله، چې په پارس کې سیدال خان د شاه اشرف په ملګرۍ د نادر شاه سره وکړه، د "ازقان" او "فسا" د پل جنګ دی چې د همهغه کال د جمادي الاخر په ۱۳ واقع شو او د پښتنو وروستني زلمیان د شاه اشرف او سیدال خان سره دید. فداکارۍ صحنې ته وروړاندې شول(۱).

په ۱۱۴۳هـ کال د شوال په میاشت کې، چې نادر افشار د هرات خوا ته متوجه شو او د هرات د ابدالیو د خوا جنګ ورسره ونښت، نو ابالیانو د اعلیحضرت شاه حسین څخه مرسته وغوښتله او د همدې درخواست په اثر د ربیع الاول په میاشت کې د څو زرو امدادي نفرو سره سیدال خان د هرات د وطنخواهانو د کومك لپاره واستول شو(۲)

څو کاله وروسته د ۱۱۴۹هـ کال د ذیقعدې په میاشت، چې د نادر افشار اردو کندهار محاصره کړ، دا تاریخي محاصره، چې په خورا شهامت سره یې دفاع کېدله، د پیاوړي زړور ژنرال سیال خان په همت او مړانه تر یوه کالل او څو میاشتو پورې وځنډېده او دې زړور قوماندان تر آخر ګړیه پوې په ډېر استقامت او شهامت او دلاورۍ او پښتني غیرت دفاع

---

[1] جهانکشا، مخ. زندګاني نادر شاه مخ. روضه الصفای ناصری، مخ .تاریخ نظامی مخ.

[2] جهانکشا، ۱۸۱ مخ. نادر نامه قلمي، ۱۱۵ مخ (چاپي نسخه، ۸۸ مخ. م.هوتك) سلطاني، ۸۸ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



وکړه او څنګه، چې نادر خپله څه قوا د کلات خوا ته واستوله، نو سیدال خان هم د څلور زرو کسو سره هلته ولاړ او د کلات پر کلا یې د نادر د جګړنو سره پر سپین ډاګ سختې مقابلې وکړې، څو چې په آخر کې د اعلیحضرت شاه حسین د زوی "محمد" نامي سره د کلات د کلا د باندې په جګړه کې د نادر د لښکرو په لاس ورغی او نادر، چې خپل دا زړور رقیب لاس ته راووست، دستي یې امر وکړ، چې ددې زمري پښتون سپه سالار سترګې ړندې کړئ([1]) او دده د سقوط سره د هوتکو شهنشاهۍ سقوط وکړ.

وایي کوم وخت، چې د پښتنو ملي پهلوان سیدال خان ناصر د وطنخواهۍ په لاره کې سترګې بایللې، نو د خپلو خپلوانو او خپلې کورنۍ سره د کندهار څخه وکوچېد او د کابل د کوهدامن شکردرې ته راغی او دلته له دنیا ولاړ. ددې مېړه پښتون ژنرال مزار د شکر درې د سیاسنګ په مقبره کې دی او دده څخه یو زوی د شیر محمد په نامه پاته شو، چې تراوسه هم ددې کورنۍ محترم احفاد او اولادونه هلته او په کابل کې اوسي.([2])

## د سیدال ادبي مقام:

څنګه چې پټه خزانه لیکي سیدال خان ناصر علاوه پر دې،

[1] جهانکشای نادري، ۳۱۵ مخ. نادر نامه قلمي، ۱۹۷ مخ (چاپي؟) خورشید جهان، ۱۶۰ مخ. زندګانی نادر شاه، ۱۰۵ مخ. (دغه مطلب د زندګانی نادر شاه... د ۱۳۶۹ش چاپ په ۱۳۱ مخ کې ولولئ. (م.هوتك).

[2] د پټې خزانې تعلقات، د بناغلي حبیبي لیکنه، ۲۵۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



چې د جنګ د ميدان مړني و، د ادب په ميدان کې هم لومړى سړى و او د توري سره يې قلم هم درلوده. ښه پوه او اديب سړى و، مروجه علوم لکه: فقه تفسير، فصاحت، صرف او نحو او فارسي کتب يې لوستلي وو[1] د ادبياتو سره يې ښه مينه درلوده او په کوم وخت، چې به له جنګه وزګار و، شعرونه به يې ويل، پخپله هم ښه شاعر و او پر ملي لحن او وزن به يې سندرې ويلې، چې دلته يې يوه سندره رانقل کوو:

يار ما له هسې ګران سو
راتېر تر ټول جهان سو
نور نه وينم په سترګو
جهان ټول راته جانان سو.

❋❋❋

دوې زلفې دې اوږدې کړې
پر مخ دې راخپرې کړې
سرې اشرپۍ دې په تندي باندې سپرې کړې
ګرزې په باغ کې په ګلونو کې نخرې کړې
په اور دې وسوم ياره
راته اور تازه بوستان سو.

❋❋❋

مين چې اشنايي کا
شپه او ورځ به ګرياني کا
شهۍ ده ستمګاره خوشحال زړونه به زخمي کا

---

[1] پټه خزانه، ۱۶۹ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



لېندۍ لري د ورځيو، د باڼو غشي کاري کا
پرهار مې ګوره خلقه
د دلبر د تېر نښان سو.

❋❋❋

مين پر لويو غرو ځي
سر تور په نيمو شپو ځي
ووزي له وطنه، وطن پرېږدي پر چولو ځي
فرياد و نارې وکا، په نارو په غلبلو ځي
وصال يې نصيب نه سو
ګوره زړه ډك په ارمان سو.

❋❋❋

نارې وهم عالمه!
د شپې تر صبحدمه
ناتوانه د بېلتون يم يو ګړی نه لرم دمه
بيتا مې نفس خېژي راځه زما د زړه همدمه
نظر پر ما غريب کړه
چې تاخون مې ستا په ځان سو.

❋❋❋

شبنم پر ګلو ښکاري
زما اوښکې دارې داري
خوناب ځي ستا له غمه زما په مخکې لارې لارې
تمامه شپه کم* تېره په ژړا په نارې نارې

* کم = کړم. (م. هوتك)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ښکاره سوه چې مجنون یم
لېونتوب مې اوس عیان سو.
❋❋❋
بوستان ښکلی زیبا دی
رنګین په اوښکو زما دی
د زړه پرهار ګلګون دی چې بلبل په تماشا دی
په مینه مې زړه وچاودي ته وایې په خندا دی
نتلی د بېلتون یم
زه "سیدال" دا مې بیان سو([1])

## ۲_ بابو جان بابی:

بابو جان بابی د کرم خان بابي زوی دی، چې په اتغر کې اوسېده او یو د هغو غتانو او مشرانو څخه دی، چې په ملي جرګو کې د میرویس خان ملګری او په جنګو کې د ملي زعیم بازو او د پښتنو لښکرو مشر و. دې پیاوړي سالار په هغه وخت، چې ګرګین وژل کېده له کلاته ډېر غښتلي راوستل او د ماشور([2]) له خوا یې د کندهار د ښار حصار ونیو او چې ښار ونیول شو، نو د میرویس خان له خوا یې په کلات کې حکومت کاوه.([3])

---

[1] پټه خزانه، ۱۷۱_۱۷۳ مخونه.
[2] د ماشور کلي د کندهار د زاړه ښار جنوب ته او د نوي ښار جنوب غربي پلو ته تخميناً ۷ میله لرې واقع دی. پخوا یې د زاړه ښار د جنوبي حصار دروازه د ماشور دروازه بلله.
[3] پټه خزانه، ۱۳۵ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



په ۱۱۳۴هـ کال، چې اعلیحضرت شاه محمود د اصفهان د نیولو عزم وکړ، نو بابو جان بابی هم د درو زرو تنو هوتکو، توخو، ترکو او آکاخېلو سره کندهار ته راغی او د شاه محمود سره اصفهان ته ولاړ او د پټې خزانې په عبارت بابو جان په ټولو جنګو کې "هسې مړانه وکا، چې رستم دوران یې هېر کا"(۱)

سلطان محمد لیکي، چې بابو جان د شاه محمود او شاه اشرف په وختو کې د پارس د لارو بندر حاکم و او د هوتکو د شهنشاهۍ وروسته کندهار ته راغی. جهانکشای نادري یې د "بارو خان" په نامه یادوي. هغه وخت، چې نادر افشار د هرات څخه د کندهار خوا ته وخوځېد او امام ویر دي بېګ د کرمان حکمران دده په امر د ګرشك او کلابس لوري ته مامور شو، اعلیحضرت شاه حسین د بابو جان بابي په قیادت او قوماندانۍ یو لښکر د هغه د مقابلې لپاره ورواستاوه او دې زړور قوماندان د هغو سره جګړې وکړې او هغه یې د فراه لوري ته وځغلول او ډېرې ولجې یې ځینې راوګرزولې.(۲)

علاوه پردې بابوجان ښه عالم او ادیب سړی هم و. د ادب سره یې مینه درلودله، تل به یې د شعراو دیوانونه لوستل او پخپله هم شاعر و. ده په ۱۱۲۹هـ کال د "شهااوګلان" هغه قصه په مثنوي نظم کړه، چې پښتانه یې په مجلسو کې نقل کوي او

۱ پټه خزانه، ۱۳۵ مخ.

۲ تاریخ سلطاني، ۸۸ مخ. جهانکشای نادري، ۱۶۶ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



دا کتاب يې "قصص العاشقين" نوميږي.

**د بابوجان د شعر نمونه:**

## عشق

عشق يو هسې توريالی دی
چې پر هر ځای يې بری دی
د عشق اور هسې سوزان دی
چې سوځلی يې جهان دی
زړه بې عشقه کله زړه دی
چې بې عشقه زړه د مړه دی
پښتانه کاندي متل
چې دی خوږ تر شات عسل
چې: "بې عشقه سر کدو دی"
تش بې مغزه يو لاډو دی
زړه بې عشقه په کار نه دی
هم هر زړه سزاوار نه دی
چې د عشق وکا خبرې
کړي په غوږ دا مرغلرې
د پاکانو عشق سزا دی
امانت دا، د مولا دی.

❋❋❋

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## ۳_ بهـادر خان:

بهـادر خـان، چـې پټـه خزانـه يـې د "صـدر اکـا بـردوران" پـه لقب يـادوي، هـم يـو د هغـو غښتليـو خانـانو څخـه دی، چـې د ګـرګين د وژلـو پـه جرګـه کـې د ملـي زعـيم سـره ملګـری و(۱) او د هوتکـو د دورې ډېـر مشـهور بهـادر او توريـالی دی. د هوتکـو پـه اکثـرو جنګـو کـې يـې برخـه اخيسـتې ده او هـرې خـوا تـه چـې يـې پـه جګـړه کـې مـخ شـوی دی، هغـه خـوا يـې اخيسـتې ده او بريـالی شـوی دی. لکـه محمـد هوتـك، چـې ليکـي بهـادر خـان د شـاه حسـين پـه وختـو کـې هـم د لښکـرو سـالار و او "دشـال"(۲) او "ړوب" کـلاوې يـې فـتح کـړې او د شـاه حسـين بـازو و، چـې وايـي شـاه حسـين ده تـه د ورور خطـاب کـاوه او عوامـو "اميـر الامـراء" بالـه(۳) بهـادر خـان پـه کنـدهار کـې پـه تـوره او ښندنـه (سـخا) ډېـر مشـهور و، دده پـه کرم او سخاوت غريبان او بې وزلي ماړه او آسوده وه.

عـلاوه پـر تـوره او سـخا بهـادر خـان ښـه علمدوسـته سـړی هـم و. متداولـه علـوم يـې لوسـتلي وو. د شـعرا او علمـاو سـره يـې مرسـتې کـولې او هېڅکلـه دده مجلـس ددې طـايفې څخـه خـالي

---

1 ريدي خان په محمود نامه کې وايي:

سيدال ناصر، او بابوجان و بابی

بل بادر خان و، د بادرو لمسی. (۱۴۵ مخ، پټه خزانه)

2 شال يا شالکوټ د اوسنۍ کوټې حدود دي، چې دا بوالفضل په قول د اکبري عصر په تشکيلاتو کې د کندهار شرقي توابع باله کېده او د ختمو کلا يې درلوده، چې کاسي او بلوخ پښتانـه پکې اوسېدل (آئين اکبري، ۱۸۹ مـخ) د پټې خزانې حاشيه، ۱۱۱ مخ.

3 پټه خزانه، ۱۲۵ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



نه و، شاعرانو ته به یې ښې ښې صلې ورکولې، لکه پټه خزانه چې لیکي"په صله کې په دوران طاق دی او په ښندنه علما ته حاتم دی، چې له سفره راسي علما او شعرا مېلمه کا او دوی ته ښندني وکا. خالق تعالی دې دا کریم دوران او حاتم زمان تر ډېره ژوندی وساتي..."(١)

## د بهادر خان د بدلو نمونه:

بهادر خان هم د سیدال خان په شان خپل شعري احساسات په ملي اوزانو کې څرګند کړي دي او پر ملي لحن او وزن یې بدلې او سندرې ویلي دي، چې دلته یې یوه نمونه راوړو:

بېلتون دې زور دی تر لېمو مې سهار نم ثاخي ... لکه شبنم ثاخي
دا سره یاقوت مې په لمن کې ستا په غم ثاخي ... په غم الم ثاخي
ګوره لیلی باران د اوښو ستا په چم ثاخي ... ~~څنګه پر~~ چم ثاخي

***

راغله لیلی په شینکي خال نخا په ګله کړي ... په سرو منګلو کوي
سهار چې وزي سیل کا، رغ په بلبلو کړي ... ګل په اوربلو کوي
ملالې سترګې یې کاته په ویرژلو کوي ... زیب په کجلو کوي
د ژوبل زړه وینې په هر ګړي هردم ثاخي ... لکه شبنم ثاخي

***

ښکلې نجلۍ! د باغ په لور مه ځه نخا مه کوه ... عاشق رسوا مه کوه
وریت سوی زړه مې دی مین پورې خندا مه کوه ... راشه جفا مه کوه
زه یم پتنګ ته یې ډیوه ما جلبلا مه کوه ... نور ظلم بیا مه کوه
یم ستا له عشقه لېونی پر ما، ماتم ثاخي ... غم او الم ثاخي(٢)

***

1 پټه خزانه، ۱۲۵ مخ.
2 پټه خزانه، ۱۲۵-۱۲۷ مخونه.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## ۴_ ملا پیر محمد میاجي:

دا ملا هم یو د هغو روښن فکرو علماو څخه و، چې د ملي زعیم میرویس سره په ملي لویه جرګه کې شامل او هم بیا وروسته په ټولو جنګو کې د میرویس نیکه ملاتړ او ملګری و.

دی د مرحوم ملا محمد سرور زوی و، چې پلار یې د میا فقیرالله صاحب لاس نیوی کړی و او ده بیا د خپله پلاره څخه فیض وموند[1] او وایي چې بیا دی د شاه اشرف او شاه محمود مرشد شو[2] ملا پیر محمد میاجي وروسته تر هغه، چې په ټولو ملي جګړو کې برخه واخیستله او میرویس نیکه وفات شو، نو د میرویس مړني زوی اعلیحضرت شاه محمود د اصفهان د نیولو لپاره ولاړ، دی یې هم وروغوښت چې د اصفهان تر فتح وروسته یې هلته د روافضو سره دیني مباحثې کولې او پیر محمد میاجي هلته دومره شهرت وموند، چې د روم علماو چې په اصفهان کې وو، ده ته د "پیر افغان" لقب ورکړ. میاجي د شاه محمود تر مرګ وروسته د شاه اشرف سره هم اوږه پر اوږه ولاړ و او ده ته یې مشوره ورکوله، څو په ۱۱۴۳هـ کال چې اعلیحضرت شاه اشرف خپلې قواوې له لاسه ایستلې وې او د شیراز څخه د کندهار لوري ته راروان و او د نادر لښکرې په پسې وې، شاه اشرف د "فسا" د پل سر ته (د شیراز په ۳ فرسخۍ کې) راورسېد. په دې وخت کې یې پیر

---

[1] پټه خزانه، ۱۲۹ مخ.

[2] جهانکشای نادري، ۱۲۱ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



محمد میاجي، چې په پښتنو کې ډېر د احترام په سترګو ورته کتل کېدل. د څو پښتنو سربازانو سره د پله د ساتنې لپاره پرېښود او په خپله تر پله تېر شو، چې ملا پیر محمد میاجي په همدې ځای کې د متجاوزینو له خوا ووژل شو(۱)

## دده علمي مقام:

ملا پیر محمد علاوه پر توریالیتوب ښه لوی عالم هم و او د همدې علمي لیاقت په اثر د روم علماو ده ته د "پیر افغان" لقب ورکړ. ده په اصفهان کې روافض په ډېرو مباحثو کې ملامت کړي و او خلک یې د امام اعظم صاحب مذهب ته رابلل. برسېره پر دې ښه مؤلف او لیکونکی هم و، ده دوه کتابونه تالیف کړي، یو کتاب یې د اخلاقو په علم کې د "افضل الطرایق" په نامه لیکلی دی، چې په هغه کې د عقایدو او اخلاقو بیان کوي او بل کتاب یې د "الفرایض فی رد الروافض" په نوم لیکلی، چې دا دواړه کتابونه په پښتو دي او "افضل الطرایق" یې منظوم هم دی، چې د هغه څخه دا څرګندېږي، چې ملا پیر محمد میاجي ښه شعر هم و او دده یو شعر په پټه خزانه کې راغلی دی.(۲)

## ۵_ داود خان هوتک:

داود خان هوتك د پټې خزانې د مؤلف پلار او د قادر خان زوی دی، چې په ۱۰۲۹هـ کال د کندهار د کوکران په کلي کې

---

[1] جهانکشای، ۱۲۱ مخ.

[2] پټه خزانه، ۱۳۱ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



زېږېدلی دی. ده د خپل وخت متداول علوم لوستلي وو او په زلمیتوب کې ډېر عمر له کندهاره د کسي غرونو او ږوب او ډېرو او پېښور ته په علم پسې تللی و، څو چې د خپل عصر په فصحا او علماو کې د نامه خاوند شو.

هغه وخت، چې ملي زعیم او نورو پښتنو ګرګین واژه، داود خان هم دده ملګری و او بیا وروسته په ټولو جګړو کې ورسره و.

په ۱۱۲۰هـ کال، چې د صفویانو لښکرې پر کندهار راغلې، نو د ملي قاېد میرویس نیکه له خوا داود خان فراه، سیستان او ګلستان او نورو ځایو ته ولاړ، چې پښتانه د میرویس نیکه د ملاتړ لپاره راغونډ کړي او هغه، هلته د پښتنو سره مرکې وکړې او د نوروزو او بارکزو او ساکزو ډېر پښتانه یې د ځان ملګري کړل او پر خسرو خان یې یرغل وکړ. په دغو جنګو کې داود خان د میرویس د خوا د پښتنو لښکرو سپه سالار و.([1])

داود خان هم علاوه پر توره د ښې طبع خاوند و او ښه شعرونه به یې ویل. دا دوې رباعي، چې د تجنیس صنعت هم پکې شته، داود خان ویلي دي:

چې د چا په زړه کې اور د مینې بل سي
په اور بل یې لمبې ګډې حال یې بل سي

[1] پته خزانه، ۱۹۷ مخ.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



اور د میــنې کلــه مــري د زړه لــه مېــنې
د اور بـل مینـه کـه تـل د زړه پـه تـل سـي.

***

که یې وینې وینې تل ځاځي له زړو څخه
څوك چې وینې تا، له ځوانو له زړو څخه
د زړو لـه زړو کـه ویــنې وینــې ځــاځي
په کړو د غم لوېدلي ستا له کړو څخه.

***

**تبصره:**

تــر دې ځایــه، چــې د میــرویس نیکــه سـپه سـالاران او جنګــي ملګري ذکـر شـوي د ټولـو د ژونـد لـه حـالاتو ځرګنـد ېږي، چـې دا پښتانـه جنګیـالي مېړونـه هـم د تـورې خاونـدان وواو هـم د قلـم، هـم توریـالي وواو هـم عالمـان، چـې دا یـوه رونـه او ځانتـه ممیـزه ده.

پای

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د پښتنو ملي قايد او لوی زعيم ميرويس نيکه چې خپل ګران هېواد يې
د پرديو له ناروا تجاوز څخه وژغوره او د هوتکو شهنشاهي يې تاسيس کړه.
(۱۱۲۷ ه وفات)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



**اعلیحضرت زلمی پاچا شاه حسین د ملي قاید میرویس نیکه زوی**
**چې هم عالم و او هم توریالی.**
**(۱۱۱۴ ه ۱۱۵۲ ه)**

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



اعلیحضرت شاه محمود د ملي قايد میرویس نیکه زلمی زوی، چې په
پښتني قوت يې متجاوزينو ته ماتې ورکړه او اصفهان يې فتح کړ.
(۱۱۱۰ هـ ـ ۱۱۳۷ هـ)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk




**د ملي قايد ميرويس نيكه وراره چې د اعليحضرت شاه محمود تر مرگ وروسته د اصفهان پر تخت كښيناست.**

**(۱۱۴۲ ه وفات)**

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



سلطان حسین صفوي

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د قندهار زوړ ښار د غره پر سر

Courtesy www.pdfbooksfree.pk




شاہ اسمعیل صفوی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



د ملي زعيم میرویس نیکه هدیره په کوکران کې

# Mirwais Neekah

PAKISTAN VIRTUAL LIBRARY
www.pdfbooksfree.pk

By:
Abdul Raouf Benawa

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني
VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V
د خپرونو لړ (۷۴)